مضمون فهرست صفحه

سريزه د مؤلف لخوا:...8
د سنتو اتباع: 10
د رسول الله ﷺ د سنتونو د عملي كولو فايدې: 13
د رسول الله ﷺ سره د محبت كولو فايدې : 13
د رسول الله ﷺ سره د محبت نخښې: 16
د رسول الله ﷺ حقوق: 17
د نبي ﷺ د هوښيارۍ واقعه:...18
تر ټولو ستر بخالت:..20
د درود شريف خواص او ګټې:..22
د احاديثو د مشهور كتابو او امامانو پيژندنه : 25
د صحيح بخاري دمؤلف امام بخاري رحمه الله لنډه پيژندنه:..........................25
د صحيح مسلم د مؤلف امام مسلم رحمه الله لنډه پيژندنه : 27
دجامع الترمذي دمؤلف امام ترمذي رحمه الله لنډه پيژندنه : 28
د ابو داؤد د مؤلف امام ابو داؤد رحمه الله لنډه پيژندنه : 29
د سنن نسائي د مؤلف امام نسائي رحمه الله لنډه پيژندنه : 30
د ابن ماجه د مؤلف امام ابن ماجه رحمه الله لنډه پيژندنه :.........................31

د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله لنډه پيژندنه :..31
د امام احمد رحمه الله لنډه پيژندنه :..32
د امام مالک رحمه الله لنډه پيژندنه :..33
د عمل قبلېدل په نيت پوري اړه لري :..34
د دين مراتب : اسلام، ايمان او احسان :..38
د اسلام پنځه ارکان:..41
اخري خاتمه سعادت او شقاوت:..43
دين نصحيت دی څه معنی ؟...46
کوم شيان د اسلام عزت له مېنځه وړي:..48
د امين او صادق تجار فضيلت :...49
د ذکر فضائل :..49
د مسلمان صفت :..51
الله تعالی له مهربانۍ مور څخه زيات مهربان دی:...52
د لمانځه اهميت :..54
غوره خلک هغه دي چي د الله تعالی په لار کي جهاد کوي :.......................................55
جهاد ډير غوره عمل دي :...55
د مسلمان حرمت:...56
د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت :..57

ابو ذر رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم نصائح: 58
د ابو طالب په مړینه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژړا : 61
د عالم الدین قدر : 63
قران کریم اطمینان او خشوع ده : 64
د نېک عمل په کولو سره نجات موندل : 66
دنیا د مومن لپاره څنګه بندیخانه ده ؟........................... 69
توبه کونکی قاتل : 70
موسکا (خندا)کول : 73
په دسترخوان یو ځای غذا خوړل : 73
ګاونډیانو ته خوراک ورکول : 74
الله تعالی ته پاک شی د قبول وړ دي :........................... 75
هغه څه پرېږده چې تا په شک کې اچوي: 76
د بې ګټې شیانو پرېښودل : 77
د ایمان او اسلام وروڼه : 78
په نبي صلی الله علیه وسلم قران نازلیدل او خلک اسلام ته رابلل : 79
د یوه صحابي څو پوښتنې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځوابونه : 82
د نبي صلی الله علیه وسلم پوښتني او د صحابه کرامو ځوابونه:........................... 85
د مسلمان د وینې حرمت : 87

د خاوند د ورور سره د ښځې د ستر حکم :...89
د ژبې د ساتنې اهميت :...90
په دم او تعوهذ سره شِفاء موندل:..91
د مرابط مجاهد اجر:..94
د عرش د سيوري وړ کسان :...96
د خديجې رضي الله عنها واده :...99
د ذي امر غزا :...101
د قهر او غصې په کابو کولو د جنت زېرى :..102
د جهاد ترک د ذلت او عذاب سبب ګرځي :..105
د قران الکريم د تلاوت ثواب:...106
احسان او ښه کول :...107
د جمعې په ورځ غسل کول سنت دى:...108
نيکي بدي له مينځه وړي (څو مهم وصيتونه):...109
حياء او شرم د بدو کارونو پر وړاندي کلک دېوال:.......................................114
په خپل ايمان کلک درېدل :...115
د جنت لاره :...116
خبر جامع :..117
په هغو وروڼو پسي مي ژاړم چي زه يې نه يم ليدلى:..................................120

که غوارې چه ثابت قدمه ووسې : 121
د ظلم حرمت او نصيحت : 125
د اذکارو ويل او د خير خيره صدقه ده : 130
مسنونه اذکار صدقه د بدن شکرانه ده: 132
د نيکۍ او ګناه نښي: 134
شهرت طلبي او د هغې سزاء: 136
د صبر کولو فضيلت: 137
د ګناه سره سره د دنيا نعمتونه او په عيش کي ژوند استدراج دی: 138
د سنتو د متابعت په باره کي د ټينګار وصيت: 140
لمونځ د اسلام ستنه او جهاد يې لوړه څوکه ده : 143
په کومو شيانوکي چي شريعت سکوت کړی وي په هغه کي بحث مه کوئ: .146
د دنيا د ډيرولو مينه د ټولو بدبختيو بنسټ دی: 148
ځان او بل ته ضرر رسول حرام دي: 151
دوه مخی سياست: 152
په اسلام کي د قضاء بنسټ: 153
د مؤمن سره د مرستي او پردې لويه بدله: 154
د ژوند د روابطو اصول : 157
د الله تعالی محبت د خپل دوست سره : 161

رښتیا ویل او صداقت :..163
غوره اسلام او کامل مسلمان:..164
د لا اله الا الله، وحده لا شریک له، له الملک وله الحمد ذکر:..166
په اسلام کي سختي او حرج نشته:..167
په دنیا کي د مسافر په شان ژوند تېرول:..168
په خپل کور سلام کوه :..169
خپل ماشومان د اوه کلنۍ بعد په لمانځه امر کړئ:..170
د ظلم څخه زان وساتئ:..172
د غمځپلي انسان لپاره دعاء!..173
د سخاوت تر ټولو ستر معیار:..174
مسکین تش لاس نه لېږل :..174
د پنده څخه ډکې خبرې:..175
صدقه د مسلمان لپاره د قیامت په ورځ سایه ده:..176
دنسب تبدیلول حرام دي:..178
دعلماؤ توهین او سپکاوی کفر دی:..179
له جهنم نه د ځان ساتني خویونه:..183
تقاریض او تصدیقات:..184
«تقریض»..184

«تقريض»..185
«تقريض»..186
«تقريض»..187

د فهرست پای

سريزه د مؤلف لخوا:

اَعُوذُبِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

اَلْحَمْدُ للهِ عَلَى فَضْلِهِ الْعَمِيْمِ ، وَالصَّلاةُ وَالسَّلامُ عَلَى نَبِيِّهِ الْكَرِيْم ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ ذَوِي الْفَضْلِ الْجَسِيْم.

قال الله عز وجل : ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾ .

(الأحزاب آيتـ٢١).

ژباړه : په تحقیق دي ستاسي لپاره د الله تعالی په رسول (محمد صلی الله علیه وآله وسلم) کښي د نیکۍ خورا غوره خویونه ، د هر هغه چا لپاره چي د الله تعالی او آخرت د ورځي هیله من وي او هغوی الله تعالی ډېر ډېر یادوي.

زما د اسلام او پاک مذهب (حنفي) معززو ورونو !

داچي أكثر ليكوالان لګیا وه د پوهانو پخې وېناوي یې راټولولي تر څو له هغوي څخه د ژوند په اوږدو کي ګټه واخلي خپل شخصي ، إجتماعي او کورني کړه وړه د هغوي په رڼا کښي منظم کړي ، خو حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم چي د کوم عقل او پوهي څښتن وو د نړۍ پر مخ یې بل هیڅ سیال نشته ، دده پخې وېناوي د مذهبي ارزښتونو تر څنګ شخصي ، اجتماعي ، او سیاسي ارزښت هم لري ، ځکه چي د حضرت محمد عربي صلی الله

عليه وآله وسلم ټوله وينا وي د الهي وحيو يوه ټولګه ده ، هيڅ يـو داسي سالم عقل نسته چي په دې وينا و کي نيمګړتيا په ګوته کړي. نو ومي غوښتل چي دا د فصاحت او بلاغت ملغلري په خوږه پښتو ژبـه وژبـاړم تـر څو د محبوب محمد عربي صلى الله عليه وآله وسلم د ملغلرو څخه مسلمه أمت آسانه أخذ وکړي او زموږ لپاره د ثواب ذريعه شي.

ستاسي د دعاء په هيله:

أبوالزَين حكيمُ الله صابِر الحنفي

د سنتو اتباع:

هغه مهم شی چي مؤمن مسلمان په ورځني ژوندانه کي بايد ډېره زياته پاملرنه ورته وکړي او په ټولو حرکاتو، سکناتو، خبرو او کارونو کي يې عملي کړي، هغه د نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم سنت عمل دی، تر داسي حده، چي ټوله ژوند د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم پر سنتو باندي له سهار څخه تر ماښامه پوري جوړ کړي.

ذوالنون مصري رحمه الله ويلي دي: د الله جل جلاله سره د محبت د علامو څخه يوه دا ده، چي انسان د نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم متابعت په هر کار، وينا، اخلاقو، امرونو او په ټولو سنتو کي وکړي.

الله جل جلاله فرمايي: ﴿قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾.

(آل عمران آيت ـ ۳۱).

ژباړه: ورته ووايه، ای رسوله! صلی الله عليه وآله وسلم که تاسو د الله جل جلاله سره محبت کوونکي ياست، نو زما (رسول صلی الله عليه وسلم) متابعت وکړئ، الله جل جلاله به محبت درسره وکړي او ستاسو ګناهونه به وبخښي او الله جل جلاله غفور او رحيم ذات دی.

حسن بصري رحمة الله عليه فرمايلي دي: د نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم د سنتو سره متابعت کول د الله جل جلاله سره د محبت علامه ده.

له همدې امله د مؤمن مقام د نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم د سنتو د پیروۍ او متابعت پر اساس معلومیږي ،که یو مسلمان هر څونه د نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم سنتونه دخپل ژوند په چارو کي عملي کړي، نو د الله جل جلاله په نزد به د لوړي مرتبې او درجې مقام ولري.

نو دا وړوکې رساله مي په مسلمانانو کي د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم د سنتو د را ژوندي کېدو په خاطر را جمع کړه. (بتوفيق الله)

نبي صلى الله عليه وآله وسلم فرمايلي : «مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِي عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِي فَلَهُ أَجْرُ مِائَةِ شَهِيدٍ» .

(الزهد الكبير للبيهقي، بيروت ، جـ١ صـ١١٨ رقمـ٢٠٨).

ژباړه : چا چي زما په سنتو منګولي ولګولې په وخت د فساد کښي نو دلره د سلو شهيدانو ثواب دی.

اې مسلمانه، فکر وکړه! که چيري زموږ څخه يو څه اندازه پيسې ورکي سي، نو به څومره غمجن او ناکراره سو او د هغه د پيدا کولو لپاره به څونه کوښښونه وکړو؟ دا چي د نبي صلى الله عليه وآله وسلم څونه بې حسابه سنتونه زموږ په ژوند کي را څخه پاته سوي دي؛ ايا د هغوی د عملي کولو لپاره مو په خپل ژوند کي کوښښ کړی دی ؟! د هغه ګناهونو څخه چي موږ په ورځني ژوندانه کي په مشغوله يو ، موږ داسي حالت ته رسېدلي يو ، چي د نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم تر سنتو درهم او دينار ډېر د عزت وړ را ته

ګرځېدلي دي ، که خلکو ته وویل سي، چي که چا د نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم یو سنت عملي کړ، نو هغه ته به دومره اندازه پيسې ورکړو، په داسي حال کي بهووینو، چي په دې وخت کي مسلمانان د سنتو د عملي کولو لپاره د خپل ژوندانه په چاروکي څونه کوښښونه کوي، چي عملي يې کړي؛ ځکه د هر سنت پر عملي کولو باندي د ه ته پيسې ورکول کېږي، ستا به دا مال په څه درد وخوري، چي کله دي په قبر کي کښېږدي او خاوري در باندي واچوي؟!.

الله جل جلاله فرمايي: ﴿بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى﴾.
(الأعلى: آيت۱۶، ۱۷).

ژباړه: مګر تاسي د دنيا ژوند ته لومړيتوب ورکوی په داسي حال کي چي آخرت بهتره او همېشه دی.

ما په دې رساله کي له سنتو څخه موخه هغه سنت دي، چي عمل په کوونکی يې د ثواب مستحق ګرځي او دا هغه سنت دي، چي په ورځ کي په تکراري ډول د هر انسان مخ ته راځي او په موږ کي هر يو کولای سي چي هغه ترسره يې کړي، په تحقيق سره که چېري هر انسان د خپل ژوندانه په ورځنيو چارو کي د نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم د سنتو پر عملي کولو باندي کوښښ وکړي، بېشکه چي هغه به په خپل ژوندانه کي په زرګونو سنتونه عملي کړي وي.

د رسول الله ﷺ د سنتونو د عملي کولو فايدې:

اول: د الله تعالی د محبت ودرجې ته رسېدل او د الله تعالی محبوب ګرځېدل.

دويم: د هغه تاوان پر ځای به ودرېږي، چې ده په فرايضو کې کړی وي.

دريم: د بدعت سيئه له واقع کېدلو څخه به پاک (خلاص) وي.

څلرم: د سنتو عملي کوونکی بـه د الله تعالی د شعائرو پـه عزت کوونکو کې حساب سي.

د رسول الله ﷺ سره د محبت کولو فايدې:

د نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم سره محبت کول د ايمان د خوندو سبب دی، ځکه نبي صلی الله عليه وآله وسلم فرمايي: "ثَلاَثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلاَوَةَ الإِيمَانِ: أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، وَأَنْ يُحِبَّ المَرْءَ لاَ يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ، وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ" .
(صحيح البخاري، بابُ حلاوةِ الإيمان جـ١ صـ١٢ رقمـ١٦).

١: په چا کې چې درې شيان پيدا سي هغه به د ايمان په خوند پوه سي.

٢: الله جل جلاله او د هغه رسول عليه السلام تر ټولو شيانو ورته ګران وي.

٣: د هر چا سره مينه يوازې د الله جل جلاله لپاره کوي.

۴ :دويم ځلي كفر دومره ورته سخت وي لكه يو څوک چي په اور كي اچول كيږي .

د ايمان د خوند څخه مطلب علماؤ دا ښودلی دی ، چي كه چيري يو څوک دالله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله عليه وآله وسلم سره تر بل هر چا او هر شي زياته مينه ولري نو هغه ته به د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله عليه وآله وسلم تابعداري ډېر خوند وركوي ، عبادات به په ډېر شوق او خوند سره كوي د دين په خاطر به تكليفونه برداشتوي او خپل ځان ،مال او اولاد به د الله جل جلاله په لار كي بېله ځنډه قربانوي .

۵ : څوک چي د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سره محبت كوي هغه به د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم سره په اخرت كي يو ځای وي، د انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړي و رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته راغلی او ورته وې ويل : چي يا رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم قيامت څه وخت دی ؟!.

رسول الله ﷺ په جواب كي ورته وويل : چي تا د قيامت د ورځي لپاره څه امادګي نيولې ده ؟! هغه صحابي ورته وويل : چي نوره امادګي خومي نه ده نيولې خو د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ سره ډېره مينه لرم ، نو رسول الله ﷺ په جواب كي ورته وويل : «فَإِنَّكَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ» .

(صحيح مسلم ،جـ۴ صـ۲۰۳۲ رقمـ۲۶۳۹) .

يعني ته به د قيامت په ورځ د هغه چا سره يوځای سې چي ور سره مينه لري،
حضرت انس رضي الله عنه وايي چي موږ د اسلام راوړلو څخه وروسته په بل هيڅ شي دومره نه وو خوشحاله سوي څومره چي د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په دې خبره باندي خوشحاله سوو.
حضرت انس رضي الله عنه زياتوي چي الله جل جلاله د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم د ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهم سره زياته مينه لرم او اميد لرم چي په اخرت کي به د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د قول مطابق د هغو سره يوځای يم، که څه هم د هغو په پرتله نېک اعمال نه لرم.
د پورتني روايت او نورو رواياتو څخه دا خبره ښکاره سوه چي يو څوک د حضرت رسول الله ﷺ سره حقيقي محبت لري نو هغه به په اخرت کي د سرورکائنات سره يوځای وي او همدا راز د الله جل جلاله د دوستانو سره مينه درلودل هم د هغو سره په اخرت کي د يوځای والي سبب دی.
اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبَّكَ وّحُبَّ الْعَمَلِ الَّذِي يُقَرِّبُنَا إِلَى حُبِّكَ.

د رسول الله ﷺ سره د محبت نخښې:

علماؤ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره د محبت کولو ډېرې نخښې بیان کړې دي چې لنډیز یې دا دی:

په دنیا او اخرت کې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دلیدلو هیله لرل د رسول الله ﷺ څخه خپل ځان ، مال اولاد ټوله قربانول.

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د ټولو اوامرو تعمیل او دهغه د ټولو نواهیو څخه په کلکه ځان ساتل.

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پر ټولو سنتو باندې عمل کول او په مقابل کې یې د بدعت سیئه څخه ځان ساتل .

د سول الله صلی الله علیه وآله وسلم پر شریعت باندې عمل کول او د اسلامي شریعت څخه په کلکه دفاع کول .

د رسول الله ﷺ حقوق:

پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي د ایمان راوړلو څخه وروسته د هغه کامل اطاعت کول.

د ژوند په ټولو چارو کي د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم کامل متابعت کول.

د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره تر الله عزوجل را وروسته تر هر چا او هر شي زيات محبت کول.

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پر سنتو باندي کامل عمل کول.

پر رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم باندي زيات درود ويل.

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم لپاره وسيله (يوه درجه ده په جنت کي) غوښتل (د اذان په دعاء کي).

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د پاکو بي بي ګانو درناوی کول.

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د اهل بيتو سره محبت کول.

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د صحابه کرامو سره محبت درلودل.

نو په دې اساس د ټولو مسلمانانو لپاره ضروري ده چي د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم سره حقيقي محبت ولري او د هغه سره د محبت دروغجني دعوې ونه کړي.

پاملرنه !دا خبره هم دیادوني وړ ده چي د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم او د هغه د اهل بیتو سره په محبت کي باید د اسلامي شریعت د اعتدال د لاري څخه څوک وانه وړي.

د نبي صلى الله عليه وسلم د هوښیارۍ واقعه:

په عوارف المعارف کی لیکلي دي چي د عقل ټولي سل حصې دي، په دې کي یو کم سل حصې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره دي او صرف یوه حصه د دنیا د ټولو عاقلانو، پوهانو او علماؤ کي کرځي: یو وخت یو سړی رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته راغلی او ورته یې وویل: چې زه اسلام قبلوم مګر په ما کي څلور عادتونه دي او په دې څلورو عادتو کي صرف یو عادت پریښودلی سم. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پوښتنه ځیني وکړه چي هغه کوم عادتونه دي؟

هغه سړي وویل:

(۱) زه شراب چیښم.

(۲) زنا کوم.

(۳) غلا کوم.

(۴) درواغ وایم.

په دې کې يو عادت پر يښودلای سم، که چيرې زما اسلام قبول وي نو زه مسلمان کيږم، رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ورته وفرمايل: چې دروغ مه وايه، يعني دا يو عادت پريږده! نو هغه سړي ويل صحي دی اسلام يې قبول کړ او د دروغو نه ويلو وعده يې وکړل، د شپې يې شرابو ته شوق وسو، نو سوچ يې وکړی، که چيرې سبا رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په مجلس کې پوښتنه وکړي، چې شراب دې څښلي دي او که نه؟!.

که چيرې ووايم چې هو، نو رسوا به سم، ټول خلک به را باندې بد رد وايي او که چيرې ووايم چې نه، نو دروغ به لازم سي نو شراب يې پريښودل، بيا هغه ته د زنا شوق پيدا سو ليکن بيا يې دغه سوچ پيدا سو، که چيرې سبا زما څخه پوښتنه وسوه نو څه جواب به ور کوم، که چيرې اقرار کوم، نو د شرم او دښمنۍ بيره ده او که انکار کوم نو دروغ لازميږي نو زنا يې هم پريښودل، همدا رنګه د شپې هغه د غلا کولو سوچ وکړی ليکن بيا ورته هغه سوچ پيدا سو، که اقرار کوم نو د شرم او د جنګ بيره ده او که انکار کوم نو دروغ لازميږي، همدا ډول دې سړي ټول خراب عادتونه پريښودل او سهار رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته خندا کوونکی راغي چې يا رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم تاسی دا سې علاج راته وښودی چې ټول ګناهونه مې پريښودل.

تر ټولو ستر بخالت:

الله جل جلاله نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم ته پر نورو انبياؤ عليهم الصلاة والسلام په ډيرو وجوهاتو غوره والی ورکړی دی خو موږ دلته د نمونې په ډول پر نورو انبياؤ عليهم و السلام د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم پر يوه بهتري او غوره والي باندي اکتفا کوو.

الله جل جلاله فرمايي: ﴿إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾. (الاحزاب: آيت۵۶).

ژباړه: بېشکه الله جل جلاله او فرشتې د الله جل جلاله پر نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم درود وايي، اې ايمان والاؤ! پر نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم باندي درود او سلام ووايئ.

دهمدې ايت مبارک څخه ښه واضحه سوه چي درود شريف زموږ مؤمنانو لپاره څومره ضروري امر او عظيم تأکيد دی، دا چي د درود شريف د ويلو فضيلت نور هم تاسو ته معلوم سي پدې اړه د پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم و مبارکو احاديثو ته مراجعه کوو:

اول: حضرت ابو ذر رضي الله عنه فرمايي: چي زه يوه ورځ د کور څخه د باندی راووتلم او د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په خدمت کښې حاضر سوم

هغه صلی الله علیه وآله وسلم را ته وفرمایل: چي آیا تاسو ته تر ټولو بخیل سړی ونه ښیه یم؟!.

صحابه کرامو رضي الله عنهم وویل: یا رسول الله ﷺ ضروریې را ته وښیه، را ته ویې فرمایل: د چا په مخ کي چي زمانوم ذکر سي او پر ما باندي درود شریف ونه وایې نو دا سړی په ټولو خلکو کښي بخیل دی.

(الترغیب والترهیب جـ۲ صـ۱۷۰)

دویم: حضرت ابی ابن کعب رضي الله عنه فرمایي: چي ما د نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم څخه پوښتنه وکړه: زه په تاسو ډیر درود لیږل غواړم، نو ما چي د ذکر او دعاء لپاره څومره وخت مقرر کړی دی د هغه وخت څخه په کومه اندازه وخت یوازي د درود شریف لپاره مقرر کړم؟!.

رسول الله ﷺ را ته وفرمایل: څومره چي ستا خوښه وي ما ورته وویل چي: څلورمه حصه د مقرر وخت څخه د درود شریف لپاره تعین کړم؟!.

نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم را ته وفرمایل: څومره چي ستا خوښه وي که ته تر دغه زیات وخت ورکړې دا به ستا لپاره بهتره وي ما ورته وویل: که د تعین سوي وخت د درو برخو څخه دوې برخي ورکړم ؟! را ته ویې فرمایل: څومره چي ستا خوښه وي خو که ته دا زیات کړې دا به ستا لپاره بهتره وي ما وویل: چي بیا زه ټول وخت پر تاسو ددرود شریف ویلو لپاره

خاصوم! نبي کريم صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل: بیا به ستا د هر حاجت کفایت وکړل سي او ستا هره ګناه به معاف کړل سي.
(اخرجه احمد کذا فی کنز العمال جـ۱ صـ۲۱۵).

دریم: حضرت عمر رضي الله عنه فرمایلي دي: چي د یو بنده دعاء تر هغه وخت پوري د مځکي او اسمان تر مینځ معلقه (زوړنده) وي یعني دقبلیدو لپاره نه پورته کیږي تر څو پر نبي کریم ﷺ یې درود نه وی لیږلی.
(رواه ترمذي).

د درود شریف خواص او ګټي:

د درود شریف ګټي بې شمېره دي مګر کومي ګټي چي په صحیح حدیثونو کي روایت دي دلته به یې په مختصر الفاظو ولیکم تر څو پوره پوره ګټه تر لاسه سي:

1: کوم څوک چي یو ځل درود شریف پر رسول الله صلی علیه وآله وسلم باندي ووایي نو الله تعالی او ملائکي پر هغه کس باندي لس ځله رحمت کوي او د هغه کس لس درجې لوړوي او لس نیکیاني ورته لیکي او لس ګناهونه یې معافوي.

2: د درود ویونکي دعاء قبلیږي.

3: رسول الله صلی علیه وآله وسلم یې شفاعت کوي.

4: د قیامت په ورځ به د رسول الله صلی علیه وآله وسلم سره وي.

5: د دين او دنيا کارونه يې تر سره کيږي.

6: د ګناهو بخښنه کيږي.

7: درود شريف ويل د صدقې قائم مقامه دی.

8: د درود شريف په برکت سره سختي او تکليف ليري کيږي.

9: پر درود ويونکي ملائکي هر وخت رحمت نازلوي.

10: د درود ويونکي د زړه صفائي کيږي.

11: پر دښمن باندي فتح تر لاسه کيږي.

12: په مال کي برکت لويږي.

13: د مرګ د سختيو څخه خلاصون په برخه کيږي.

14: د قيامت په ورځ به په امن کي وي.

15: مفلسي ليري کيږي.

16: د درود شريف ويونکي بخيل کيږي نه.

17: په کوم مجلس کي چي درود شريف ويل کيږي نو د هغه مجلس ټول غړي د الله تعالی په رحمت کي وي.

18: درود ويونکی به پر پل صراط باندي په آساني سره تير سي.

19: د درود ويونکي يادونه رسول الله صلی عليه وآله وسلم ته کيږي.

20: د رسول الله صلی عليه وآله وسلم مينه د درود ويونکي سره زياتيږي.

21: ملائکي د درود ويونکي لپاره د الله تعالی څخه بخښنه غواړي.

22: رسول الله صلی علیه وآله وسلم ته د هغه چا درود داسي رسيږي چي فلانی پر تا سلام وايي.

23: درود ويونکی به د درود په برکت سره د عرش تر سايې لاندي ولاړ وي.

24: د درود ويونکی د عملو تله به د قيامت په ورځ درنه وي.

25: درود ويونکی به د قيامت په ورځ د تندي څخه خوندي وي.

الله تعالی دي موږ ټولو ته د درود شريف ويلو توان را کړي او د دغه په برکتو سره دي موږ ونازوي.

آمين.

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ.

د احاديثو د مشهور كتابو او امامانو پيژندنه :

د صحيح بخاري دمؤلف امام بخاري رحمه الله لنډه پيژندنه:

اول : صحيح البخاري : صحيح البخاري كې ټول صحيح احاديث جمع شوي دي په همدې وجه صحيح البخاري بلل كيږي ، صحيح البخاري د قرآنكريم څخه وروسته دصحت مرتبه لري ، دا كتاب امام بخاري رحمه الله تأليف كړى دى ، دامام بخاري صاحب نوم محمد دى د اسماعيل زوى او د بخارا اوسيدونكى وو ، دى د خپلې زمانې يو تكړه عالم او د قوي حافظې څښتن وو ، امام بخاري رحمه الله د احاديثو امام او شيخ وو چې نور تأليفات هم لري ، ده په كوچنې والى كې قرآنكريم حفظ كړ بيا يې په (١٨) كلنى كې حج ادا كړ وروسته په مكه شريفه كې استوګن شو او د احاديثو په زده كولو لګيا شو ، شپږ كاله يې په مكه مكرمه كې تير كړل او بيا يې مصر ، شام ، كوفې ، بغداد او نورو ځايونو ته سفرونه وكړل ، لنډه دا چې په هر ځاى كې به چه كوم عالم ته د نبى صلى الله عليه وسلم كوم حديث ياد وه ، امام بخارى رحمه الله به سمدستي ورپسې لاړ او حديث به يې ترې زده كړه ، امام بخارى رحمه الله د يو زرو نه زياتو استاذانو څخه حديثونه ياد كړل ، چه امام احمد رحمه الله او على د عبدالله مدني رحمه الله زوى هم د امام بخاري له استاذانو څخه شميرل كيږي ، امام بخارى رحمه الله د نبوى احاديثو حافظ ؤ او د شپږو لكو (٦٠٠٠٠٠) حديثونو څخه يې چه د ده په ياد وو ، معتبر احاديث د جامع بخاري په كتاب

کې و لیکل ، د جامع بخاري کتاب د امام نووي رحمه الله په قول تقریباً (۷۲۲۷) احادیث لري ، مګر د حافظ ابن حجر رحمه الله په قول (۷۳۹۷) حدیثونه لري ، چې د فصلونو شمیر یې (۵۴۵۰) بابونو ته رسیږي، هرکله به چې امام بخاري رحمه الله غوښتل چه په جامع بخاري کې کوم حدیث ولیکي ، نو د حدیث په اسنادو کې د تحقیق کولو بر سیره به یې د شپې له خوا استخاره کوله ، بیا به یې د حدیث په هلکه د مطلوبې نتیجې تر لاس ته راوړلو وروسته غسل او دوه رکعته نفل لمونځ وکړ . بیا به یو ځانته ځای کې کښیناست او په ادب او ډیر احترام سره به یې هغه حدیث د بخاري شریف په کتاب کې ولیکه ، امام بخاري رحمه الله یو عالم ، متقي ، او مجتهد سړی ؤ چه په زرګونو شاګردان یې درلودل ، وایي چې کله د وخت پاچا د امام (رحمه الله) څخه وغوښتل چې زامنو ته مې زما په کور کې درس ووایه نو امام (رحمه الله) په ځواب ورته وویل : چه زه د چا کور ته د درس ورکولو د پاره نشم تلای بلکې خلک باید د زده کړې لپاره زما کور ته راشي ځکه چې داسې کول د علم او دیني عالم اهانت دی ، له دې امله پاچا په قهر شو او امام بخاري رحمه الله هم له بخارا څخه سمرقند ته لاړ او هلته یې استوګنه غوره کړه، امام بخاري رحمه الله چه په ۱۹۴ هجري قمري کال کې په بخارا کې زیږیدلی ؤ د ۶۳ کلونو په عمر په ۲۵۶ هجري قمري کال د کمکې اختر په ورځ د ماسپښین د لمانځه وروسته وفات او خاورو ته وسپارل شو (إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ راجِعُونَ).

د صحیح مسلم د مؤلف امام مسلم رحمه الله لنډه پیژندنه :

دویم : صحیح المسلم : صحیح مسلم د بخاري شریف څخه وروسته د احادیثو دوهم معتبر کتاب دی چې صحیح احادیث پکې جمع شوي دي ، هغه احادیث چې په بخاري او مسلم دواړو کې راغلي وي د متفق علیه په نوم یادیږي ، د مسلم شریف کتاب مسلم د حجاج زوی لیکلی دی ، امام مسلم رحه الله د قشریه په نوم د عربو د یوې مشهورې قبلې څخه وو ، امام مسلم رحمه الله د احادیثو پیاوړی حافظ ، عالم او پرهیزګار شخص وو ، نومړی وایې چه ما دا کتاب د دریو لکو احادیثو څخه انتخاب کړ ، د دغه کتاب د غیر مکرر احادیثو شمیر تقریباً څلورو زرو ته رسیږي ، مسلم صاحب په ۲۰۴ کال کې زیږیدلی او په نیشاپور کې په ۲۶۱ هجري قمري کال کې وفات شوی دی .

دجامع الترمذي دمؤلف امام ترمذي رحمه الله لنډه پيژندنه :

دريم : جامع الترمذي : دا کتاب د صحاح سته شپږو صحيحو کتابونو څخه يو کتاب دی چې د ځينې په نزد دريمه او د ځينو په نزد څلورمه مرتبه لري، په دغه کتاب کې د څلورو واړو مذهبونو بيان شوی دی ،دا کتاب امام ترمذي رحمه الله ليکلی دی چې نوم يې محمد او د پلار نوم يې عيسی دی .

امام ترمذي صاحب په ۲۰۹ کال کې زيږيدلی او په ۲۷۹ هجري قمري کال کې د ازبکستان د ترمذ په ښار کې وفات شوی دی ، استاذان يې امام بخاري ، قتيبه بن سعيد ، محمود بن غيلان او محمد بن بشار رحمهم الله او نور ؤ او له ده څخه ډيرو شاګردانو زده کړه کړې ده، امام ترمذي صاحب پر جامع ترمذي بر سيره نور تأليفات هم لري ، امام بخاري رحمه الله چې د ترمذی استاذ دی د ده په هکله وايي : ما له تا څخه دومره زياته فائده واخيسته چه تا به له ما څخه هومره اخيستی نه وي له دې څخه څرګنديږي چه امام ترمذي صاحب اوچت او پرهيزګاره او د ښې حافظې څښتن ؤ.

د ابو داؤد د مؤلف امام ابو داؤد رحمه الله لنډه پيژندنه :

څلرم : ابو داؤد : دا کتاب د شپږو مشهورو کتابونو څخه د احاديثو څلورم کتاب دی چې دا کتاب سليمان د اشعث سجستاني زوی ليکلی دی . .سليمان په ۲۰۲ هجري قمري کال کې زږېدلی او په ۲۷۵ هجري قمري کال د ۷۳ کلونو په عمر د عراق په بصره کې وفات شوی دی . نومړی په نبوي احاديثو د تحقيق او غور کولو لپاره د عراق ، افغانستان ، شام (سوريه) ، مصر او نورو ځايونو ته سفرونه کړي دي . امام ابو داؤد رحمه الله د (۵۰۰۰۰۰) پنځو سوو زرو احاديثو څخه چې په ياد يې وو څلور زره (۴۰۰۰) حديثونه انتخاب کړي يا په بل روايت (۴۸۰۰) حديثونه د ابو داؤد رحمه الله په کتاب کې يې ليکلي دي امام سيلمان رحمه الله له مشهورو عالمانو لکه : امام بخاري رحمه الله ، امام مسلم رحمه الله ، امام احمد رحمه الله ، قتيبه بن سعيد رحمه الله او نورو څخه احاديث زده کړل او پخپله يې هم ډير شاګردان وروزل ، امام سليمان صاحب ښه محقق او پرهيزګاره عالم وو چې د احاديثو په سندونو کې ډير دقت کاوه ، ده خپل کتاب امام احمد رحمه الله د کتنې لپاره وړاندې کړ هغه د ده کتاب خوښ او وستايه .

د سنن نسائي د مؤلف امام نسائي رحمه الله لنډه پیژندنه :

پنځم : سنن نسائي : دا کتاب هم د ابوداؤد رحمه الله څخه وروسته د احادیثو مشهور کتاب دی ، دا کتاب احمد بن شعیب بن علي نسائي رحمه الله لیکلی دی چې د پخواني خراسان په یو ښار کې چې نسا نومیده په ۲۵۱ هجري قمري کال کې زیږیدلی او ۳۰۳ کال کې وفات شوی دی، دده لقب چې نسائي دی د نسا ښار ته منسوب شوی دی ، احمد بن شعیب بن علي نسائي رحمه الله یو پرهیزګاره سړی وو، لومړی تألیف یې سنن کبریٰ ؤ چې د سیمې د امیر د امر سره سم یې صحیح احادیث جلا کړل وروسته هغه د سنن صغریٰ په نوم کتاب کې خلاصه او د المجتبیٰ کتاب په نوم یې و نومولو ، تر هغه وروسته یې سنن نسائي د امام بخاري او مسلم رحمهم الله په ترتیب تألیف کړ .

د ابن ماجه د مؤلف امام ابن ماجه رحمه الله لنډه پیژندنه :

شپږم : سنن ابن ماجه : دا کتاب د احادیثو شپږم مشهور کتاب سنن ابن ماجه دی ، دغه کتاب د امام محمد د یزید ربعی رحمه الله زوی لیکلی او ځینې علماء وایي چې ماجه د ده د مور نوم دی ، نوموړی په ۲۰۹ کال کې پیدا او په ۲۷۳ کال وفات شوی دی ، دا احادیثو د طلب او زده کړې لپاره یې ډیرو ځایونو لکه : عراق ، سعودي او مصر ته سفرونه کړي ؤ ، دا کتاب تقریباً څلور زره احادیث لري او د تفسیر او تاریخ ځینې نور تألیفات یې هم کړي دي.

د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله لنډه پیژندنه :

اووم : مسند أبي حنیفه : دا د نبوي احادیثو د مسانید څخه د احادیثو یو معتبر مسند دی چې احادیث یې د أبي حنیفه رحمه الله څخه روایت شوی او حافظ ابو نعیم رحمه الله تألیف کړی دی، امام ابو حنیفه رحمه الله چ اصلي نوم یې نعمان ، کنیت یې ابو حنیفه د پلار نوم یې ثابت ؤ ، د هجرت په ۸۰ کال د عراق د کوفې په ښار کې زیږیدلی دی ، د امام صاحب د پلار اصلي وطن افغانستان دی ، امام ابو حنیفه رحمه الله د څلورو ائمه رحمهم الله له ډلې څخه د حنفي مذهب امام دی ، او امام ابو حنیفه رحمه الله د احادیثو او مذاهبو د ټولو ائمه کرامو رحمهم الله څخه مشر محدث او فقهي دی چې د أنس او جابر رضي الله عنهما سره یې اتفاقاً ملاقات شوی دی.

د امام احمد رحمه الله لنډه پيژندنه :

اتم : مسند أحمد : دا د نبوي احاديثو يو مشهور كتاب دی چي د امام احمد رحمه الله لخوا تأليف شوی دی ، د تكرار سره تقرباً (۴۰۰۰۰) احاديث او د تكرار پرته (۳۰۰۰۰) احاديث لري ، د امام نوم احمد د محمد بن حنبل زوی په ۱۶۴ هجري قمري كال د مروې په ښار كې پيدا شوی او په ۲۴۱ كال كې د ۷۷ كلونو په عمر په بغداد كي وفات شوی دی ، امام احمد رحمه الله په كوچنيتوب كې د پلار د نعمت څخه محروم شوی ، چي د نومړي يتيم په علمي روزنه كي د هغه مور ډير زيار گاللی دی ، ويل كيږي دی به ډير كوچنی وو د جماعت او د تعليم لپاره به يې غوښتل ډير وختي جومات ته لاړ شي خو مور به يې ورته ويل دومره انتظار وكړه چي خلك جومات ته راشي ځكه چي دی كوچنی ماشوم وو ، امام د احاديثو د طلب لپاره ډيرو ځايونو ته سفرونه كړي دي ، امام احمد رحمه الله د څلورو ائمه رحمهم الله له ډلي څخه د حنابله مذهب امام دی .

د امام مالک رحمه الله لنډه پیژندنه :

نهم:موطأ امام مالک: دا هم د نبوي احادیثو یو معتبر کتاب دی د موطا معنی ده آسانه او مختصر ، دا کتاب آسانه او خلص ترتیب شوی دی نو ځکه موطا ورته وایي، موطا امام مالک د بخاري او مسلم څخه مخکي تألیف شوی دی چې زیات شمیر صحیح احادیث پکي موجود دي ، دا کتاب مالک بن انس بن مالک ابو عبدالله رحمهم الله لیکلی دی چې په ۹۳ هجري کال کي د مدینې د شمال پر ذوالمره نومي ځای کي دنیا ته راغلی او په ۱۷۹ کال کي په مدینه منوره کي وفات شوی دی، امام مالک رحمه الله د څلورو ائمه رحمهم الله له ډلي څخه د مالکي مذهب امام دی .

اوس به د محبوب محمد عربي صلی الله علیه وآله وسلم د فصاحت او بلاغت په ملغلرو شروع وکړو:

د عمل قبلېدل په نیت پوري اړه لري :

امیر المؤمنین عمر بن خطاب رضي الله عنه وايي : له رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نه مي اورېدلي چي فرمایل يې: «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْه» .
(رواه البخاري صـ١ بيروت صـ٦ رقمـ١).

ژباړه : بيشکه چې عملونه په نیتونو پوري اړه لري او یقیناً هر کس ته به د هغه څه اجر او ثواب ورکول کیږي د څه چي يې نیت کړی وي ، پس د چا چي هجرت د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په لوري وي پس د هغه هجرت به خاص د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وآله وسلم په لوري وي او د چا چي هجرت د څه دنیوي مقصد لپاره وي هغه به خپل مقصد ته ورسیږي او یا د ښځي لپاره وي چي د هغې سره نکاح وکړي پس د هغه هجرت به د هغه څه لپاره هجرت وي د کوم يې چي نیت او قصد کړی وي .

تشريح: د حديث موضوع ده په عمل کي اخلاص او د نيت شرطونه او د هغه اثر پر اعمالو باندي، امام بخاري رحمه الله د خپل کتاب بخاري شريف شروع په همدغه حديث باندي کړې ده او دې ته يې اشاره کړې ده چي ټول اعمال په نيت پوري اړه لري ، ټول هغه اعمال چې په هغه کي نيت او اخلاص صحي نه وي باطل دي ، ځيني علماء وايي چې دا حديث د علم دريمه حصه ده او دا حديث د فقه اويا بابونه تشکلوي ، امام احمد رحمه الله وايي : د اسلام اصل درې احاديث دي ، د عمر رضي الله عنه حديث «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ» د عايشه رضي الله عنها حديث «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ» د نعمان بن بشير رضي الله عنه حديث «الحَلاَلُ بَيِّنٌ وَالحَرَامُ بَيِّنٌ».

په حديث کي مسائل :

اول : قول د «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ»: يعني د ټولو اعمالو صحت او بطلان ، قبوليت او رد په نيت پوري اړه لري .

قول د «وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى»: يعني د هر عمل بدله په نيت پوري اړه لري چا چي د خير نيت کړی وي هغه ته د خير بدله ورکول کيږي ، چا چي د شر نيت کړی وي هغه ته به د شر سزا ورکول کيږي او چا چي د مباح نيت کړی وي هغه به ثواب او اجر نه لري .

دوهم : نيت

الف : د هر عمل نيت به خاص وي يعني هر عمل به د الله تعالى لپاره وي په هغه کي به شرک او ريا نه وي .

ب : د هر عمل لپاره نيت شرط دی، يعني لمونځ بغير له نيت څخه نه صحي کيږي ، زکات بغير له نيت څخه نه صحي کيږي ، مثلاً که څوک ډير مال خيرات کړي خو نيت يې د زکات نه وي کړی که هر څومره مال صرف کړي زکات نه شو ځکه د زکات نيت يې نه وو کړی ، همداسي د هر عمل لپاره نيت شرط دی .

دريم : قول د «فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ» : يعني د چا چي هجرت د الله تعالى لپاره وي هغه به د الله تعالى او د هغه د نبي صلى الله عليه وآله وسلم مهاجر وي ، همدارنګه چا چي د الله تعالى لپاره جهاد وکړ هغه به د الله تعالى د لاري مجاهد وي ، خو چا چي د دنيوي عرض لپاره هجرت او جهاد وکړ د هغه کس عمل مردود دی.

څلرم: د نيت او اخلاص اجر : هر يو مؤمن چي د کوم عمل لپاره صادقانه نيت ولري الله تعالى د هغه نيت بدله ورکوي ، لقوله سبحانه وتعالى : ﴿وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾ .

(النسآء آيت ۱۰۰).

ژباړه: او څوک چي ووځي د خپل کور څخه هجرت کوونکی، د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم طرف ته (جهاد، حج، علم او نور شرعي امورو لپاره) بیا دی په لاره کي وفات شي نو د ده اجر په الله تعالی دی او الله تعالی ښه بخښونکی او ډیر مهربان دی.

او په حدیث شریف کې راغلی دي: «إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْ سَافَرَ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا».

(البخاري جـ۴ صـ۷۰ في بعض نسخ جـ۱ صـ۱۴۲۰ رقمـ۲۹۹۶).

کله چي کوم څوک مریض شي یا مسافر شي الله تعالی ده ته د اقامت اجر ورکوي یعني څنګه چي ده د روغتیا په حالت او کور کي عبادت کولو هغسي اجر به ورکوي.

پنځم: په مباحاتو د خیر د نیت کولو اجر: مؤمن حتی چي دنیوي امورو کي د خیر نیت ولري او نیت یې د دین او حق قیام وي اجر ورکول کیږي د هغه خوب، خوراک، څښاک، فکر او نور عبادت شمیرل کیږي.

د پورته حدیث شریف فوائد:

۱: دا حدیث دلیل دی په دې چي د هر عمل لپاره نیت شرط دی.

۲: دا حدیث دلیل دی په دې چي د خلکو د اعمالو د نیت په تفاوت او فرق کي ستر اثر دی.

۳: دا حديث دليل دی په دې چې د الله تعالی په لاره کې هجرت او جهاد کول افضل عمل دی.

د دين مراتب: اسلام، ايمان او احسان:

له عمر بن خطاب رضي الله عنه نه روايت دی چې وايي: «بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ رَسُولِ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ، إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ، شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعْرِ، لا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ...

وَلا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ، حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ، وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، أَخْبِرْنِي عَنْ الإِسْلامِ.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الإِسْلامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ، وَتُقِيمَ الصَّلاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلاً. قَالَ: صَدَقْتَ، فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ. قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الإِيمَانِ، قَالَ: أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ. قَالَ: صَدَقْتَ، قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الإِحْسَانِ. قَالَ: أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ. قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ، قَالَ: مَا الْمَسْؤُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ. قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَاتِهَا، قَالَ: أَنْ تَلِدَ الأَمَةُ رَبَّتَهَا، وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ

يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ. ثُـمَّ انْطَلَـقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُـمَّ قَـالَ: يَـا عُمَـرُ أَتَـدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟ قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِيْنَكُمْ» .
(صحيح مسلم صـ٨ بيروت جـ١ صـ٣٦ رقمـ٨).

ژباړه: مونږ يو ورځ د نبي صلى الله عليه وآله وسلم سره ناست وو چي يو سړى را ښکاره شو چي تکي سپني جامې يې په تن وې ، تک تور ويښتان يې وه ، په هغه باندې د سفر هيڅ اثر نه ښکاريده ، او له مونږ څخه هيچا نه پيژندلو ، تر دې چې د نبي صلى الله عليه وسلم سره کيناست ، ورنونه يې د هغه د ورنو سره ولګول او دواړه لاسونه يې د هغه په ورنو کيښول او ويې ويل : اى محمده!"صلى الله عليه وآله وسلم" ما خبر کړه له اسلام څخه اسلام څه دى؟! پس نبي صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل : اسلام دا دى چي : ګواهي ورکي په دې چي نشته لايق د عبادت مګر الله تعالى دى ، محمد صلى الله عليه وآله وسلم د الله تعالى رسول دى ، لمونځ ادا کول ، زکات ورکول ، د رمضان روژه نيول او د حج اداکول څوک يې چي مالي او بدني توان ولري.
سړي وويل : تا رښتيا وويل .
بيا يې وويل : ما خبر کړه له ايمانه ، ويې فرمايل: ايمان دا دى چي : په الله تعالى ايمان راوړې، په ملائکو د هغه ، په کتابونو د هغه ، په رسولانو د هغه ، په ورځ د آخرت او دا چي ايمان راوړي په قدر او شر ، چې د الله تعالى د جانبه دي ، هغه کس وويل : تا رښتيا وويل .

بیا یې وویل : ما له احسان څخه خبر کړه !

نبي صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : إحسان دې ته وایي: چې د إیمان او إسلام په رڼا کي ته د الله تعالی داسي عبادت وکړي لکه چي ته الله تعالی وینې، که ته الله تعالی نه وینې نو هغه خو تا ویني ، معنی دا چي ته په زړه کي دا راولې چي ته دالله تعالی په وړاندي ولاړ یې او د هغه عبادت کوې او دغه عبادت به د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم د سنتو مطابق کوې او مخالفت به ئې نه کوي (په دغسی عبادت کي تصوف (طریقت) ډیر رول لوبوي چه کومو وګړو د پیر کامل لاس نیوی کړی وي د هغه تزکیه شوې وي نو بیا دغسی عبادت ممکن وي) .

بیا یې وویل : ما د قیامت له ورځې څخه خبر کړه !

نبي صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : پوښتل شوی له پوښتنه کوونکي څخه پوه نه دی ، هغه سړي وویل : پس ما د هغه د نښانو څخه خبر کړه ویې فرمایل : دا چې وینځه خپل بادار وزږوي یعني دا چي میندي خواري او حقیري شمیري او ځان د خپلي مور بادار ګڼي او دا چي ته وویني چي د صحرا په پښو او تن لوڅ وږي د پسونو چوپانان په ودانیو کي یو له بله مخکي والی کوي .

بیا هغه سړی ولاړو او زه څه نور ناست وم او حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : ای عمره ! ته پوهیږې چي سوال کوونکی څوک وو ؟ ومې

ويل : الله او د هغه رسول ښه پوهيږي ، ويې فرمايل : هغه جبرئيل امين عليه السلام وو ، چې راغلی وو څو د پوښتنو او ځواب په توګه تاسي ته ستاسي دين درزده کړي .

تشريح : دا حديث شريف د اسلام د سترو قواعدو څخه دی ، چي جبرئيل عليه السلام جناب رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ته د سوال او ځواب په شان د اسلام ، ايمان او احسان تعليم ورکوي ، همدا رنګه په دې حديث شريف کي د طالب العلم او مدرس آدابو ، تواضح ، حلم ، نيک سلوک او واضح بيان ته اشاره شوې ده .

د اسلام پنځه ارکان:

له ابي عبدالرحمن عبدالله بن عمر بن خطاب رضي الله عنه نه روايت دی چي وايي: اورېدلي مي دي چي رسول اکرم صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل: «بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ» .

(صحيح البخاري جـ١ صـ١١ رقمـ٨).

ژباړه : اسلام پر پنځو شيزونو بنا شوی دی : ګواهي ورکول په دې چي نشته معبود برحق مګر الله جل جلاله دی او ګواهي ورکول په دې چي حضرت

محمد صلی الله علیه وآله وسلم د الله تعالی رسول دی او د لمانځه درول ، د زکات ورکول ، د بیت الله شریف حج کول او د روژې نیول .

تشریح : د اسلام لومړی رکن د توحید او رسالت په کلمه «شَهَادَةُ أَنْ لاَ إِلٰـهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ» باندې ایمان لرل دي.

اول : د لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ معنی :

(لاَ إِلٰهَ) یعني : نشه معبود بر حق ، (إِلاَّ اللهُ) مګر یو الله جل جلاله دی .

یعني د کلمې توحید دوه ارکان شول : اول : لاَ إِلٰهَ – نفي ده ، یعني د عبادت هیڅ لائق نشته .

دوهم : إِلاَّ اللهُ – اثبات ، یعني : مګر یوازې معبود بر حق او لائق د عبادت الله جل جلاله دی .

دوهم : د مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ معنی :

د محمد رسول الله معنی دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د الله تعالی رښتینی پیغمبر دی، په رسالت باندې د ګواهۍ ورکولو غوښتنه دا ده چې مسلمان به ایمان لري چې الله تعالی خپل پیغمبر محمد بن عبد الله بن عبد المطلب صلی الله علیه وآله وسلم ټولو پیریانو او انسانانو ته خپل پیغمبر او استاذی استولی دی، تر څو دوی ته امر وکړي چې یوازې د یو الله تعالی عبادت او بندګي وکړی او د هغه ټولو شیانو له عبادت او بندګی څخه ځان وژغوری

چه له الله تعالی څخه پر ته یي عبادت او بندګي کیږي او هم دوی ته د اسلام د مقدس دین احکام بیان کړی.

اخري خاتمه سعادت او شقاوت:

له ابی عبدالرحمٰن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې وایي: صادق او مصدق پیغمبر صلی الله علیه وسلم مونږ ته داسې خبر را کړ چې: «إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِيْنَ يَوْماً نُطْفَةً. ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذٰلِكَ. ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذٰلِكَ. ثُمَّ يُرْسَلُ إِلَيْهِ الْمَلَكُ فَيَنْفُخُ فِيْهِ الرُّوحَ وَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ: بِكَتْبِ رِزْقِهِ، وَأَجَلِهِ، وَعَمَلِهِ، وَشَقِيٌّ أَوْسَعِيْدٌ. فَوَاللهِ الَّذِي لاَ إِلٰهَ غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ، حَتَّى مَا يَكُونَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا، وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ، حَتَّى مَا يَكُونَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا».

(صحیح مسلم، جـ۴ صـ۲۰۳۶ رقمـ۲۶۴۳).

ژباړه: په حقیقت کي د تاسي نه د هر چا پیدا ینښت د مور په نس کي داسي تر سره کیږي: څلویښت ورځي د نطفې په حالت کي وي، وروسته بیا څلویښت ورځي د ويني په یو سر ښنا که ټوټه بدلیږي، وروسته بیا په همغه وخت کي د غوښې په یوه بوټۍ بدلیږي، بیا الله تعالی هغه ته پریښته لیږي تر څو په

هغه کي روح پوه کړي او پر يښته د څلورو شيانو په ليکلو مأموره ده: روزي يې ، عمر يې ، عمل او کردار يې او دا چې بدبخت او يا نيکبخت دی، پس پر الله تعالی سوګند دی چې هيڅ بر حق معبود پرته له هغه نشته ، يقيناً د تاسي څخه يو د اهل جنت اعمال د شريعت موافق صالح اعمال تر سره کوي تر څو د هغه او جنت ته د رسيدو تر مينځ فاصله نه پاتي کيږي مګر يو ګز ، پس د هغه ليکنه تقدير مخکي شي او د اهل دوزخ اعمال تر سره کوي پس د هغه په وجه دوزخ ته داخليږي او يو د تاسي څخه د اهل دوزخ اعمال تر سره کوي چې د هغه او دوزخ ته د رسيدو تر مينځ فاصله نه پاتي کيږي مګر يو ګز ، پس د هغه ليکنه (لوح المحفوظ ، خاتمه) پر هغه مخکي کيږي او د اهل جنت اعمال تر سره کوي او د هغه په وجه جنت ته داخليږي .

تشريح: قول د «الصادق او مصدق» ، د صادق رښتيا ويونکي څخه مطلب پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم دی او د مصدق څخه په ده باندي په رښتيا سره نازل شوي (وحي) مطلب دي .

ځيني علماء کرام وايي چې د «إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ» معنی دا ده چې د دوو جلا انسانانو مني يا نطفه يې په يو رِحم کي چې ځای د ولادت دی جمع کړل ، «فَوَاللهِ الَّذِي لاَ إِلَهَ غَيْرَهُ» دا د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم قسم دی او دلته د قسم يادولو مطلب د موضوع اهميت دی .

«إِنَّ أَحَدَكُمْ» يعني د تاسي نه يا د خلکو څخه يو ډله به د «اهل الجنـة» اعمال تر سره کوي لکه : لمونځ ، زکات ، روژه ، حج ، جهاد او نـور بـه تـر سره کـوي تـر څو د هغه او جنت تر مينځ د «الذراع» (د فاصلي شرعي واحد دی چې تقريباً له ۶۰ سانتي متره سره سمون خوري) فاصله وي .

مګر د هغه خاتمه به خرابـه وي کـوم چې الله سبحانه وتعالی تـه پـه ازل کـي معلومه وه هغه به د (اهل النار) عملونه تـر سره کـوي پـس د هغـه پـه وجـه بـه دوزخ ته داخليږي.

او يا به د اهل النار عملونه کوي مګر خاتمه بـه يې ښه وي وروسته بـه د اهـل جنت عملونه تر سره کړي او د هغه پـه وجـه بـه جنت تـه داخـل شـي ، دا د الله تعالی لطف او کرم دی چې د شر څخه د خير په لوري انقلابونه ډير زيـات دي ، ډير کسان داسي وي چې په سر کي خراب کاره په آخر کي صالح وګرځي مګـر ډير کم خلک داسي دي چې په سر کي ښه او په پای کي خراب شي .

دين نصحيت دی څه معنی ؟

له ابورقيه تميم بن اوس الداري رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي صلی الله عليه وآله وسلم فرمايلي: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: لِلَّهِ، وَلِكِتَابِهِ، وَلِرَسُولِهِ، وَلأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ».
(صحيح مسلم، جـ١ صـ٧۴ قمـ۵۵).

ژباړه: دين نصيحت دی، ومو ويل: د چا لپاره؟ ويې فرمايل: د الله تعالی لپاره، د هغه د قرآن کريم لپاره، د هغه د پيغمبر لپاره، د مسلمانانو د پيشوايانو لپاره او د ټولو مسلمانانو لپاره.

تشريح: (النَّصِيْحَةُ) جامع کلمه ده چي معنی خير دی (النَّصِيْحَةُ لله) معنی د الله تعالی لپاره نصحيت دا چي: په هغه باندي ايمان راوړل، د شرک څخه پرهيز کول، د الله تعالی د ټولو اوامرو منل او د هغه د منع شويو شيانو څخه پرهېز کول، په ټولو امورو کي اخلاص لرل، او خاص د الله تعالی عبادت کول، نو دا نصيحت په اصل کي د بنده لپاره نصيحت شو او الله تعالی د ناصح نصيحت ته ضرورت نه لري.

او د کتاب الله لپاره نصيحت دا دی چي: د الله تعالی په کلام باندي ايمان لرل او د هغه په اوامرو باندي عمل کول، د هغه تلاوت کول او د تلاوت حق يې ادا کول او د هغه ضروري علوم زده کول او د هغه طرف ته دعوت کول دي.

د رسول الله ﷺ لپاره نصيحت دا چي : د هغه تصديق كول ، په هغه باندي چي څه نازل شوي په هغه باندي ايمان راوړل او د هغه اطاعت كول .
د (النَّصِيحَةُ لِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ) څخه مطلب دا دی چي د مسلمانانو د مشرانو په حق كي كومک كول او په مشروع كارونو كي د هغوی اطاعت كول او د دين او دنيا په امور كي د هغوی غفلت كولو ته متوجه كول .
او عامه مسلمانانو لپاره نصيحت دا چي : د خير په كارونو د هغوی سره مرسته وشي ، هغوی ته په نيكۍ امر وشي او له بدۍ څخه منعه شي ، د هغوی پرده كول ، د هغوی نه د ضرر دفع كول او هغوی ته د خير په كار كي ګټه رسول ، د ځان لپاره چي څه سړی خوښوي د نورو مسلمانانو لپاره به يې هم خوښوي او د ځان لپاره چي څه بد ګڼي د نورو مسلمانانو لپاره به يې هم بد ګڼي .
والله اعلم .
نصيحت فرض كفايي دی ، كه يو ډله يې قيام وكړي د نورو غاړه وربانــدي خلاصيږي او په قدر د ضرورت لازم دی .

کوم شیان د اسلام عزت له مېنځه وړي:

حضرت زِیاد بن حَدِیُر رضي الله عنه وایي چي عمر رضي الله عنه را ته وویل: «هَلْ تَعْرِفُ مَا يَهْدِمُ الإِسْلاَمَ؟ قَالَ: قُلْتُ: لاَ؛ قَالَ: يَهْدِمُهُ زِلَّةُ الْعَالِمِ، وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ، وَحُكْمِ الأَئِمَّةِ الْمُضِلِّيْنَ».
(مشکاة المصابیح ،جـ١ صـ٨٩ رقمـ٢٦٩).

ژباړه: زیاد بن حدیر رضي الله عنه وایي ماته عمر رضي الله عنه وویل: آیا ته هغه شیان پېژنې چي اسلام ورانوي؟ ما ورته وویل: یا؛ ده وویل: اسلام خرابوي د عالِم ښوییدل، په قرآن الکریم باندي د منافق جګړه کول او د ګمراه پاچاهانو حکم کول.

تشریح: محدثینو ددې حدیث په تشریح کي لیکلي دي: دغه درې شیان د اسلام عزت له مینځه وړي: یو دا چي عالم په خپل شرعي مسئولیت کي ناغیرېځ وکړي نو له امله یې په شرعي امورو کي غلطیاني ډیري سي او بل دا چي منافق سړی د خپل شخصي هدف ده تر لاسه کولو لپاره او د یوي ځانګړي موخي د لاسته راوړلو په موخه په قرآن کریم باندي استدلال کوي او خپل ناروا اعمال په قرآن کریم باندي توجیه کوي او دریم دا چي بې لاري او ګمراه پاچاهان او مشران د خلکو مینځ کي حکم کوي ددوي فیصلي د خپلو غوښتنو مطابق او د هغوي د مزاج موافق آواره وي.

د امين او صادق تجار فضيلت :

أَبِي سعيد رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل : «التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ، وَالصِّدِّيقِينَ، وَالشُّهَدَاءِ» .
(الترمذي، جـ٣ صـ٣٠٧ رقمـ١٢٠٩).

ژباړه : رښتيا ويونكى او امانتدار تجار به د انبياؤ ، رښتيا ويونكو او شهيدانو سره وي ، او فرمايي : «التَّاجِرُ الأَمِينُ الصَّدُوقُ مع الشُّهَدَاءِ يومَ القيامةِ».
(ابن ماجه و حاكم) .

ژباړه : امانتدار او رښتيا ويونكى تجار به د قيامت په ورځ له شهيدانو سره وي .

د ذكر فضائل :

أَبِي هُرَيْرة رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل : «يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي، فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ» .
(صحيح البخاري جـ٩ صـ١٢١ رقمـ٧٤٠٥).

رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فرمايي : د الله جل جلاله ارشاد دى : چي زه خپل بنده سره هغسي معامله كوم څنګه چي دى په ما باندي ګمان كوي

او کله چي دی ما یادوي نو زه ده سره یم ، کچیرې دی ما پټ یادوي زه هم دی پټ یادوم او کچیرې دی ما په ګنړه او ټولي کې یادوي زه یي د هغه نه غوره ډله چې پر ښتې دي یادوم .

تشريح : څوک چه د الله تعالی ذکر پټ کوی نو الله تعلی یې پټ یادوي (بلاکیف) او څوک چي د الله تعالی ذکر په حلقه (ډله) او ټولی کي کوي الله تعالی یې د هغې نه په غوره حلقه ډلي کي یادوي چه هغه پر ښتي دي.

«دلته ذکر خفي او جهري دواړه راغلي صحت د دواړو شته».

«عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَكْسِبَ، كُلَّ يَوْمٍ أَلْفَ حَسَنَةٍ؟» فَسَأَلَهُ سَائِلٌ مِنْ جُلَسَائِهِ: كَيْفَ يَكْسِبُ أَحَدُنَا أَلْفَ حَسَنَةٍ؟ قَالَ: «يُسَبِّحُ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ، فَيُكْتَبُ لَهُ أَلْفُ حَسَنَةٍ، أَوْ يُحَطُّ عَنْهُ أَلْفُ خَطِيئَةٍ» .

یعني (سُبْحَانَ اللَّهِ وَ الْحَمْدُ لِلهِ وَ اللَّهَ أَكْبَرُ) .

(صحيح مسلم، جـ٨صـ٧١ بيروت جـ٤ صـ٢٠٧٣ رقمـ٢٦٩٨).

مولانا روم رحمه الله ویلي : «یک زمانه صحبت با اولیاء بهتر از صد سال عبادت باتقا» .

(والذکر الخفي الذي هو عبارت من ذکر الطائف باطني بطریق بیعة مرشد کامل ومکمل صاحب شریعت اضعاف سبعین درجة من ذکر اللساني اولی وافضل لانه انجی اعمال کلها .

ژباړه : خفي ذکر چي عبارت دی په ذکر باطني سره دلطائفو په طریقه دبیعت د پیر کامل مکمل صاحب د شریعت سره چي افضل دی او یا درجې تر ذکر لساني ځکه چي ذکر باطني ټول اعمالو ته نجات ورکوي.

د مسلمان صفت :

عبد الله بن عَمْرو بن الْعاص رضي الله عنهما وايي چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل : «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسانِهِ ويَدِهِ ، والْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ ما نَهَى الله عَنْهُ» .

(صحيح مسلم ، جـ١ صـ٦٥ رقمـ٤١) .

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنهما نه روایت دی چي نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم و فرمائل : مسلمان هغه دی چي د هغه د ژبي او لاس نه نور مسلمانان محفوظ پاتي وي او مهاجر هغه دی چي د الله تعالی منع کړي چیزونه پریږدي.

تشريح : معلومه شوه چي کامل مسلمان هغه دی چي بل چاته ظاهري یا باطنی ضرر ونه رسوي او حقیقی مهاجر هغه دی چه د الله تعالی د نافرمانیو نه ځان وساتي ، ددې وجهي نه که چا د هجرت (وطن پریښودل) باوجود د الله تعالی د نافرمانی نه اجتناب ونه کړ نو د داسي هجرت هیڅ فائده نشته ، هجرت خو ددې نوم دی چي د الله تعالی د رضا په خاطر هر شی پریږدي ،اوس

که انسان خپل محبوب وطن خپل خپلوان جائداد او کاروبار پرېږدي لیکن د شرعي ممنوع شیانو نه منع نشي نو د الله تعالی په نیز به دده هجرت عبث وګڼل شي.

الله تعالی له مهرباني مور څخه زیات مهربان دی:

عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما وایي: «كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ غَزَوَاتِهِ فَمَرَّ بِقَوْمٍ فَقَالَ: مَنِ الْقَوْمُ؟ قَالُوا: نَحْنُ الْمُسْلِمُونَ. وَامْرَأَةٌ تَحْصِبُ تَنُّورَها بِقَدْرِهَا وَمَعَهَا ابْنٌ لَهَا. فَإِذَا ارْتَفَعَ وَهَجُ النَّارِ تَنحَّتْ بِهِ؛ فَأَتَتِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَتْ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَلَيْسَ اللهُ أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ؟ قَالَ: بَلَى. قَالَتْ: أَوَلَيْسَ اللهُ أَرْحَمَ بِعِبَادِهِ مِنَ الأُمِّ بِوَلَدِهَا؟ قَالَ: بَلَى. قَالَتْ: إِنَّ الأُمَّ لا تُلْقِي وَلَدَهَا فِي النَّارِ. فَأَكَبَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْكِي ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيْهَا فَقَالَ: "إِنَّ اللهَ لا يُعَذِّبُ مِنْ عِبَادِهِ إِلا الْمَارِدَ الْمُتَمَرِّدَ الَّذِي يَتَمَرَّدُ عَلَى اللهِ وَأَبَى أَنْ يَقُولُ: لا إِلَهَ إِلا اللهُ».

(رواهُ ابنُ ماجه، رقم ٤٢٩٧).

ژباړه: له عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چي مونږ په یوه غزا کي د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره ملګري وو چي ناڅاپه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په یوه قوم ورغی نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته وویل: چي تاسو څوک یاست؟ هغوی وویل: چي

مونږ مسلمانان یو پدې وخت کي یوې ښځې تنور اچولی ؤ چي یو ځوی یې هم ورسره وو ، کله چي د تنور څخه د اور لمبې پورته شوې نو دغې ښځې خپل ځوی د تنور څخه یوې ډډې ته کړ بیا دغه ښځه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته راغله او ورته یې وویل: چي ته د الله تعالی رسول یې؟ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته وویل: چي هو زه د الله تعالی رسول یم ، ښځې ورته وویل: چي زما مور او پلار دي له تا څخه قربان شي .

آیا الله تعالی "أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ" ندی؟ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته وویل: ولي نه الله تعالی "أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ" دی.

دې ښځې بیا وویل: چي آیا الله تعالی پخپلو بنده ګانو باندې د یوې مهرباني مور څخه هم زیات مهربانه نه دی؟ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته وویل: ولی نه الله تعالی پخپلو بنده ګانو باندې د یوې مهربانې مور څخه هم زیات مهربانه دی هغې ښځې وویل: چي یوه مور خو خپل ځوی هیڅکله هم اور ته نه غورځوي، د دې وینا په اوریدلو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خپل سر ټیټ کړ زیات یې وژړل او بیا یې سر راپورته کړ او دغې ښځې ته یې وویل: چي الله تعالی په خپلو بنده ګانو کي یوازې هغه خلک اورته غورځوي چي د دین څخه سر غړونه وکړي او د {لا اله الا الله} ویلو څخه انکار کوي.

د لمانځه اهمیت :

ابي قتادہ بن رِبْعی رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل: «قَالَ اللهُ تعالی اِنِّي افْتَرَضْتُ عَلی اُمَّتِکَ خَمْسَ صَلَوٰاتٍ وَعَهِدْتُّ عِنْدِی عَهْدًا اَنَّه مَنْ حَافَظَ عَلَیْهِنَّ لِوَقْتِهِنَّ اَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ فِیْ عَهْدِی وَمَنْ لَّم یُحَافِظْ فَلا عَهْدَ لَه عِنْدِي» .

(متفق علیه).

ژباړه: ابي قتادہ بن ربعي رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمايي: چي الله سبحانه وتعالی فرمايي چي : ما ستا په امت پنځه وخته لمونځونه فرض کړي دي او ددې مي خپل ځان سره وعده کړې ده چه څوک دا پنځه لمونځونه په خپل وخت کښي ادا کولو پابندي وکړي هغه به پخپله ذمه واری جنت ته داخلوم او څوک چه ددې لمونځونو اهتمام نه کوي نو په ما باندي د هغوی هيڅ ذمه داري نشته .

غوره خلک هغه دي چي د الله تعالی په لار کي جهاد کوي :

أَبي سعيد الخُدْرِي رضي الله عنه وايي: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم : «مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ». قَالُوا: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «مُؤْمِنٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَتَّقِي اللَّهَ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ». (بخاري رقم-۲۷۸۶).

ژباړه: ابو سعيد خدري رضی الله عنه وايي: چا پوښتنه وکړه يا رسول الله! غوره د خلکو څوک دي؟ رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وفرمايل: هغه مؤمن چي پخپل ځان او مال د الله تعالی په لار کي جهاد وکړي، وويل شول بيا څوک غوره دی؟ ويې فرمايل: هغه مؤمن چي له دَرو څخه په يوه دَره کي ژوند وکړي، د الله تعالی تقوٰی اختيار کړي او خلکو ته ضرر نه رسوي.

جهاد ډير غوره عمل دي :

أَبي هُرَيْرَة رضي الله عنه وايي: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ يَعْدِلُ الْجِهَادَ قَالَ: «لا أَجِدُهُ» قَالَ: «هَلْ تَسْتَطِيعُ إِذَا خَرَجَ الْمُجَاهِدُ أَنْ تَدْخُلَ مَسْجِدَكَ فَتَقُومَ وَلا تَفْتُرَ وَتَصُومَ وَلا تُفْطِرَ»؟ قَالَ: وَمَنْ يَسْتَطِيعُ ذَلِكَ؟» .

(صحيح البخاري ، جـ۴ صـ۱۵ رقمـ۲۷۸۵).

ژباړه : ابو هريرة رضي الله عنه وايي : يو سړی رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته راغی او ويې ويل : ما ته داسي عمل وښيه چي له جهاد سره برابر وي رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وفرمايل : داسي عمل نشته او ويې ويل : آيا ته کولای شې د هغه وخت نه چي مجاهد د جهاد لپاره ووځي جومات ته دي لاړ شي او هلته د ستړيا د احساس نه بغير د لمانځه قيام وکړي او بغير له روژه ماتي روژه ونيسي (تر هغه وخت څو مجاهد بيرته خپل کور ته را وګرځي) ؟ هغه کس وويل : څوک به ددې توانايي ولري ؟ .

د مسلمان حرمت:

له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلی الله عليه وآله وسلم فرمايلي: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الإِسْلاَمِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ».

(صحيح البخاري ،جـ۱ صـ۱۴).

ژباړه: د الله پاک د طرف نه ما ته امر شوی دی چې تر هغه پورې د خلکو سره جهاد وکړم څو پورې چې د توحيد کلمه «لا إله إلاّ الله» ووايي په او د محمد صلی الله عليه وآله وسلم په رسالت شاهدي ورکړي او لمونځ ادا کړي ، زکات ورکړي ، مګر کله چي هغوی دا کارونه وکړل ، د دوی سر او مال به محفوظ وي

مګر په حق (هغه څه کې چې اسلام تعین کړي دي) او حساب د دوی په آخرت کې د الله تعالی سره دی .

تشريح : دا عظیم حدیث د دین له قواعدو څخه یوه قاعده ده ، چې په بل حدیث شریف کې د ابي هریرة رضي الله عنه په روایت سره راغلي دي چې «حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ، وَ يُؤْمِنُوا بِمَا جِئْتَ» ددواړو حدیثونو معنی یوه ده.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت :

أَبِي هريرة رضي الله عنه وايي چې رسول الله صَلّى اللهُ عليهِ وسَلَّم وفرمایل : «كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى» ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى» .

صحيح البخاري ، جـ٩ صـ٩٢ رقمـ٧٢٨٠) .

ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل چې : زما ټول امت به جنت ته داخلیږي سیوا د هغه چانه چې انکار وکړي ، تپوس وشو چې یا رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ! جنت ته د تللو نه څوک انکار کوي؟ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : چاچي زما اطاعت وکړ هغه جنت ته داخل شو او چا چې زما نافرماني وکړه هغه جنت ته د تللو نه انکار وکړ .

تشریح : امت نه مراد دلته امتِ اجابت دي ، یعني هغه خلک مراد دي چا چي د نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم دعوت قبول کړ او عملي یي کړ او نافرمان به د جنت څخه محروم وي.

ابو ذر رضي الله عنه ته د رسول الله ﷺ نصائح:

أبي ذر رضي الله عنه وایي : «أَمَرَنِي خَلِيلِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ ، أَمَرَنِي بِحُبِّ الْمَسَاكِينِ وَالدُّنُوِّ مِنْهُمْ وَأَمَرَنِي أَنْ أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ دُونِي وَلَا أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقِي وَأَمَرَنِي أَنْ أَصِلَ الرَّحِمَ وَإِنْ أَدْبَرَتْ وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَسْأَلَ أَحَدًا شَيْئًا وَأَمَرَنِي أَنْ أَقُولَ بِالْحَقِّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَخَافَ فِي اللَّهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ وَأَمَرَنِي أَنْ أُكْثِرَ مِنْ قَوْلِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ فَإِنَّهُنَّ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ».
(مسند أحمد، جـ٣٥ صـ٣٢٧ رقمـ٢١٤١٥).

ژباړه: ابو ذر رضي الله عنه فرمایي چي : ماته مي خپل دوست محمد صلی الله علیه و آله وسلم داوو شیانو د عملي کولو حکم کړی:

اول : ماته یې د مسکینانو سره د محبت او هغوی ته د نژدي کیدو امر کړی دی.

دویم : ماته یې سپارښتنه کړې ده چي په دنیوي چارو کي به له ځان څخه لاندي خلکو ته ګورم او له ځان څخه پورته خلکو ته به پاملرنه نه کوم.

دریم : ماته رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم حکم کړی دی چې زه به له خپلوانو سره خپلوي پالم ، که څه هم چې هغوی یې له ماسره نه پالي.

څلرم : ماته رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ددې خبري حکم کړی چې له چا څخه به د هیڅ شي سوال نه کوم .

پنځم : ماته یې په دې خبره حکم کړی دی چې زه به حقه وینا کوم که څه هم هغه ډیره ترخه وي.

شپږم : ماته یې دا حکم کړی دی چې د الله تعالي په لاره کي به د چا له ملامتی څخه ویره نه کوم .

اووم : ماته یې ددې خبري امر کړی دی چې "لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ" به په کثرت سره وایم ، ځکه چي دا له هغي خزانې څخه ده ، چې له عرش عظیم څخه لاندي شتون لري.

له عبدالرحمن بن صخر رضي الله عنه نه روایت دی چې وایي: اورېدلي مي دي چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایل: «مَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَاجْتَنِبُوهُ، وَمَا أَمَرْتُكُمْ بِهِ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ، فَإِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَثْرَةُ مَسَائِلِهِمْ وَاخْتِلَافُهُمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ».

(صحیح البخاري رقم-۷۲۸۸).

ژباړه : د هغه څه مي چي تاسي منع کړي يې لري اوسئ او د څه مې چي تاسي ته امر کړی دی د خپل توان په اندازه هغه تر سره کړی، ځکه په يقين سره د تاسي څخه چي مخکي کوم خلک تباه شوي دي د دوی د ډير سوالونو کولو په وجه او اختلاف د دوی له پيغمبرانو د دوی سره .

تشريح : ابي هريرة رضي الله عنه وايي چي :رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم مونږ ته خطبه کوله او فرمايل يې :«يا أيها الناس ، قد فرض الله الحج عليكم فحجوا» ، دا مهال يو کس وويل : هر کال يا رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ؟ رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم څه ځواب ورنه کړ ، تر دې پوري چي درې ځله يې دا پوښتنه تکرار کړه . بيا رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل : کچيري هو ووايم او در باندي واجب شي نو ته توانيږې . بيا يې وفرمايل : «ذروني ما تركتكم فانما أهلك من كان قبلكم كثرة سؤالهم و اختلافهم على أنبيائهم ، فاذا أمرتكم بشيء فائتوا منه ما استطعم ...»

او سوال کوونکی سړی أقرغ بن حابس وو .

د ابو طالب په مړینه د رسول الله ﷺ ژړا :

د حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم تره ابو طالب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره د هغه په ژوند کي بې شمېره کړاونه او مشکلات تېر کړل؛ مګر بیا هم د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له ډېرو هڅو سره سره ابو طالب ایمان رانه وړ.

د بخاري او مسلم شریف روایت دی: چي نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم ابو طالب ته د وفات په مهال راغی او ورته یې وفرمایل: یا عم! قل لااله الاالله؛ کاکا جانه! ووایه لااله الاالله نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم د ابو طالب د ژوند تر وروستۍ شېبې پوري خپله هڅه وکړه، تر څو خپل دغه مهربان تره مسلمان کړي، مګر د ده په څنګ کي د ابو جهل او امیه غوندي کسان هم ناست وو، چي دی یې پښېمانه کاوه او نه یې پرېښود تر څو ابو طالب کلمه ووایي.

کله چي د ابو طالب د ژوند وروستۍ شیبو ځنکدن وخت شو، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم بیا ورته وفرمایل: کاکا جانه! که ته اوس هم فقط یو ځل په خوله کلمه ووایي نو ماته به ستا لپاره د الله تعالی په درګاه کي د سفارش موقع برابره شي...

مګر ابو طالب وویل زه د عبدالمطلب په دین او طریقه دنیا پرېږدم.

بالاخره د کاکا په بې دينۍ کي د وفات کېدو وروسته، نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم ته سخته صدمه ورسيده؛ او د غم د شدت له وجهي يې له مبارکو سترګو اوښکي راغلې او داسي يې وفرمايل: د خپل تره ابو طالب لپاره به تر هغه له الله پاک نه د بښني او مغفرت غوښتنه کوم تر څو خپله الله تعالى منع کړی نه يم. طبقات ابن سعد کي د حضرت علي کرم الله وجهه روايت دی: کله مو چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ته د ابو طالب د مړيني خبر ورکړ، رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ډېر وژړل او را ته وېې فرمايل: علي! لاړ شه ابو طالب ته غسل ورکړه، کفن يې کړه او بيا يې خاورو ته وسپاره؛ الله تعالى دې هغه ته مغفرت او وربانديې رحم وکړي. حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي: ما د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم امر پر ځای کړ. بيا رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم تر ډېره له کوره راونه ووت. تر هغه پوري يې خپل تره د بښنې او مغفرت دعا کوله چې جبريل عليه السلام د الله تعالى دغه فرمان له ځانه سره راوړ: نه ښايي پيغمبر او هغه کسانو ته چې دوی ايمان راوړی. کله چې معلومه شي دا خلک جهنمي دي بيا هم د مشرکانو لپاره د مغفرت غوښتنه کوې که هر څو يې نيږدې خپلوان هم وي. (التوبه).

(طبقات ابن سعد، ابن کثير).

د عالم الدين قدر :

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلي دي: «إِنَّ اللهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ النَّاسِ، وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ، حَتَّى إِذَا لَمْ يَتْرُكْ عَالِمًا، اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالًا، فَسُئِلُوا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ، فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا».
(صحيح مسلم، جـ۴ صـ۲۰۵۸ رقمـ۲۶۷۳).

ژباړه: بې له شکه الله تعالی علم یو دم نه لیري کوي چې له بندهګانو څخه یې واخلي، بلکه علم به د عالمانو په اخیستلو یعني د عالمانو په مرګ سره پورته کړی شي، تردې پورې چې یو عالم به هم پاتې نشي نو خلک به خپل مشران ناپوهه وټاکي او له هغو څخه به پوښتني کوي نو هغه به بې له علم او پوهې څخه فتوای ورکوي نو ځان او خلک به ګمراه کړي.

فائده: امام أحمد رحمه الله فرمایې: د أهل علم په حق کښې ګستاخي او تمسخر له لویو ګناهونو څخه یوه ګناه ده بل دا چې د علماؤ غوښې زهرجني دي چا چې بوی کړې مریض شوی دی او چا چې خوړلي دي مړشوی دی، عبدالله ابن مبارک رحمه الله فرمایې: چاچې د علماؤ سپکاوی وکړ د هغه قیامت خوار شو.

قران كريم اطمينان او خشوع ده :

عبدالله رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل : «اقْرَأْ عَلَيَّ ،قَالَ : قُلْتُ : أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ ؟ قَالَ : إِنِّي أَشْتَهِي أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي ،قَالَ : فَقَرَأْتُ النِّسَاءَ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ :(فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلاءِ شَهِيدًا) ،(سورة النساء آيتـ٤١) ،قَالَ لِي : كُفَّ أَوْ أَمْسِكْ ،فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَذْرِفَانِ».

(صحيح مسلم، جـ١ صـ٥١٥ رقمـ٨٠٠).

ژباړه : د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم راته وفرمايل: ماته قرآن كريم واوروه (د قرآن كريم تلاوت راته وكړه)، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي، ما رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ته عرض وكړ چي: يا رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم تاسو ته تلاوت وكړم حال دا چي په تاسو نازل شوی دی ! رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم راته وفرمايل: زه دا خوښوم چي د بل نه قرآن كريم واورم، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي: ما د سورة النساء تلاوت شروع كړ كله چي دې آيت (فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلاءِ شَهِيدًا) ته ورسېدم، رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم راته وفرمايل: بس كړه ! د راوي شک دی چي يا يې وفرمايل: نور مه وايه عبد

الله بن مسعود رضي الله عنه وايي: ما رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وليدی، چي د مبارکو سترګو نه يې اوښکي رواني وې.

د حديث فائدې:

اول : قرآن عظيم ډېر لوی تأثير لري انسان د قرآن کريم له تلاوت نه ډېر متاثره کېږي.

دويم : د انسان نفس تغير ته ضرورت لري، ځکه خو رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم قرآن کريم لوسته او اوريده يې.

دريم : تر ټولو ښه کار دا دی، چي انسان د قرآن کريم تلاوت په ډېره چوپتيا او فکر سره وکړي.

څلورم : قرآن کريم د زړه په مينه لوستل د انسان زړه مطمئن او روح خوشحالوي.

د نېک عمل په کولو سره نجات موندل :

د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی چې وایي : ما د نبي صلی الله علیه وآله وسلم نه واورېدل چې فرمایل یې : تر تاسي په مخکنیو امتونو کي درې کسان په لاره روان وو ، دوی د شپې تېرولو په موخه یوه غار ته راغلل او هلته ننوتل، د غره نه یوه لویه تیږه را وښوېده او په دوی پسې یې د غار خوله بنده کړه دوی وویل: یوازې په دې به وژغورل شي، چې د خپلو نیکو عملونو په طفیل مو الله تعالی ته دعاء وکړی ، یو خپله دعاء داسی پیل کړه: یا الله زما مور او پلار بوډاګان (سپین ږیري) وو ، ما به تر دوی وړاندې خپل اهل او مال ته شیدې د څکلو لپاره نه ورکولې (یعنې هغوی مي دېته نه پرېښودل، چې زما د مور او پلار نه مخکي شیدې وڅکي، بلکي لومړي به مي خپل مور او پلار ته د څکلو لپاره ورکولې) یوه ورځ د یوه شي په لټه پسې ډېر لري ولاړم، هغه مهال خپل کور ته راستون شوم ، چې دوی دواړه ویده شوي وو، دوی ته مي شیدې راولوشلې اما دوی ویده وو ، دا مي زړه نه منله چې تر دوی وړاندې دي خپل اولاد ته شیدې د څکلو لپاره ورکړم ، پیاله په لاس د دوی د راوېښېدلو په انتظار پاتي شوم ، تردې چې سهار وځلېد او دوی را پاڅېدل او خپلې شیدې یې وڅکلې، ای الله! که چېرته ما دغه کار یوازې ستا د رضاء لپاره کړی وي، نو په مونږ دغه مصیبت اسانه کړه! نو هغه تیږه لري شوه، خو دوی ترېنه دباندې نه شو وتلی .

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل: هغه بل داسي وویل: یاالله! زما د تره (کاکا) یوه لور وه، چي هغه ماته تر هر چا ډېره ګرانه وه، ما د هغې سره دیو والي (د حرام کار) اراده وکړه، مګر هغې زه منع کړم تر دې چي یو کال قحطي راغله، هغه ماته راغله، ما هغې ته په دې شرط ۱۲۰ دینار ورکړل تر څو د هغې په بدل کي زما سره بدکار وکړي، هغه راضي شوه او زما لاس پر بر شو مګر هغې راته وویل: تاته دا نه ده روا چي دا مهر له حقه پرته مات کړې، (ده دې خبري په اورېدلو) دا راته ډېره بده ښکاره شوه، چې زه دې خپل غرض پوره کړم، نو زه د هغه ځایه لاړم، حال دا چي هغه ماته تر هر څه ډېره ګرانه او نږدې وه، هغه څه چي ما هغې ته ورکړي وو هغه مي ورته پرېښودل، یاالله! که ما دا کار ستا د رضاء لپاره کړی وي، نو یاالله په مونږ رحم وکړې او دا تیږه لیري کړې! هغه تیږه لرې شوه، خو دوی ترینه بیا هم نه شو وتلی.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل: دریم داسي وویل: یاالله ما څو مزدوران کارکولو ته راوستي وو، ما هغه ټولو مزدورانو ته خپله مزدوري ورکړه، خو په دوی کي یو د خپلې مزدورۍ د اخستلو پرته ولاړ، ما د هغه د مزدوري پیسې په کاروبار کي ولګولې، هغې ډېره ګټه وکړه، څه وخت پس هغه کس راغی او له ما څخه یې خپله مزدوري وغوښتله، ما هغه ته وویل: دا اوښان، غواګاني، پسونه او غلامان چي وینې دا ټول ستا دي، هغه راته وویل: ای د الله بنده خندا را پوري مه کوه، ما هغه ته وویل: رښتیا وایم او ټوقي نه

در سره کوم ، هغه ټول مال په مخه کړ او هېڅ شی یې هم پرې نه ښود ل. یاالله که چېرته دغه کار ما ستا د رضاء لپاره کړی وي ، نو زمونږ نه دا مصیبت لرې کړې، هماغه وه چې تیږه لرې شوه او هغوی د هغه غار نه را ووتل او روان شول.

(رواه البخاري ، كتاب المزارعة، بَابُ إِذَا زَرَعَ بِمَالِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِم ج ـ ٣ صـ ١٠٥ رقمـ ٢٣٣٣).

د حدیث فائدی:

اول : په خوشحالۍ کې د الله عزوجل یادول ددې سبب ګرځي، چې الله عزوجل به دي په سختیو کې یاد ولري.

دویم: په ښه عملونو سره دعاء کول لکه د مور او پلار سره ښه کول د زناء نه ځان ساتل، امانت ساتل، چې څوک محتاج وي د هغوی سره په پټه مرسته کول او داسې نور.

دریم : د مور او پلار عزت، احترام او د هغوی په خدمت کې سختي ګالل تر ټولو ښه او بهتره عمل دی او د هغو سره مینه تر هر څه مخکې دی.

تنبیه : دا خبره دلیل نشي جوړېدلی چې یو څوک د بخاري شریف دا روایت پیش کړي او بیا عوامو ته وایي: چې وسیله بذوات الفاضله ځکه ناروا ده چې دا کسان غار کې بند شوي وه نو ذوات الفاضله به یې پیش کړي وای.

ګوری څلور کارونه جائز وي یو سړی په یوه عمل کوي نو دا خو دلیل د عدم جواز دآخر نه جوړیږي.

دنیا د مومن لپاره څنګه بندیخانه ده؟

په صحي حدیث کي راغلي چي رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایي: دنیا د مومن لپاره بندیخانه او د کافر لپاره جنت دی: «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ».
(صحیح مسلم، بیروت ج۴ ص۲۲۷۲ قم۲۹۵۶).

تشریح او تفصیل: په حدیث کي د مؤمن او کافر د دنیا او اخرت ژوند له بندیخانې او جنت سره تشبیه شوی دی، دنیا د مؤمن لپاره بندیخانه دا مطلب چي د دنیا ټول نعمتونه د اخرت په نسبت بیخي کم دي، د دنیا او اخرت د نعمتونو تر مینځ توپیر داسي دی لکه د بندیخانې او ازاد ژوند تر مینځ توپیر او څرنګه چي کافر په جنت کي برخه نه لري نو د جهنم د عذابونو په نسبت دنیا د هغه لپاره جنت دی.
او بل دا چي په دنیا کي مؤمن له حرامو کارونو او خوراکونو منعه کړل شوی دی او مختلف عبادات او مکلفیتونه پر ې لازم شوي دي، نو دا مسؤلیتونه او مکلفیتونه ترسره کول د بندیخانې په څېر سخت دي او څرنګه چي کافر له دې مکلفیتونو ځان خلاص کړی نو د هغه لپاره دنیا لکه جنت داسي ده.

توبه كونكى قاتل :

أبي سعيدالخُدْرِي رضي الله عنه وايي چي نبي صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل : «كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ نَفْسًا، فَسَأَلَ عَنْ أَعْلَمِ أَهْلِ الْأَرْضِ فَدُلَّ عَلَى رَاهِبٍ، فَأَتَاهُ فَقَالَ: إِنَّهُ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ نَفْسًا، فَهَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ؟ فَقَالَ: لَا، فَقَتَلَهُ، فَكَمَّلَ بِهِ مِائَةً، ثُمَّ سَأَلَ عَنْ أَعْلَمِ أَهْلِ الْأَرْضِ فَدُلَّ عَلَى رَجُلٍ عَالِمٍ، فَقَالَ: إِنَّهُ قَتَلَ مِائَةَ نَفْسٍ، فَهَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ؟ فَقَالَ: نَعَمْ، وَمَنْ يَحُولُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ التَّوْبَةِ؟ انْطَلِقْ إِلَى أَرْضِ كَذَا وَكَذَا، فَإِنَّ بِهَا أُنَاسًا يَعْبُدُونَ اللهَ فَاعْبُدِ اللهَ مَعَهُمْ، وَلَا تَرْجِعْ إِلَى أَرْضِكَ، فَإِنَّهَا أَرْضُ سَوْءٍ، فَانْطَلَقَ حَتَّى إِذَا نَصَفَ الطَّرِيقَ أَتَاهُ الْمَوْتُ، فَاخْتَصَمَتْ فِيهِ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلَائِكَةُ الْعَذَابِ، فَقَالَتْ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ: جَاءَ تَائِبًا مُقْبِلًا بِقَلْبِهِ إِلَى اللهِ، وَقَالَتْ مَلَائِكَةُ الْعَذَابِ: إِنَّهُ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ، فَأَتَاهُمْ مَلَكٌ فِي صُورَةِ آدَمِيٍّ، فَجَعَلُوهُ بَيْنَهُمْ، فَقَالَ: قِيسُوا مَا بَيْنَ الْأَرْضَيْنِ، فَإِلَى أَيَّتِهِمَا كَانَ أَدْنَى فَهُوَ لَهُ، فَقَاسُوهُ فَوَجَدُوهُ أَدْنَى إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي أَرَادَ، فَقَبَضَتْهُ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ"، قَالَ قَتَادَةُ: فَقَالَ الْحَسَنُ ذُكِرَ لَنَا، أَنَّهُ لَمَّا أَتَاهُ الْمَوْتُ نَأَى بِصَدْرِهِ».

(صحيح مسلم ، جـ۴ صـ۲۱۱۸ رقمـ۲۷۶۶ و ابن ماجه رقمـ ۲۶۲۲).

ژباړه: د أبو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل :له تاسي نه په مخكنيو امتونو كي يو كس وو، چي نهه نوي (۹۹) قتلونه يې كړي وه، هغه د ځمكي په مخ تر ټولو دلوی عالم

پوښتنه وکړه، خلکو ورته یو راهب وښود، هغه راهب ته ورغی او ورته یې وویل: ما نهه نوي مړي کړي دي ، آیا زما توبه به قبوله شي کنه؟!.

راهب ورته وویل: نه! هغه کس راهب هم وواژه او په دې سره یې سل مړي پوره کړل ، بیا یې د خلکو څخه په ځمکه تر ټولو د ښه عالم پوښتنه وکړه، خلکو ورته یو بل عالم وښود ، قاتل عالم ته ورغی او ورته یې وویل: ما سل مړي کړي آیا زما توبه به قبوله شی؟!.

هغه ورته وویل: هو! څوک دی چې ستا او د توبې تر منځ حائل شي، ته داسې وکړه چې فلاني ځای ته لاړ شه. هلته څه خلک دي چې هغه د الله عزّوجل په عبادت بوخت دي ته هم د هغوی سره په عبادت کې مصروفه شه او خپل ځای کلي ته مه ځه. ځکه هغه بد ځای دی، هغه کس د هغه ځای په لور روان شو ، خو هغه ځای ته د رسېدلو نه مخکې په نیمایي لاره کې ورته مرګ راغی ، د عذاب او رحمت فرښتې په خپلو کې په دعوه شوې ، د رحمت فرښتو وویل: هغه توبه ویستلې وه او د الله جل جلاله لور ته یې رجوع کړې وه، د عذاب فرښتو وویل: هغه هیڅ ښه عمل نه دی کړی، تردې چې د انسان په شکل یوه فرښته راغله، نو دواړو ډلو د نیکي او عذاب فرښتو په هغه د فیصلې کولو موافقه وکړه، هغه وویل: د دې دواړو کلیو تر منځ ځمکه اندازه (لویشت) کړی هغه سړی چې کوم کلي ته نږدې وو ، نو بیا یې هماغه فرښته روح واخلی ، کله چې هغوی د

ځمکي اندازه واخيستله، نو هغه سړی هغې ځمکي ته نږدې ؤ چي د کومي قصد يې کړی وو.

نو د رحمت فرښتو د هغه روح واخيسته ، قتاده رضي الله عنه وايي: چي حسن رضي الله عنه ويل : ما اوريدلي دي چي هغه کله مړ کېده، نو په سينه وغورځېده (تر څو هغه کلي ته نږدې شي).

تشريح : که د بنده ګناهونه هر څومره هم ډېر شي الله عزّوجل بيا هم ورته د توبې دروازه خلاصه کړې ده ، الله عزّوجل فرمايلي : ﴿قُلْ يَاعِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾ .

(زمر: آيت۵۳) .

ووايه.(اى محمده! چي الله عزّوجل فرمايلي) اى زما هغه بندګانو چي په خپلو نفسونو يې اسراف کړئ، د الله تعالى له رحمته مه نا اميده کېږى، بېشکه الله ټول ګناهونه بښي او بېشکه هغه الله عزّوجل ډېر بشونکى او رحم کونکى دى ، د الله عزّوجل د رحمت څخه نا اميدي انسان نور هم بې لاري کوي او بدى ته يې کشوي لکه په دې کيسه کي چي هغه سړي راهب مړ کړ او د هغه په قتل يې سل مړګونه پوره کړل.

موسکا (خندا) کول :

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له جلیل القدر صحابي حضرت ابي ذر غفاري رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : تَبَسُّمُکَ فِي وَجْهِ أَخِيکَ لَکَ صَدَقَةٌ .

ژباړه : خپل ورور ته موسکا کول صدقه ده .

تشریح : یعني کله چي له خپل ورور سره ملاقات کوی په ورین تندي ورسره مخ شئ او موسکا وکړی کوم ثواب چي تاته رسیږي اجر یي لکه د صدقې دو مره دی .

(الترمذي، جـ١ صـ٣٥۴ رقمـ١٩٥٦).

په دسترخوان یو ځای غذا خوړل :

له وحشي بن حرب رضي الله عنه څخه روایت دی چي صحابه کرامو رضوان الله علیهم رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته وویل چي مونږ غذا خورو خو مړیږو نه ، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته وفرمایل : ایا تاسو غذا یو بل څخه یوازي خوری ؟ هغوی وویل : هو ، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : «فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ ، يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ» .

(سنن أبي داود رقمـ١٣٩ بیروت ، جـ٣ صـ٣۴۶ رقمـ٣٧۶۴) .

ژباړه: د غذا خوړلو په وخت کې سره يو ځای کيږئ او د الله تعالی نوم په ژبه اخلئ تر څو برکت پکې کيښودل شي .

تشريح : د برکت له اسبابو څخه يو هم دادی چې په دسترخوان يو ځای خوراک وکړی شي د الله جل جلاله په نوم سره .

ګاونډيانو ته خوراک ورکول :

د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم له جليل القدر صحابي حضرت ابو ذرغفاري رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما ته زما ملګري صلی الله عليه وآله وسلم دا وصيت وکړ چې کله دې شوروا پخه کړه او به يې لږ زياتې کړه بيا دې د ګاونډيانو کورونو ته ور وګوره او د هغوي سره نيکی وکړه ، يعني د شوروا او به زياتي کړه د همسايه ګانو کره هم يو څه ور وليږه او د دوي سره نيکي او احسان کوه.

همدا رنګه له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم وفرمايل : هيڅ مېرمن د خپل ګاونډي تحفه سپکه مه ګڼئ اګر که د پسه ښنګری وي .

دغه حديث شريف کي د پسه د ښنګري له يادولو څخه هدف دا وو چې دي سنت ته خلک تشويق شي .

توضيح : د اسلام مبین دین خپل پیروان یو بل سره مرستي او یو والي ته تشویق کوي ، له همدي امله رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هر وخت خپل امت ته له ګاونډیانو سره د نیکي کولو توصیه کوله ، ځکه همسایه موږ ته تر ټولو نیږدي خلک دي ، که له دوی سره موږ رابطه او علاقه وشکوو ، ګوا کي د مسلمانانو له ټولني سره مو د رابطي د شکولو لپاره پیل وکړ .

الله تعالی ته پاک شی د قبول وړ دي :

له ابی هریره رضي الله عنه نه روایت دی چي نبي صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلي: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى طَيِّبٌ لاَ يَقْبَلُ إِلاَّ طَيِّباً وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ. فَقَالَ تَعَالَى: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا صَٰلِحًا﴾ (المؤمنون: ۵۱) ، وَقَالَ تَعَالَى: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا كُلُوا مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ﴾ (البقرة: ۱۷۲) ، ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ، أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ: يَا رَبُّ، يَا رَبُّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لَهُ !».

(صحیح مسلم، جـ۲ صـ۷۰۳ رقمـ۱۰۱۵).

ژباړه : یقیناً الله تعالی پاک دی نه قبلوي مګر پاک او یقیناً چې الله تعالی مؤمنانو ته د هغه څه امر کړی د کوم يې چي پیغمبرانو ته امر کړی دی چي : ای پیغمبرانو ! د پاکي روزي څخه خوراک کوئ او صالح عمل تر سره کوئ او

الله تعالى فرمايي : اى مؤمنانو ! خورئ له پاکو ځيزونو څخه کوم چي تاسي ته مي روزي درکړې ، وروسته پيغمبر صلى الله عليه وآله وسلم د هغه کس يادونه وکړه چي خپل سفر اوږدوي ببر ويښتان او په ګردونو ککړ دواړه لاسونو د آسمان په لوري اچتوي او وايي :«اى ربه ! اى ربه !» حال دا چي خوراک يې حرام ، اوبه يې حرامې ، جامه يې حرامه ،او روزنه يې په حرامو په دې حال کي به څنګه الله تعالى د هغه سوال او دعاء قبوله کړي ؟!.

تشريح : انفاق او د الله تعالى په لار کي خيرات او صدقات به د حلال مال څخه وي د حرامو څخه انفاق کول نه قبليږي او خوراک ، څښاک ، جامه او نور به د حلالي نفقې څخه وي او حتى د مشتبهاتو څخه به نه وي .

هغه څه پرېږده چي تا په شک کې اچوي:

له ابو محمد حسن بن علي بن ابي طالب رضي الله عنهما څخه روايت دى چي وايي: «دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ» .

(السنن الصغرى للنسائي، جـ٨ صـ٣٢٧ رقمـ٥٧١١/ السنن الكبرى للنسائي، جـ٥ صـ١١٧ رقمـ٥٢٠١).

ژباړه: هغه څه چي تا په شک کي اچوي پرېږده او هغه څه چي تا په شک کي نه اچوي هغه واخله.

تشريح : د "يَرِيبُكَ" معنى دا چي هغه څه پرېږده چي تا په شک او تشويش کي اچوي او هغه څه وکړه چي په شک کي دي نه اچوي ، په مخکي حديث شريف

کې مو و لوستل چې د مشتبهاتو او شکمنو شیانو څخه پرهیز کول د دین او آبرو ساتل دي «إِنَّ الْحَلاَلَ بَيِّنٌ، وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا أُمُورٌ مُشْتَبِهَاتٌ» د شکمنو څیزونو څخه پرهیز کول د تقوٰی کمال او د حرامو څخه نجات دی، شک کول د آرام او سکون ضد دی، نو دا چې بنده ته آرام او سکون حاصل شي له شکمنو شیانو څخه دي پرهیز وکړي او هغه شکونه چې اصل ونلري شیطاني وسواس بلل کیږي هغه لره څه اعتبار نشته. مثلاً د اودس کولو وروسته سړي ته شک پیدا شي چې آیا ما اودس وکړ او که نه؟ نو دلته یقین دا دی چې اودس یې کړی دی نو به شکونه ترک کوي ځکه چې دا بې ځایه وسواس دي چې د انسان فکر مصروفوي.

د بې ګټې شیانو پرېښودل:

له ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلي: «مِنْ حُسْنِ إِسْلاَمِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لاَ يَعْنِيهِ».
(سنن الترمذي، جـ۴ صـ۵۵۸ رقمـ۲۳۱۸).

ژباړه: د مسلمان سړي د ښیګڼو څخه د بې ګټې او بې معنٰی خبرو او کارونو څخه ځان ژغورل دي.

تشریح: ځیني علماء وایي: د "تَرْكُهُ مَا لاَ يَعْنِيهِ" نه مراد رښتیا خبره کول، د خبرو امانت ساتل او د ناروا او بېهوده خبرو څخه پرهیز کول دي، ما لا

يَعنيه أى ما لا تتعلق به ، يعني کومه خبره چي پر تا پوري اړه او تعلق نلري په هغه کي خبري او مداخله کول پکار نه دي .

د ایمان او اسلام وروڼه :

له ابي حمزه انس بن مالك رضي الله عنه خادم د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم نه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فرمايلي دي :

«لاَ يُؤْمِنُ أَحَدَكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ» .

(صحيح البخاري ، جـ١ صـ١٢ رقمـ١٣) .

ژباړه: له تاسي څخه څوک کامل مؤمن نشي کيدای تر څو چي څه شی د خپل ځان لپاره خوښوي هغه د خپل ورور لپاره هم خوښ کړي .

تشريح : د "لاَ يُؤْمِنُ" څخه کامل او پوره ايمان مراد دی ، د "حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ" : مطلب دا چي څه شی د ځان لپاره خوښوي له طاعاتو او مباحاتو نو هغه به د خپل مسلمان ورور لپاره هم خوښوي ، په دې کي دنيوي او آخروي ښېګڼې دواړه شاملي دي او په دې کښې د حسد څخه پرهيز دی ځکه حسد کوونکی دا نه خوښوي چي د ځان په شان دي بل کس څه ولري بلکي د هغه تمنا د هغه نه د نعمت زوال وي او ځيني علماء وايي : مؤمن له مؤمن سره داسي دی لکه يو نفس ، نو څه چي د ځان لپاره خوښوي هغه به د خپل مؤمن ورور لپاره هم خوښوي .

ځکه د یو نفس حکم لري ، لکه په حدیث شریف کي چي راغلي : «الْمُؤْمِنُونَ كَالْجَسَدِ الْوَاحِدِ فَإِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالْحُمَّى وَالسَّهَرِ».

یعني : مؤمنان لکه یو جسد داسي دي ، کله چي د هغه یو اندام نا آرام شي نو ټول بدن یې ورسره په پریاد ، تبه او نا آرام شي .

(شرح الأربعین النوویة ، جـ۱ صـ۶۴).

په نبي ﷺ قران نازلیدل او خلک اسلام ته رابلل :

د أم المؤمنین عائشې رضي الله عنها نه روایت دی چي فرمایي: په اوله کي به چي په رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وحي نازلیدې هغه به ښه خوبونه لیدل، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به چي د شپې کوم خوب ولیده هغه به لکه د سهار د رڼا په څیر داسي ښکاره او صحیح ثابتېده. بیا رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته تنهایي خوښه شوه هغه صلی الله علیه وآله وسلم به د حِراء غار ته لاړ او هلته به پر له پسې څو شپې په عبادت بوخت ؤ ، تر څو به چي به خپل کور ته ستون شو او د بیا لپاره به یې ځان تیار کړ ، بیا به د خدیجې رضي الله عنها کور ته لاړ او د هغه ځای نه به یې د نورو ورځو لپاره خوراک واخیست او غار حِراء ته به لاړ تر دې چي هغه صلی الله علیه وآله وسلم ته حق ښکاره شو او جبرائیل علیه السلام ورته راغی او ورته یې وویل:

ووایه (ولوله): رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته وفرمایل: زه لوستونکی نه یم! رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایي: هغه جبرائیل علیه السلام زه دومره کلک ونیولم دومره زور یې را کړ چې ما یې وس نه درلود بیا زه هغه پرېښودلم او را ته یې وویل: ووایه (ولوله) ما ورته وویل: زه لوستونکی نه یم! هغه زه بیا ونیولم او دومره زور یې را کړ چې زما طاقت ځواب را کړ بیا یې پرېښودلم او را ته یې وویل: ولوله ما ورته وویل: زه لوستونکی نه یم.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایي: هغه زه بیا د دریم ځل لپاره ونیولم او دومره زور یې را کړ چې زما حوصلې ماته ځواب را کړ او را ته یې وویل: و وایه: «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ . خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ . اقْرَأْ وَ رَبُّكَ الأَكْرَمُ».

(العلق: ۱،۳).

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د همدغه آیاتونو سره د غار حِراء نه په داسي حال کي د خدیجې رضي الله عنها کور ته لاړ چې د دغې واقعې له امله یې زړه رېږدېده، کله چې د خدیجې رضي الله عنها کور ته لاړ هغې ته یې وویل: ما په کمپله کي ونغاړه، ما په کمپله کي تاو کړه، هغه صلی الله علیه وآله وسلم یې په کمپله کي پټ کړ تر دې چې ارام شو. بیا یې خدیجې رضي الله عنها ته ټوله کیسه وکړه او ورته یې وویل: زه په خپل ځان باندې و ویریدم.

خدیجې رضي الله عنها ورته وویل: نه داسي نه ده په الله قسم چي هغه به تا کله هم رسوا نه کړي، ته د ښو اخلاقو څښتن یې، ته د خپلوانو پوښتنه کوې، د بې کسو او غریبو ملګری او مددګار یې. میلمه نوازیې او د خلکو مصیبتونه لرې کوې، خدیجې رضي الله عنها رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورقة بن نوفل بن اسد ته ورویست، چي هغه د خدیجې رضي الله عنها دتره ځوی و او په جاهلیت کي نصراني شوی ؤ، د عبراني ژبي لیکوال ؤ او هغه به انجیل په عبراني ژبه لیکه، هغه ډېر سپین ږیری شوی ؤ او په سترګو ړوند ؤ، خدیجې رضي الله عنها ورقة بن نوفل ته وویل: ای د تره ځویه! د وراره خبره دي واوره! ورقة بن نوفل رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته عرض وکړ: وراره څه دي ولیدل؟ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم چي څه لیدلي وو د هغې ټوله کیسه یې ورته وکړه.

ورقه چ کله د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خبري واورېدلې ورته یې وویل: دا خو هماغه ناموس تر ټولو اوالعزمه فرښته جبرائیل علیه السلام دی کوم چي موسی علیه السلام ته وحیه راوړې وه، کاش چې زه ستا د نبوت په ورځو کي ځوان او تکړه وای، کاش زه تر هغه وخته ژوندی پاتي شم په کوم وخت کي چي ستا خپل قوم تا له خپل ښاره وباسي، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په تعجب سره وپوښتل: ایا هغوی به ما اوباسی؟!.

ورقة عرض وکړ: چاچي هم ستا غوندي دعوت کړی دی د هغه سره خلکو دښمني کړې ده که چېرته زه په هغه وخت کي ژوندی و اوسم زه به ستا تر ټولو کلک ملګری و اوسم څو ورځې وروسته ورقة بن نوفل مړ شو او د څه وخت لپاره وحیه نازلیدل هم بند شول.
(رواه الترمذي رقم ۳۶۳۲).

د یوه صحابي څو پوښتنې او د رسول الله ﷺ ځوابونه :

۱:ای پیغمبره صلی الله علیه و آله وسلم په کوم شي ګناه معاف کیدلی شي؟

وې فرمایل: په اوښکو ،عاجزۍ او بیمارۍ سره.

۲ :زه ستر عالم جوړیدل غواړمه؟

وې فرمایل: تقوٰی غوره کړه عالم به جوړ شې.

۳ : زه مالدار کیدل غواړمه؟

وې فرمایل: قناعت اختیار کړه مالدار به شې.

۴: زه نیک انسان جوړیدل غواړمه؟

وې فرمایل: خلکو ته نفع رسوه.

۵: زه عادل جوړیدل غواړمه؟

وې فرمایل: کوم شي چي ځانته خوښوې هغه نورو ته هم خوښوه.

۶: د الله تعالی په دربار کي خاص مقام غواړمه؟

وې فرمایل: په کثرت سره ذکر کوه.

۷: احسان کوونکی جوړیدل غواړمه؟

وې فرمایل: الله تعالی ته داسي عبادت کوه ګویا ته هغه وینې یا داسي چي هغه تا ویني.

۸: د ایمان پوره کیدل غواړمه؟

وې فرمایل: ښه اخلاق ولره.

۹: دالله تعالی تابعداره جوړیدل غواړمه؟

وې فرمایل: فرایض په کلکه سره ونیسه.

۱۰: د قیامت په ورځ په نور کې پاځیدل غواړمه؟

وې فرمایل: پر خلکو له ظلم کولو ځان وساته.

۱۱: غواړم چې الله تعالی په ما رحم وکړي؟

وې فرمایل: ته پر نورو خلکو رحم کوه.

۱۲: په ګناهونو کې کمی غواړمه؟

وې فرمایل: په کثرت سره استغفار کوه.

۱۳: زه د عزت څښتن جوړیدل غواړمه؟

وې فرمایل: د مخلوق په مخ کي لاس نیول پر یږده (یعنی سوال).

۱۴: د رزق پراختیا غواړمه؟

وې فرمایل: همیشه په اودس کي اوسه.

۱۵: کوم شی د دوزخ اور یخوي ؟

وې فرمایل : روژه نیول.

۱۶: کوم شی د الله تعالی غصه سړوي ؟

وې فرمایل : په پټه صدقه او صله رحمي .

۱۷: تر ټولو لوی بد کار څه شی دی ؟

وې فرمایل: نا سم چلند او بد اخلاقي .

۱۸: تر ټولو لویه نیکي څه شی ده ؟

وې فرمایل: نیک اخلاق ،عاجزي ،صبر په مصیبت او رضا بالقضٰی .

۱۹: غواړمه چې الله تعالی زما ستر او پرده وکړي ؟

وې فرمایل : ته د نورو خلکو پرده کوه .

۲۰: رسوایې او شرمندګی نه بچ کیدل غواړمه ؟

وې فرمایل: زنا نه ځان بچ کړه .

۲۱: د دعاګانو قبولیت غواړمه ؟

وې فرمایل: حرام مه خوره .

۲۲: د الله تعالی د غصې نه بچ کیدل غواړمه ؟

وې فرمایل : په خلکو باندې غصه مه کوه .

۲۳ : غواړمه چې د الله تعالی او رسول صلی الله علیه وآله وسلم محبوب جوړ شم ؟

وې فرمايل: کوم شی چې د الله تعالی او پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم محبوب دی هغه خپل محبوب جوړ کړه

۲۴: غواړم الله تعالی ته د قيامت په ورځ پاکيزه پيش شمه ؟

وې فرمايل : د جنابت نه وروسته فوراً غُسل کوه .

(کنزالعمال: ۴۴۱۵۴).

د نبي ﷺ پوښتني او د صحابه کرامو ځوابونه:

يو وخت رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د خپلو صحابه کرامو سره ناست ؤ او د هغوی څخه يې پوښتني کولې، نو لومړۍ يې د حضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه او وې ويل: يا ابابکر ! په دنيوي شيانو کي دي څه شي خوښ دی؟

حضرت ابوبکر الصديق رضی الله عنه وويل: له دنيا څخه مي درې شيان خوښ دي:

لومړي: ستا په حضور کي کښېنستل.

دويم : ستا مبارک مخته کتل.

درېيم : پر تا باندي خپل مال مصرفول.

رسول الله صلی الله عليه واله وسلم دويمه پوښتنه د حضرت عمر رضي الله عنه څخه وکړه او وې فرمايل : ستا څه شي خوښ دي يا عمر ؟

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وویل: زما هم له دنیوي شیانو څخه درې خوښ دي:

لومړی: امر بالمعروف که څه هم په پټه سره وي.

دویم: نهي له منکره که څه هم په ښکاره سره وي.

درېیم: حق ویل که څه هم ترخه وي.

نبي صلی الله علیه وآله وسلم بیا وفرمایل: او ستا څه شي خوښ دي یا عثمان!

حضرت عثمان ذي النورین رضی الله عنه وویل: زما هم له دنیوي شیانو څه درې شیان خوښ دي:

لومړی: د خوړو ورکول (سخا).

دویم: د سلام نشرول (هر چاته السلام علیکم ویل).

درېیم: د شپې په هغه برخه کې لمونځ کول چې خلک بیده وي.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم بیا وفرمایل: ستا څه شي خوښ دي یا علي؟

حضرت علي رضي الله عنه وویل: زما هم له دنیوي شیانو څخه درې شیان خوښ دي:

لومړی: د میلمه عزت کول.

دویم: د دوبي په ګرمیو کې روژه نیول.

درېیم: په تُوره د اسلام دښمن وهل.

او بيا رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم حضرت ابوذر الغفاري رضي الله عنه ته وفرمايل: او ستا څه شي خوښ دي يا اباذر؟

حضرت ابوذر رضى الله عنه وويل: زما په دنيا کي درې شيان خوښ دي:

لومړي: لوږه.

دويم: ناروغي.

درېيم: مرګ.

جناب رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل: ولي يا اباذر؟

ابوذر رضي الله عنه وويل: لوږه مي د دې لپاره خوښه ده چي زړه نرموي.

ناروغي مي د دې لپاره خوښه ده چي ګناهونه رژوي.

مرګ مي د دې لپاره خوښ دی چي د خپل رب جل جلاله ملاقات ته ورځم.

د مسلمان دويني حرمت:

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چي نبي صلى الله عليه وآله وسلم فرمايلي: «لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ، إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: الثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ».

(صحيح المسلم، جـ٣ صـ١٣٠٢ رقمـ ١٦٧٦).

ژباړه: د مسلمان د وينې تويول حرام دي مګر په سبب د دغو دريو شيزونو : کونډه (او واده شوې) ښځه چې کله زنا وکړي ، څوک چې بل کس په نا حقه ووژني قصاص او څوک چې مرتد شي او د مسلمانانو جماعت پرېږدي .

تشريح : د مسلمان ناحقه قتل حرام دی او ډېره عظيمه ګناه ده ، الله تعالی دې مونږ ترې وساتي الله تعالی فرمايي : ﴿وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾ .

(النساء:٩٣).

ژباړه : او هر څوک چې مړ کړي کوم مؤمن په قصد سره نو جزا د ده دوزخ دی چې تل به وي دئ په دوزخ کي او غضب کړی دی الله تعالی په ده باندې او لرې کړی يې دی دا (قاتل) له خپل رحمت څخه او تيار کړی يې دی دته عذاب ډېر لوی .

په بل حديث شريف کې راځي : الله جل جلا له ته د مسلمان له وژلو څخه د ځمکې رنګېدل او ورانېدل آسانه دي ، کما قال صلی الله عليه وسلم :«زَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللَّهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ» .

(رواه الترمذي رقم-١٣٩٥).

مګر په دريو صورتونو کې د مسلمان قتل د اسلامي محاکمې د ثبوت او تحقيق وروسته جايز دی :

واده شوی سړی او ښځه چې کله زنا وکړي ، کوم کس چې بل مسلمان په ناحقه قتل کړي نو هغه به قصاص کیږي او مرتد چې د اسلام له دین څخه ګرځیدلی وي.

د خاوند د ورور سره د ښځي د ستر حکم :

عقبةَبن عامر رضي اللهُ عنه وایي چې رسُول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل : «إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ» فَقَالَ: رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ: يَا رَسُولَ اللهِ أَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ؟ قَالَ: «الْحَمْوُ الْمَوْتُ».

(صحیح مسلم، جـ۴ صـ۱۷۱۱ رقمـ۲۱۷۲).

ژباړه : تاسی بیګانه ښځو باندې د ورتلو څخه ځانونه وساتئ نو د انصارو یو سړي وویل : یارسول الله ! ایا دلېور سره دورېنداري ملاقات او یو بل سره ناسته پاسته جواز لري؟!.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته وویل: لېور مرګ دی.

تشریح : یعني د خاوند لپاره دا مهمه ده چې دخپل ورور څخه د خپل میرمني پرده وساتي ، ځکه د پردي څخه دومره د شر دپېښیدلو امکان نسته لکه دخپل نژدې قریب څخه ، نو هیڅ وخت د خپل ښځې او ستا د ورور تر مېنځ د ملاقات او یوازیتوب فرصت مه ورکوه ، ځکه شیطان به یې دریم یي او (حمو) د خاوند ورور ته او د هغه نورو قریبانو ته چې د خاوند سره کورنی اړیکي لري

وايي او امام مسلم رحمه الله وايي : د ماما زوی ، د عمه زوی ، دخاله زوی او داسی نور ددې ټولو څخه پردہ کول لازمي دي او په "الْحَمُوُ" کي داخل دي .

د ژبي د ساتني اهميت :

له ابی هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول اکرم صلی الله عليه وآله وسلم فرمايلي: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْراً أَوْ لِيَصْمُتْ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ» .

(صحيح البخاري، جـ٨ صـ١١ رقمـ٦٠١٨ / صحيح مسلم، جـ١ صـ٦٨ رقمـ٤٧).

ژباړه: څوک چي په الله تعالی او ورځ د آخرت ايمان لري، بايد د خير خبري وکړي يا چوپ اوسيږي او څوک چي په الله تعالی او په ورځ د آخرت ايمان لري، بايد خپل ګاونډی محترم وګڼي عزت او اکرام يې وکړي او څوک چي په الله تعالی او په ورځ د اخرت ايمان لري بايد د خپل مېلمه عزت وکړي .

تشريح : دا قول : "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْراً أَوْلِيَصْمُتْ" معنیٰ دا چي څوک کامل ايمان لري نو هغه دي د خير خبره کوي او يا دي چوپ اوسي ، ځکه چي داسي کول د الله تعالی د رضاء او د عذاب څخه د نجات سبب ګرځي، لقوله تعالی: ﴿إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا﴾ .

(الإسراء:آيتـ٣٦).

ژباړه: بې له شکه ، چې د غوړ ، سترګي او زړه هر يو له دغو څخه به پوښتنه وکړی شي (په قيامت کي چي تا ولي په دنيا کي ګناه کوله د هغه سؤال به درنه کيږی) .

په دم او تعوهذ سره شفاء موندل:

أبي سعيد رضي الله عنه وايي چي : «انْطَلَقَ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفْرَةٍ سَافَرُوهَا، حَتَّى نَزَلُوا عَلَى حَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ العَرَبِ، فَاسْتَضَافُوهُمْ فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمْ، فَلُدِغَ سَيِّدُ ذَلِكَ الحَيِّ، فَسَعَوْا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لاَ يَنْفَعُهُ شَيْءٌ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَوْ أَتَيْتُمْ هَؤُلاَءِ الرَّهْطَ الَّذِينَ نَزَلُوا، لَعَلَّهُ أَنْ يَكُونَ عِنْدَ بَعْضِهِمْ شَيْءٌ، فَأَتَوْهُمْ، فَقَالُوا: يَا أَيُّهَا الرَّهْطُ إِنَّ سَيِّدَنَا لُدِغَ، وَسَعَيْنَا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لاَ يَنْفَعُهُ، فَهَلْ عِنْدَ أَحَدٍ مِنْكُمْ مِنْ شَيْءٍ؟ فَقَالَ بَعْضُهُمْ: نَعَمْ، وَاللَّهِ إِنِّي لَأَرْقِي، وَلَكِنْ وَاللَّهِ لَقَدِ اسْتَضَفْنَاكُمْ فَلَمْ تُضَيِّفُونَا، فَمَا أَنَا بِرَاقٍ لَكُمْ حَتَّى تَجْعَلُوا لَنَا جُعْلًا، فَصَالَحُوهُمْ عَلَى قَطِيعٍ مِنَ الغَنَمِ، فَانْطَلَقَ يَتْفِلُ عَلَيْهِ، وَيَقْرَأُ: الحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ فَكَأَنَّمَا نُشِطَ مِنْ عِقَالٍ، فَانْطَلَقَ يَمْشِي وَمَا بِهِ قَلَبَةٌ، قَالَ: فَأَوْفَوْهُمْ جُعْلَهُمُ الَّذِي صَالَحُوهُمْ عَلَيْهِ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: اقْسِمُوا، فَقَالَ الَّذِي رَقَى: لاَ تَفْعَلُوا حَتَّى نَأْتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَذْكُرَ لَهُ الَّذِي كَانَ، فَنَنْظُرَ مَا يَأْمُرُنَا، فَقَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ، فَقَالَ: «وَمَا يُدْرِيكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ»...

ثُمَّ قَالَ: «قَدْ أَصَبْتُمْ، اقْسِمُوا، وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ سَهْمًا» فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» .

(صحيح البخاري، جـ٣ صـ٩٢ رقمـ٢٢٧٦ / صحيح المسلم رقمـ٢٢٠١).

ژباړه: د أبو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دی چي وايي: د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یوه ډله صحابه په سفر لاړل، هغوی د عربو یوې قبیلې سره پړاؤ واچوه، صحابه کرامو وغوښتل چي دغه قبیله د دوی مېلمستیا وکړي، خو هغې قبیلې انکار وکړ او دوی یې میلمانه نه کړل، د دغه قبیلې مشر مار وچیچه د قبیلې غړو د هغه هر رقم علاج وکړ، مګر د هغوی دغه علاج هیڅ فائده ونه کړه , د قبیلې یو کس وویل: که دغه کسانو ته ورشو چي هغوی دلته پړاؤ اچولی کېدای شي د هغوی سره څه وي، هغوی د أصحابو رضي الله عنهم ځای ته راغلل او ورته یې وویل: ای خلکو! زمونږ د قبیلې مشر مار چیچلی دی مونږ ډېر کوشش وکړ خو هیڅ فائده یې ونه کړه په تاسو کي کوم کس څه لري ؟!.

یو صحابي رضي الله عنه وویل: هو! په خدای قسم! زه دم کوم، مونږ ستاسو نه مېلمستیا وغوښته خو تاسو انکار وکړ تر هغې به زه دم ونه کړم تر څو چي تاسو ماته عوض را نه کړی هغوی، هغه ته د اوزو د رمي ورکولو وړاندیز وکړ هغه صحابي په هغه کس باندي د فاتحې سورت لوسته او دم یې پرې اچوه تر

دې چې هغه ښه شو, داسې ښکارېده لکه چا چې د ترلو څخه خلاص کړی وي هغوی چې د صحابې سره کومه وعده کړې وه هغه یې ورکړه.

په أصحابو رضي الله عنهم کې یو کس وویل: راځئ چې دا اوزې په خپلو کې تقسیم کړو، کوم صحابي چې دم اچولی ؤ هغه وویل: صبر وکړی تر څو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته ورشو او هغه ته ټوله کیسه ووایو، چې هغه څه حکم کوي؟!.

کله چې هغوی د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په خدمت کې حاضر شول ټوله کیسه یې ورته وکړه، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته وفرمایل: ته څنګه پوه شوې چې په دې (د فاتحې سورة) سره دم کیږي، بیا هغه صلی الله علیه وآله وسلم وفرمایل: تاسو ښه وکړل او حق ته رسېدلي یاست، بیا رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وخندل او ویې فرمایل: اوس هغه عوض تقسیم کړی او زما برخه هم په کې وکړئ.

د حدیث فائدې:

اول: که چېرته به چا د صحابه کرامو سره بد وکړل، نو هغوی رضی الله عنهم به ورسره ښه کول.

دویم: په سورة فاتحې سره د زهر لرونکي شیانو دم کیږي.

دریم: قرآن کریم کې د هر مرض علاج شته، الله تعالی فرمایلي: ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾. (سورة الإسراء: آیت-۸۲).

څلورم : صحابه کرامو رضي الله عنهم به د حرامو شيانو څخه سخته وېره کوله او ځان به يې ترينه ډېر په احتياط کي ساته ، لکه دغه کيسه کي چي صحابه کرامو د هغه اوزو د تقسيم خبره وکړه او بل صحابي ورته وويل: چي تر څو نبی صلی الله علیه و آله وسلم ته نه يو ورغلي او د هغه نه مو پوښتنه نه وي کړي دا کار مه کوئ.

پنځم : د يو چا په دمولو او تعويذ ورکولو سره د دم او تعويذ پيسې اخيستی شي.

د مرابط مجاهد اجر:

حضرت سهل بن حنظله رضي الله عنه وايي : د حنين په غزوه کي رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم اصحابو ته وفرمايل : چي نن به څوک پيره وکړي ؟ حضرت انس بن ابي مرثد رضي الله عنه عرض وکړه يا رسول الله ! داسعادت به زه د ځان لپاره وګڼم ،نبي صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمايل : نو په خپله سپرلي سپور شه ! نوموړی په خپل آس سپور شو او د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کي حاضر شو ، نبي صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمايل : د هغه مخامخ غره په لوړه څوکه ودرېږه په پوره ډول بيدار اوسه ، داسي نه چي ستا د غفلت يا بي پروايي له امله زمونږ لښکر د دښمن د فريب ښکار شي.

حضرت انس رضي الله عنه د أمر له اوریدلو سره سم د خپل ځار ځای په لوري ولاړ.

کله چې سهار شو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د لمانځه ځای ته راغلی له دوه رکعته لمانځه څخه وروسته یې له خپلو صحابه کرامو څخه وپوښتل چې تاسو د خپل سپور په اړه کوم خبر لرئ ؟!.

هغوی ځواب ورکړ چې تر دا مهاله کوم خبر نه لرو ، دا وخت کې د سهار د لمانځه لپاره اقامت شروع شو ، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په دې وخت کې هغه غره ته متوجه ؤ ، کله چې لمونځ وشو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم صحابه کرامو ته وویل : مبارک مو شه ستاسو سپور (پهره دار) راغلی ، مونږ چې کله د درې په لوري وکتل په دې وخت کې سمدستي دونو له منځ څخه انس بن مرثد رضي الله عنه را ښکاره شو ، کله چې را نیږدې شو له خپل آس څخه کښته شو او د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په خدمت کې حاضر شو ، له السلام علیکم څخه وروسته رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د شپې حال ځیني وپوښتلو ؟!.

حضرت انس رضي الله عنه ورته وویل : زه ستاسو له أمر سره سم له دې ځای څخه ولاړم او د درې په پای کې د غره هغه لوړې څوکې ته مې ځان ورساوه کومه چې تا را ښودلې وه ، هلته مې ټوله شپه پیره وکړله ، کله چې سهار شو د غره نورو برخو ته هم ورغلم ټول طرفونه مې ښه وکتل ، کوم لور ته مې هم

دښمن تر سترګو نه شو، کله چې ښه مطمین شوم بیرته ځینې راغلم، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم پوښتنه ځنې وکړه چې د شپې له آس څخه ښکته شوی یې استراحت دې وکړ؟ نوموړی ځواب ورکړ یا رسول الله! نه، یوازې د لمانځه او طهارت لپاره ښکته شوم بیرته سمدستي په خپل آس سپور شوم او خپله پیره مې پیل کړه.

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته وفرمایل: تا نن د الله رب العزت په لاره کې پیره وکړله او جنت دې د ځان لپاره واجب کړ، ستا له ددې عمل څخه وروسته که ته بل هیڅ (نفلي) عمل ونه کړې هم دا ستا لپاره کافي دی.

د عرش د سیوري ورکسان:

د قیامت ورځ ډېره زیاته سخته او درنه ورځ ده، زموږ او ستاسو خو حیثیت څه دی؟ لوي لوي نېکان، متقیان، علماء، اولیاء تر پیغمبرانو پورې به ټول پرېشان وي، د قیامت ورځ ډېره اوږده او ټول خلګ به د حشر په میدان کې راغونډ وي، د لمر د نږدې کېدو له امله به خولې بهېږي، د ځمکې ګرموالې به دومره سخته وي چې د پښو کېښودل به تر وس وتلی کار وي، د چا سره به د بل هیچا فکر نه وي، له دغه سخت حالته به څوک نه تښتېدلی شي او نه به ترې ځان په بله طریقه خلاصولی شي. لیکن ځینې نېکمرغه خلګ به داسې وي چې الله جل جلاله به د عرش تر سایې لاندې ځای ورکړی وي...

او له ټولو سختيو به په امن وي ، هغوی به نه يوازې د قيامت د ورځې له سختيو په امن وي بلکې وروسته را روان حالات به يې هم د امن او خوشحالی وي ، د دې سيوري لاندې هغه څوک را تلی شي چې د دې اسباب يې عملي کړې وي ، د دې سيوري لپاره ځينې اسباب شته چې په احاديثو کې بيان شوي دي.

اوه کسان يې په دې حديث کې ذکر شوي دي :

أبي هُرَيرة رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ، يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: الإِمَامُ العَادِلُ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي المَسَاجِدِ، وَرَجُلاَنِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ، وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ، أَخْفَى حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ».

(صحيح البخاري ،صـ٩١ بيروت جـ١ صـ١٣٣ رقمـ ٦٦٠).

ژباړه : له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل : اوه کسان دي الله جل جلاله دوی ته په هغه ورځ سيوری ورکوي په کومه به چې د ده له سيوري پرته بل سيوری نه وي هغه دا دي :

اول : عادل باچا .

دويم : هغه ځوان چې د الله جل جلاله په عبادت کې لوی شي .

دریم: هغه سړی چي زړه یې د مسجدونو سره تړلی وي .

څلرم : هغه دوه کسان چي د الله تعالی د رضا لپاره دیوه او بل سره محبت کوي، په دې محبت سره جمع شوي او پرې جلا شوي وي .

پنځم : هغه سړی چي داسي ښځه یې ګناه ته دعوت کړي، چي د منصب او ښائست خاوندہ وي، دئ ووایي : زه له الله جل جلاله څخه ویریږم .

شپږم : هغه سړی چي یوه صدقه وکړي، نو خپله صدقه دومره پټه کړي تر دې چي چپ لاس یې په هغه څه چي شی لاس یې مصرفوي نه پوهیږي .

اووم : هغه سړی چي الله جل جلاله د یوازیتوب په حال کي یاد کړي نو تر سترګو یې اوښکي وبهیږي !!

په دې حدیث کي اوه داسي خوش نصیبه کسان ذکر شوي دي چي الله جل جلاله دوی ته په خپل سیوري کي ځای ورکوي .

تشریح : له سیوري څخه مراد د عرش سیوری دی لکه څنګه چي په بل حدیث کي دا بیان راغلی دی . په دوی کي لومړنی کس عادل باچا دی . عدل سخت کار دی، له دې امله عادل ته دغه لوړه درجه ورکول کیږي . په دې حدیث کي عادل باچا ذکر شوی دی خو له بل حدیث څخه معلومیږي چي هر هغه څوک چي عدل وکړي، هغه ته الله پاک تر عرش لاندي ځای ورکوي . دویم هغه ځوان دی چي ځواني یې د الله جل جلاله په عبادت کي تېره کړه . ځواني

ليونتوب دی، په دې زمانه کي خپلي نفسي غوښتني پر پښو دل او د الله جل جلاله عبادت کول الله جل جلاله ته ډېر قدر لري.

د خديجې رضي الله عنها واده :

کله چي رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د خپل تره تر سر پرستی لاندي وو او په دې پوی شو چي تره يې يو خو اولادونه ډېر لري او تر څنګ يې اقتصاد هم ډېر کمزوری دی، نو د خپل تره سره د مرستې په موخه د کار کولو په فکر کې شو. خو د کار لپاره د نبي صلی الله عليه وآله وسلم سره هيڅ پيسه هم نه وه.

کله چي د رسول اکرم صلی الله عليه وآله وسلم د تجارت کولو ارادې خبر د مکې تر ټولو زياتي شتمني مير منې بي بي خديجې رضي الله عنها ته ورسيد، نو بي بي خديجې رضي الله عنها رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ته په داسې حال کي په خپل مال باندي د تجارت کولو بلنه ورکړه چي د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم د ديانت، امانت دارۍ او رښتينولۍ ستاينې يې له پخوا څخه اوريدلې وې، له همدې امله يې پرته له کوم فکر او غور، زيات اندازه مال د تجارت لپاره د رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم په خدمت کي حاضر کړ او دا يې هم ورته وويل کومه اندازه بدل چي زه نورو ته ورکوم تا ته د هغه دوه برابر درکوم.

رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم هم دا بلنه ومنله او د بي بي خديجې رضی الله عنها مال د تجارت لپاره وړلو سره سم يې په هغه کي خورا زياته ګټه وکړه ، د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم سره په دې سوداګريز سفر کي د بي بي خديجې غلام مَيسره هم ملتيا کوله ، کله چي دوی بيرته مکې ته راستانه شول نوموړي غلام (ميسره) بي بي خديجې رضي الله عنها ته د رسول اکرم صلى الله عليه وآله وسلم د نيکو اخلاقو او امانت داری چي خپله يې هم شاهد وو خورا زيات اوصاف بيان کړل.

بي بي خديجې رضی الله عنها چي د خپل غلام څخه د رسول صلى الله عليه وآله وسلم ستاينې واوريدې نو رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ته يې په داسي حال کي د نکاح او واده کولو پيغام ورولیږه چي له دې مخکي د مکې لويو لويو سردارانو د بي بي خديجې رضی الله عنها سره د واده غوښتنه کړې وه خو هغې نه وه منلې ، رسول اکرم صلى الله عليه وآله وسلم له خپلو ترونو ابو طالب او حمزه رضی الله عنه سره ټاکل شوي ځای ته ولاړ هلته بي بي خديجې رضی الله عنها هم خپل تره عمر بن سعد ته احوال وليږه ترڅو راشي او د هغوی نکاح وتړي (هغه وخت د بي بي خديجې رضی الله عنها پلار وفات وو) د بي بي خديجې رضی الله عنها د تره له راتلو سره سم نکاح وتړل شوه دا هغه وخت وو چي د نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم مبارک عمر ۲۵ کاله او د بي بي خديجې رضی اللهي عنها عمر ۴۰ کـــاله وو.

د ذي امر غزا :

د ذي امر غزا د أحد له غزا څخه مخکي د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په مشري د هجرت په دریم کال د محرم په میاشت کي پیښه شوله :

ددي غزا انګیزه دا وه چي رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په مدینه منوره کي خبر تر لاس کړ چي چي د بني ثعلبه د قبلې خلګ را ټول شوي تر څو د مدینې منورې په شا او خوا کي لوټمار وکړي ، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مسلمانان سره را ټول کړل او د څلور سوه تنو پیاده او سپرو مجاهدینو سره له مدینې منورې څخه ووتل ، په مدینه کي یې حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه د ځای ناستي په حیث پرېښود .

کله چي دوی له مدینې منورې څخه لیرې ځه د باندي ووتل د جبار په نوم یې د بني ثعلبه د قبیلې یو نفر اسیر کړ ، صحابه کرامو رضوان الله علیهم هغه د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم حضور ته راوست ، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ورته د اسلام دعوت ورکړ هغه هم اسلام قبول کړ ،

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نوموړی کس بلال رضی الله عنه ته وسپاره ، هغه کس هم د اسلام د لښکر د رهنمایي دنده پر غاړه واخستله ،د بن ثعلبه قبیلي جنګیالیو چي د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د لښکر د را تګ خبر واوریده د غرونو په لور وتښتیدل او هلته سره تیت شول ، رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم له خپل لښکر سره د دښمن د را ټولیدلو ځای ته

ورسیدلو ، دوی د ذي امر په نوم د ځاه په شا او خوا کي سره را ټـول شوي وو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د سفر تقریبا ټوله میاشت هلته تـیره کړلـه تـر څو د منطقي عربان د مسلمانانو قوت او نظامي ځواک ووینې او ویـره بانـدي خپره شي .

دي غزا کي اګر که کومه نښته را منځ ته نه شوله خو مسلمانانو تـه یـي ډیـره ګټه ورسوله د مسـلمانانو د ځـواک او لښـکر اوازه پـه ټولـو عربـانو کـي خپـره شوله .

د قهر او غصي په کابو کولو د جنت زیری :

له ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې یو سړي رسول الله صلی الله علیـه وآله وسلم تـه وویـل : مـا تـه نـصیحت وکـړه ! رسول الله صلی الله علیـه وآلـه وسلم وفرمایل: «لاَ تَغْضَبْ، فَرَدَّدَ مِرَاراً، قَالَ: لاَ تَغْضَبْ».

ژباړه: قهر او غصه مه کوه ، څو ځله یې دا خبره تکـرار کـړه چې : قهـر او غصـه مه کوه او همدارنګه رسول الله صلی الله علیـه وآلـه وسلم فرمـایي «لَا تَغْضَبْ وَلَكَ الْجَنَّةُ».

(المعجم الأوسط، جـ٣ صـ٢٥ رقمـ٢٣٥٣).

ژباړه : مه په غصه کیږه تا لره به جنت وي .

تشريح : د قهر او غصې څخه پرهيز او د هغه کابو کول د متقيانو صفت دی ، د دنيا او آخرت خير دی . الله تعالی فرمايي: ﴿الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاء وَالضَّرَّاء وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾.
(آل عمران : آيت۱۳۴) .

ژباړه : پرهيزكاران هغه کسان دي چي په خوښۍ او ناخوښۍ دواړو حالاتو كي مالونه خيراتوي ، قهر زغمونكي او خلكو ته عفوه كوونكي وي او الله پاک نيكي كوونكي خوښوي او بيا فرمايي : ﴿وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ﴾.
(سورة الشورى :آيت۳۷).

ژباړه : او كله هم چي په قهر شي بخښنه كوي .
جناب رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فرمايي : «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعة، وَلَكِنَّ الشَّدِيدَ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ» .
(مسند أحمد ،جـ۱۲ صـ۱۵۳ رقمـ۷۲۱۹) .

ژباړه : قوي توب او سخت سړي توب په پهلوانۍ كي نده چي څوک ځملوي يا يې ووهي بلكي قويتوب دا دی چي څوک خپل قهر او غصه قابو كړي .
ځكه ژر په غصه كيدونكی او جنګ كوونكي سړی اصلاً ډير ضعيف دی ځكه دی پر خپل عقل او تميز حاكميت نه لري او كله چي د غصې په وجه تكليفونه ورته جوړ بيا افسوس كوي چي كاشكي مي داسي نه وای كړي له عقل او حوصلې مي كار اخيستلی وای ، د قهر په كابو كولو د لوی اجر زيری رسول الله

صلى الله عليه وآله وسلم فرمايلي: «وَمَنْ كَظَمَ غَيْظًا ، ولوْ شاءَ أنْ يُمْضِيَهُ أمْضاهُ مَلأَ اللّهُ قَلْبَهُ رِضًى يَوْمَ القِيامَةِ» .

(كنز العمال، جـ١٥ صـ٩١٧ / جامع الأحاديث ، جـ١ صـ٤٣٣ رقمـ٦٩٥).

ژباړه: څوک چې خپل قهر او غصه کابو کړي الله تعالى به د قيامت په ورځ د ده زړه له خپلې رضاء څخه ډک کړي .

او فرمايي: «مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ، دَعَاهُ اللّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ اللّهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ مَا شَاءَ».

(سنن أبي داود، جـ٤ صـ٢٤٨ رقمـ٤٧٧٧).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فرمايلي دي: څوک چې غصه کابو کړي حال دا چې د هغه په عملي کولو قادر وي ، الله تعالى به هغه د قيامت په ورځ د خلکو د مشرانو په صفت بولي او هغه ته به د حورالعين د انتخاب اختيار ورکوي .

د جهاد ترک د ذلت او عذاب سبب ګرځي :

ابن عمر رضي الله عنهما وايي : د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم څخه مي واورېدل چي فرمايل يې: «إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ».

(سنن أبي داود، رقم٣٤٦٢).

ژباړه : ابن عمر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم څخه روايت کوي چي کله تاسو په عينه بيع او تجارتونو بوخت شئ ، يا د غويو لکۍ ونيسئ (يعني په کښت اوکرونده لګيا شئ) او په کرهڼه خوشحاله ياست ، اوجهاد ايله کړئ ،نو الله تعالى به په تاسو باندي داسي ذلت راولي چي بيا به يې در څخه پورته نه کړي مګر دا چي بېرته مو ايمان جهاد ته مخ ورواړول .

تشريح : يعني کله چي تاسو په ناروا تجارتونو بوخت شئ ، يا په کښتونو اوکروندو باندي لګيا شئ او جهاد ايله کړئ نو د الله تعالى عذاب به درته راشي او الله تعالى به مو په داسي عذاب کې راګېر کړي چي له هرلوري به د ذلت پرته بل څه نه وي درته پاته او دغه عذاب کي به ياست تر هغه چي بېرته مو توبه وکړه او کامل ايمان کي داخل سوئ ،يعني جهاد ته مو دا نګل.

د قران الکریم د تلاوت ثواب:

عبد الله بـن مسعود رضي الله عنـه وايـي چـي رسول الله صلى الله عليـه وآلـه وسلم وفرمایل: «مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ».

(سنن الترمذي، جـ٥ صـ١٧٥ رقمـ ٢٩١٠).

ژباړه: عبدالله بن مسعود رضي الله عنـه وايـي چي رسول الله صلى الله عليـه وآله وسلم وفرمایل: چا، چي د قرانکریم یو حرف ولوست، نـو الله تعالی بـه ورته د دې حرف په مقابل کي یوه نیکي ورکوي او یوه نیکي به پـه لس چنـده وي او زه دا نه وایم، چې الم یـو حـرف دی، بلکې الـف یـو حـرف دی، لام بـل حرف دی او میم بل حرف.

تشریح: رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم دلته په داسي کلمو د اجر او ثـواب ورکولو وعده کړې، چي په معنا یې ثوک نـه پـوهیږي، نـو لـه دې معلومیږي، چي یوازي په تلاوت کولو هم الله تعالی خپـل مسلمان بنـده تـه اجر او ثـواب ورکوي د قرانکریم مینه وال او عاشقان هغه خلک دي، چي تلاوت یې کـوي، په معنا یې ځانونه پوهوي، د ژوند لاري چاري د قران الکریم پـه لارښوونه پر مخ بیایي او په خپل ژوند کي د قرانکریم له امرونو سرغړونه نه کـوي او ټوله هڅه یې دا وي، چي په ژونـد کـي بـه زه د قرانکریم امرونـه منم، د دې لپاره، چي په اخرت کي را ته همدا قرانکریم شفیع وګرځي.

احسان او ښه كول :

له ابي علي شداد بن اوس رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فرمايلي: «إِنَّ اللهَ كَتَبَ الإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ : فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ، وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ، وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ» .

(صحيح مسلم، جـ٣ صـ١٥٤٨ رقمـ١٩٥٥).

ژباړه : يقيناً الله تعالى د هر شي سره نيكي كول واجب كړي دي ، پس كه تاسي قتل كوئ (په حق سره) په نيكه او ښه طريقه يې تر سره كړئ او كله چي تاسي ذبحه كوئ په ښه طريقه يې ذبحه كوئ او هر يو د تاسي به چاړه تيزه كوئ تر څو هغه څاروى چي ذبحه كيږي آساني پكي راشي .

تشريح : قول د (فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ) مطلب عام دى ، په ذبحه ، قصاص ، حد جاري كولو كي به ښه سلوك او نيكي وي ، د حد څخه تيرى به نه وي ، (وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ) معنى دا چي د ذبحې د څاروي سره به احسان كيږي ، هغه بې ضرورته نه كشكول كيږي ، هغه ته به تكليف نه وركول كيږي ، بلكي د شريعت موافق به د هغه مرى د الله تعالى په نوم په تيزه چاړه ذبحه كيږي ، او د الله تعالى په نعمت اعراف كول چي زمونږ لپاره يې مسخر كړي دي او زمونږ لپاره يي غوښه دخوراک لپاره حلاله كړځولې ده .

د جمعې په ورځ غسل کول سنت دی:

سلمان فارسي رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم وفرمايل: «لاَ يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الجُمُعَةِ، وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ، وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ، أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيبِ بَيْتِهِ، ثُمَّ يَخْرُجُ فَلاَ يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ، ثُمَّ يُصَلِّي مَا كُتِبَ لَهُ، ثُمَّ يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الإِمَامُ، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الجُمُعَةِ الأُخْرَى».

(صحيح البخاري، جـ٢ صـ٣ رقمـ٨٨٣).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فرمايي: هيڅ سړی نشته داسي چي د جمعې په ورځ غسل وکړي د وس مطابق نظافت او پاکي ته پاملرنه وکړي په کور کي د تيل او خوشبويي څخه استفاده وکړي (خوشبويي په خپل بدن ووهي) بيا را ووځي داسي چي د چا تر مينځ جدايي جنجال او بد اخلاقي ونه کړي او بيا فرض لمونځ ادا کړي او بيا د امام خبرو ته غوږ ونيسي مګر دا چي ددې سړي ګناهونه به د دغه جمعې څخه تر بلي جمعې پوري معاف کيږي.

نيکي بدي له مينځه وړي (ځو مهم وصيتونه):

له ابو عبدالرحمن معاذ بن جبل رضي الله عنهما نه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «اتَّقِ اللَّهِ حَيْثُمَا كُنْتَ، وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الحَسَنَةَ تَمْحُهَا، وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ».
(سنن الترمذي، جـ۴ صـ۳۵ رقمـ۱۹۸۷).

ژباړه: هر چيري چي يې له الله تعالى څخه وېرېږه، د بدۍ وروسته نيکي کوه تر څو نيکي بدی له مينځه يوسي او د خلکو سره ښه سلوک کوه.

تشريح : دا حديث شريف د جوامع الکلم څخه دی چي رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم امت ته په څو لنډو ټکو کي داسي مهم وصيتونه کړي دي چي په هغه باندي عمل کول د دنيا او آخرت سعادت دی، چي دا وصيتونه په لاندي ډول دي:

اول وصيت : د الله تعالى څخه په هر حالت کي ښکاره او پټه، کوراو بهر، اقامت او سفر، غم او خوشحالی، سختی او آسانی کي وېرېدل او تقوی اختيارول، په تقوی باندي وصيت د الله تعالى هغه وصيت دی چي اولينو او آخرينو پيغمبرانو او ټولو خلکو ته يې کړی دی، لقوله تعالى: ﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ . . .﴾.
(النساء: آيتـ۱۳۱).

ژباړه: او خاص الله تعالی لره دي هغه چي په آسمانانو او ځمکو کـي دي او مونږ هغو خلکو ته چي له تاسي پخوا مو کتاب ورکړی وو امر کړی ؤ او تاسي تـه يې هم کوو چي له الله تعالی څخه وډار شئ .

او فرمايي : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا الله حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ﴾ .

(آل عمران: آيت ١٠٢).

ژباړه: ای مؤمنانو ! له الله تعالی څخه د هغه د شان په پر تله وډاريږئ او بايد تر مرګه په اسلام ټينګ پاتي شئ ، تقوٰی د اسلامي شريعت د اوامرو پـر ځای کول او منع کړي شيانو څخه پرهيز کول دي او هر چا چي تقوٰی اختيار کړه الله تعالی بـه هغه تـه د دنيا او آخـرت کارونـه آسانه او د داسي طرف نـه زرق ورکوي چې د ده ګمان نه وي ، لقوله تعالی : ﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لا يَحْتَسِبُ﴾ .

(الطلاق: آيت٢، ٣).

ژباړه : او څوک چي د الله تعالی څخه وويريږي الله تعالی ورتـه د ستونزو څخه د وتلو لار جوړوي او هغه ته د داسي لاري نه رزق ورکوي چي په خپله ګمان نه کوي .

دويم وصيت : (وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا) ، کله چي مسلمان د اسلامي شريعت اوامر پر ځای کوي او له منکرا تو څخه ځان ساتي نو معنی دا نه ده چې دا مؤمن متقي دی ځکه چې اولياء الله هم له عيب څخه خالي نه دي ، لکه د عبادت نقص ، په عبادت کي د رياء خطر او نور ، نو ويلای شو چي انسان له خطاء څخه بالکل خالي نه دی ، نو غوره خطاء کوونکی هغه دی چي په خپله غلطۍ او خطاء اعتراف وکړي ، جناب نبی اکرم صلی الله عليه وسلم په توبه او نيکو اعمال د بيړۍ حکم کړی دی چي کله خطاء درڅخه کيږده نو ژر توبه باسئ او په ګناه پسي نيکي کوئ .

او د ګناهونو د محوه کولو ډيري لاري دي چي د مثال لپاره لاندي څو نبوي احاديث بيان شوي دي :

اودس کول ګناهونه محوه کوي ، عثمان بن عفان رضي الله عنه وايي چي نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي : «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ، حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ».

(صحيح مسلم، جـ١ صـ١١٦ رقمـ٢٤٥).

ژباړه: څوک چي اودس وکړي په ښه شان سره نو له بدن څخه يې خطاوي وځي ، حتی که تر نوک لاندي هم وي...

همدارنګه ابی هریرة رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : «أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟» قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ، وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ، وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ، فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ» .
(صحیح مسلم، جـ١ صـ٢١٩ رقمـ٢٥١).

ژباړه : آیا تاسي ته په داسي څیز لارښوونه وکړم چي په هغه سره الله تعالی خطاوي او ګناهونه نابودوي او درجې وربانديي لوړوي ! صحابه کرامو وویل : هو ، یا رسول الله ! ویې فرمایل : په سختۍ کي د اودس پوره کول ، د جومات په لوري ډیر قدمونه اخیستل ، د یو لمانځه وروسته د بل لمانځه انتظار کول پس دا ده پهره (پیره داري) ستاسې .

دریم وصیت : د خلکو سره ښه اخلاق :اول وصیت د الله تعالی تقوی او د هغه سره ښه معامله ، دویم وصیت د ځان اصلاح او دریم وصیت د خلکو سره ښه معامله او ښه سلوک یا خلق حسن ، ښه اخلاق ستره نیکي ده .

ابی هریرة رضي الله عنه وایي : «سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ؟ فَقَالَ : تَقْوَى اللَّهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ»
(سنن الترمذي ، جـ٤ صـ٣٦٣ رقمـ٢٠٠٤).

ژباړه: له نبي صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چي جنت ته به کوم خلک زیات داخلیږي ؟ ویې فرمایل : د الله نه ویریدونکي او د ښو اخلاقو څښتنان.

همدارنګه فرمايي: «مَامِن شَيءٍ اَثقَلُ فِي مِيزاَنِ العَبدِ المُؤمِنِ يَومَ القِيَامَةِ مِن حُسنِ الخُلُقِ وَاِنَّ اللهَ يُبغِضُ الفَاحِشَ البَذِى» (ترمذي).

ژباړه: د قيامت په ورځ به د مؤمن بنده لپاره بل هيڅ يو عمل بغير له ښو اخلاقو نه زيات وزمين نه وي ، الله تعالی بيهوده خبرل کونکی او بې حياء خبري کونکی بد ګڼي .

ښه اخلاق کومو صفاتو لرلو ته وايي ؟!.

حسن بصري رحمه الله اخلاق داسي بيان کړي دي : اخلاق د الله تعالی او د هغه د مخلوق سره د ښه سلوک کولو څخه عبارت دي .

د الله جل جلاله سره حسن خلق دري ارکان لري :

1 : د الله تعالی د اخبارو تصديق کول .

2 : د هغه د احکامو تنفيذ او تطبيق .

3 : د هغه په ابتلاء باندې صبر او خوښي اختيارول .

او د مخلوق سره حسن خلق کول دری ارکان لري :

1 : خلکو ته ضرر نه رسول.

2 : عفوه او بخشش.

3 : پراخه تندی د بل کس د مخامخ کيدو په وخت کي خوشحاله څهره ...

او ځینې علماء وایي: ښه اخلاق عبارت دي له: تواضع، صبر، په ټولو معاملاتو کې صدق او رښتنولي، په وعده باندې وفا کول، د مظلوم مدد کول، د محتاج کومک کول، د مېلمه عزت کول، ګاونډي او ملګري ته په رحم وصیت کول او نور.

حیاء او شرم د بدو کارونو پر وړاندې کلک دېوال:

له ابو مسعود عقبه بن عمرو انصاري بدري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلاَمِ النُّبُوَّةِ الأُولَى: إِذَا لَمْ تَسْتَحِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ».

(صحيح البخاري، جـ٨ صـ٢٩ رقمـ٦١٢٠).

ژباړه: بیشکه هغه څه چې خلکو د پخوانیو پیغمبرانو څخه موندلي: هر کله چې شرم او حیا ونه لرې څه چې دي غوښتل هغه وکړه.

تشریح: قول د «مِنْ كَلاَمِ النُّبُوَّةِ الأُولَى» یعني دا چې ټول انبیاء علیهم السلام وربانديي متفق دي، قول د «فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ» صیغه د امر ده چې د تهدید او وعید لپاره ده، نه د امر لپاره، یعني دا کلمه د اباحت لپاره نه بلکې د تهدید لپاره ده چې که په چا کې حیا نه وي څه چې غواړي هغه دې وکړي «وأعملوا ما شئتم»، ځکه چې حیا له ایمان څخه ده او حیا د ایمان برخه ده «الحیاء من الایمان» او حیا د بدو او فاحشو کارونو مخنیوی کوي او سړی د

خیر طرف ته بیایي لکه څنګه چې ایمان سړی نیکو کارونو ته جلبوي او له بدو کارونو څخه یې منع کوي همداسې حیاء هم ده ځکه دا ایمان یوه برخه ده.

په خپل ایمان کلک دریدل:

دا ابن عمره سفیان بن عبدالله ثقفي رضي الله عنه نه روایت شوی دی چې وایي: «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، قُلْ لِي فِي الإِسْلاَمِ قَولاً لاَ أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَداً غَيْرَكَ، قَالَ: قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ، ثُمَّ اسْتَقِمْ».

(مسند ابن أبي شيبة، جـ٢ صـ-١٩٤ رقمـ٦٧٩).

ژباړه: عرض مې وکړ، ای د الله رسوله! په اسلام کې داسې خبره ما ته ووایه چې له تا پرته یې له بل چا څخه پوښتنه ونه کړم، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ووایه په الله تعالی مې ایمان راوړی دی او بیا پخپل ایمان کلک ودرېږه.

تشریح: معنی د قول «قُلْ لِي فِي الإِسْلاَمِ قَولاً لاَ أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَداً غَيْرَكَ» دا ده چې: ما ته داسې یو جامع خبره را وښیه چې پخپل ذات کې واضح وي او زه د بل کس څخه د هغه وضاحت غوښتلو ته احتیاج نشم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ چې: «قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ، ثُمَّ اسْتَقِمْ».

په دین باندې استقامت دې ته وایي چې: په ظاهري او باطني اطاعات باندې همیشه والې او د منکراتو او ناروا څخه ځان ساتل دي او د دین عظیم مطلب

همدا دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم به همیشه دا دعا کول چي: «اللَّهُمَّ مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ» او مونږ به هم همیشه دا دعا کوو چي یا الله! ستا په دین باندي مو ثابت کړه او خاتمه مو په ایمان وګرځوه، ځکه چي اوس د فتنو دور دی.

(الدعاء للطبراني، جـ١ صـ٣٧٧ رقمـ١٢٥٨).

د جنت لاره:

له ابي عبدالله جابر بن عبدالله انصاري رضي الله عنه نه روایت دی چي: «أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِذَا صَلَّيْتُ الْمَكْتُوبَةَ، وَحَرَّمْتُ الْحَرَامَ، وَأَحْلَلْتُ الْحَلَالَ، أَأَدْخُلُ الْجَنَّةَ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَعَمْ».

(صحیح مسلم، جـ١ صـ٤٤ صـ١٥).

ژباړه: یو سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه ویې ویل چي: ګوره ایا ستا څه نظر دی که فرض لمونځونه ادا کړم، د رمضان روژه ونیسم، او حلال حلال وبولم، او حرام حرام و بولم (د هغه څخه لري ووسوم) او په هغو باندي نور څه زیات نه کړم، آیا جنت ته به داخل شم؟ و یې فرمایل: هو.

تشــريح : سـوال كـوونكى النعمـان بـن قَوْقَـل رضـي الله عنـه وو ، د «وَحَرَّمْتُ الْحَرَامَ» نه دوه څيزونه مراد دي ، اول د حرامو په حرمت باندي ايمان لـرل داسي چي حرام به حلال نه ګڼي او بل د حرامو څخه پرهېز كول .

رسول الله صلى الله عليه واله وسلم سوال كوونكي ته د نفلو ذكر ونـه كړ او دا په دې باندي دلالت كوي چي كله د نفلو ترک كول جواز لري ، مګر كه څوک تطوعات نوافل هيڅ ادا نه كړي نو هغه لويه ګټه او ثواب له لاسه وركړ ، كـه چا د نفلو او سنتو په ترک باندي هميشوالى وكړه د هغه په ديـن كـي نقص دى او كه چا د سستي او تمبلي په وجه ترک كړل هغه فاسق دى .

زمونږ علماء وايي : كه د يو ښار ټول خلک سنت ترک كړي نو د هغوي سره بـه تر هغه پوري قتال كيږي تر څو رجوع وكړي .

خير جامع :

له ابي مالك حارث بن عاصم اشعري رضي الله عنـه نـه روايـت دى چي رسـول الله صلى الله عليـه وسلم فرمايلي: «الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيْمَانِ، وَالْحَمْدُ للهِ تَمْلأُ الْمِيزَانَ، وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ تَمْلآنِ أَوْتَمْلأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، وَالصَّلاةُ نُورٌ، وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ، وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ، وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ، كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو فَبَائِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا».

(صحيح البخاري، رقم ٧٥٦٣).

ژباړه: پاکي او نظافت نیم ایمان دی، او الحمدلله ویل داسي نیکي ده چي د میزان پله ډکوي او سبحان الله او الحمدلله د آسمان او ځمکي منځ ډکوي او لمونځ نور او روښنایي ده او صدقه د ایمان لرلو دلیل دی، او صبر ضیاء او قرآن کریم تالره او په تا باندي دلیل دی، ټول خلک سبا کوي له خپلو کورونو څخه وځي پس خپل ځان خرڅوي، چي یو یې خپل نفس آزادوي له عذاب څخه او بل خپل ځان هلاک وي.

تشریح: د «الطهور» په معنی کي اختلاف دی، ځیني وایي: د الطهور څخه ظاهري او باطني پاکي مراد ده چي ظاهري پاکي په شریعت او باطني پاکي په طریقت (تصوف) راځي، او ځیني وایي: چي اجر ددې د نیم ایمان د اجر سره مساوي دی، ځیني وایي: د ایمان څخه دلته الصلاة (لمونځ) مراد دی چي د لمانځه لپاره طهارت شرط دی نو طهارت داسي دی لکه شطر او د «وَالْحَمْدُ لله تَمْلأُ الْمِيزَانَ» څخه مراد لوی اجر دی چي د میزان پله ډکوي او همدارنګه د «وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلهِ تَمْلآنِ أَوْتَمْلأُ» څخه ستر اجر مراد دی. قول د «وَالصَّلاَةُ نُورٌ» څخه مطلب داسي روښنایي ده چي د ثواب طرف ته بلنه کوي او د فحشاء او ګناهونو څخه سړی ساتي، او یا لمونځ د هغه د صاحب لپاره نور دی په ورځ د قیامت او یا لمونځ د مخ نور دی په ورځ د قیامت. قول د «وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ» یعني صدقه د مؤمن لپاره داسي دلیل دی چي کله د قیامت په ورځ له هغه څخه وپوښتل شي چي مال دي په څه کي لګولی دی نو دی به صدقه د

دليل په توګه يادوي او يا صدقه ورکول دليل دی په ايمان باندي ځکه چي منافق د الله تعالی په لار کي د انفاق او خرچ څخه مخ اړوي او «وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ» ، صبر دري قسمه دی ، د الله تعالی په اطاعت باندي صبر کول ، له ګناهونو څخه د پرهېز کولو صبر ، او په مصيبتونو باندي صبر کول «ضِيَاءٌ» داسې روښنايي چي له ځانه سره حرارت هم لري ،لکه دغه قول د الله تعالی [هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَّالْقَمَرَ نُوراً] .

د لمر سره روښنايي او حرارت دواړه شته ، همداسي صبر له تکليفونو سره وي چي داسي کومک کوي لکه : حرارت په سړه هوا کي «وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ» يعني چا چي په قرآن کريم باندي عمل وکړ د هغه لپاره حجت او دليل وي او که يې د قرآن کريم خلاف عمل وکړ بيا هم په هغه باندي د بغاوت حجت او دليل وي «كُلُّ النَّاسِ يَغْدُوا فَبَائِعُ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا» ددې څخه مطلب ورځني اعمال دي که چا د اسلامي شريعت موافق اعمال تر سره کړه هغه کامياب شو او که چا د شيطان پيروي وکړه هغه خپله ځان هلاک کړ .

په هغو ورځو پسي مي ژاړم چي زه يې نه يم ليدلې:

کله چي په حجة الوداع کي په جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم دغه مبارک آيت نازل شو ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا﴾ (المائده3) ابوبکر صديق رضی الله عنه چي کله دغه مبارک ايت واوريد په ژړا سو صحابه کرامو هغه ته وويل : څه شي وژړولې ځکه دا خو هم د نورو آيتونو په شان يو آيت دی کوم چي په رسول الله صلی الله عليه وسلم نازليدل ، ابوبکر صديق رضی الله عنه وويل : دا آيت د جناب نبی اکرم صلی الله عليه وسلم د رحلت خبر دی .

د حجة الوداع د راګرځيدو (9) ورځي وروسته جناب نبی صلی الله علیه وسلم ته دردونه شروع شول او ويې فرمايل : غواړم د احد د شهيدانو زيارت ته لاړ شم ، د احد د شهيدانو زيارت ته يې تشريف يوړ د هغوی د قبر تر څنګ ورديد او ويې فرمايل : السلام عليکم ای د احد شهيدانو ! تاسي مخکي شوئ او مونږ به هم ان شآء الله تاسي سره پيوسته شو او زه هم تاسي سره يو ځای کيږم .

د زيارت د واپسی نه پس جناب نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وژړل او ښکي يې تويي کړې ، صحابه کرامو رضی الله عنهم وويل : يا رسول الله صلی الله عليه وسلم د څه په خاطر مو وژړل ، جناب نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمايل : د خپلو وروڼو په فراق کي مي وژړل .

صحابه کرامو وویل : ایا مونږ دې ورونه نه یو ، جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : تاسي زما ملګري یاست ، مګر ورونه مي هغه کسان دي چي زما څخه وروسته راځي هغوی زه لیدلی نه یم خو پر ما باندي ایمان راوړي ، الله تعالی دي مونږ ددې کسانو څخه وګرځوي کوم چي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یې په محبت کي اوښکي تویي کړي دي .

که غواړې چه ثابت قدمه ووسې :

هر څوک چي په هغه حدیث شریف کي چه امام بخاری رحمه الله د کتاب په اول کي ذکر کړی دی او ابن عباس رضی الله عنه یې روایت کړی دی فکر وکړي نو عجیبې نښانې به پکي ومومي کوم چي هوښیار سړی هِرقل هغې ته اشاره کړې ده .

حدیث : ابن عباس رضی الله عنه هرقل ته د ابوسفیان رضی الله عنه د تګ په باره کي او د هِرقل پوښتني د محمد صلی الله علیه وسلم په باره کې روایت کوي چي : هِرقل له هغوی پوښتنه وکړه : ایا څوک چي په اسلام کي داخل شي نو هغه د نفرت له وجي بیرته پر یږدي؟ ابوسفیان وویل : نه .

هِرقل وویل : هو د ایمان خصوصیت همدا دی کله چه هغه په زړه کي ځای ونیسي نو زړه د هغه سره مینه پیدا کوي ، دا عجیبه نښانه ده کوم چي هوښیار سړي هِرقل ورته اشاره کړې ده .یعنی په دین باندي تمسک کول پر

محبت او رضایت بنا دی ځکه هر چا چي کوم دین خوښ کړ په هغه باندي منګولي نښلوي او چا چي کوم دین خوښ نه کړ هغه پر یږدي .

د اسلام د مبارک دین خصوصیت دادی چه هر چا د هغه حقیقت درک کړ او په زړه کي یې ځای ونیو بیا که له هر مشکل سره مخ شي هغه نه پر یږدي .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو به د دین خوشحالي د هیڅ کومي بلی خوشحالی سره نه برابروله .

امام مسلم نیشابوري رحمه الله له انس رضی الله عنه نه روایت کوي چه یو کس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او پوښتنه یې ورڅخه وکړه چه : قیامت څه وخت دی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل : د قیامت لپاره دي څه شی تیار کړی دی ؟ ویې ویل د الله تعالی جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت .

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : پس ته به (د قیامت په ورځ) له هغه چا سره یې چي محبت ورسره لري .

انس رضی الله عنه وایي : وروسته د اسلام راوړلو په هیڅ شي دومره نه وم خوشحاله شوی لکه په دې خبره .

انس رضی الله عنه وایي : زه له الله تعالی ،رسول الله صلی الله علیه وسلم ،ابوبکرصدیق او عمرفاروق رضی الله عنهما سره مینه لرم هیله لرم چي د

قيامت په ورځ به له هغوی سره یو ځای شم که څه هم زما اعمال له هغوی سره برابر نه دي.

هملا دلیل ؤ چې صحابه کرامو به د هر ډول اذیت او آزار په مقابل کې صبر کولو که د مکې مشرکینو به هر ډول تکلیف دوی ته رسولو دوی به په هغه باندې صبر کولو، د لوږې په مقابل کې صبر د فقر او غربت په مقابل کې صبر او د الله تعالی په لار کې د هر ډول تکلیف په مقابل کې به دوی صبر کول ،ځکه چې دا یمان محبت ددوی په زړونو کې ریښې تیت کړې وې.

نن ورځ زمونږ مشکل هغه کسان دي چې دوی د اسلام پر وړاندې تبلیغات کوي د خلکو په زړونو کې د اسلام نه نفرت پیدا کوي چې ددې کار لپاره یې قلمونه ،تصویرونه ،فلمونه او سریالونه او ټول امکانات په کار اچولي.

هغوی غواړي چې د کومو کسانو په زړه کې دا نُور دی هغه ورڅخه واخلي او کوم کسان چې دا نُور نه لري هغوی دې ته پرې نږدي تر څو دغه نُور تر لاسه کړي.

انسان کله له داسې ځای څخه ضرر به خوري چې خپله هم نه ورباندې پوهیږي ،د یوه انسان تر ټولو ستره بدبختي دا ده چې له خپل دین څخه نفرت وکړي.

(نعوذ بالله).

همدا وجه وه چي د نبي صلی الله علیه وسلم له دعاوو څخه یو دعا چي ډیره به یې تکرارولـه داوه (یـا مقلب القلـوب ثبـت قلـبي علی دینـک) ای د زړونـو بدلونکی خدایه ! زما زړه ستا په دین ثابت وګرځوه .

هغـوی دا تبلیغـات کـوي چـي اسـلام د پر مختـګ او تکنـالوژی مـانع دی د مسلمانانو واړه اشتباهاتو ته ستر ستر عنوانونه ورکوي تر څو خلک او ټولنـه له هغوی نه متنفر کړي د هغوی هدف اصلاً اشخاص نـه دي او نـه لـه اشخاصو سره کومه شخصي دښمني لري بلکی هدف یې د اسلام د نور له مینځه وړل دي ، نن ورځ دې تبلیغاتو په هغو کسانو هم ښه تـأثیر کـړی دی چي ځانونو تـه مسـلمانان وایـي کـه سـړی د هغـوی اعمالو او خـبرو تـه وګوري نـو لـه ورایـه معلومیږي چي دا کسـان هـم پـه دې مـرض ککـړ شـوي دي چي پـه زړه کـي د ایمان د محبت پـر ځای د بـل شی سره محبت لـري د اسلام پـر ځای کفـري دیموکراسي خوښوي ،د خپلو مسـلمانانو سـره د محبت پـر ځای لـه نـورو بـې دینو سره محبت لري .

همدا یـوه اشاره بـس ده نـور وضاحت تـه ضـرورت نشـته ځکـه هـر څـوک ښه پوهیږي ، په آخر کي له تاسي ښاغلیو څخه یو پوښتنه کوم هغه داچي : ایا ستا څوک خوښ دي چي په قیامت له هغو سره یو ځای شې ؟د انـس رضی الله عنـه په حدیث شریف کي ښه غور وکړئ بیا خپل ځان ته وګورئ چي له چا سره مـو علاقه او مینه ده .

د ظلم حرمت او نصيحت :

له ابو ذر غفاری رضی الله عنه نه روایت دی چي : رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په حديث قدسي کي له الله تعالی روایت کړی دی چي: «يَا عِبَادِي: إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّماً فَلاَ تَظَالَمُوا. يَا عِبَادِي: كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلاَّ مَنْ هَدَيْتُهُ فَاسْتَهْدُونِي أَهْدِكُمْ ، يَا عِبَادِي: كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلاَّ مَنْ أَطْعَمْتُهُ، فَاسْتَطْعِمُونِي أَطْعِمْكُمْ ، يَا عِبَادِي: كُلُّكُمْ عَارٍ إِلاَّ مَنْ كَسَوْتُهُ فَاسْتَكْسُونِي أَكْسُكُمْ ، يَا عِبَادِي: إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعاً، فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْ لَكُمْ ، يَا عِبَادِي: إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوا ضُرِّي فَتَضُرُّونِي، وَلَنْ تَبْلُغُوا نَفْعِي فَتَنْفَعُونِي. يَا عِبَادِي: لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ، مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي شَيْئاً، يَا عِبَادِي: لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ، مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي شَيْئاً، يَا عِبَادِي: لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ، فَسَأَلُونِي، فَأَعْطَيْتُ كُلَّ وَاحِدٍ مَسْأَلَتَهُ، مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلاَّ كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ. يَا عِبَادِي: إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيهَا لَكُمْ ، ثُمَّ أُوَفِّيكُمْ إِيَّاهَا، فَمَنْ وَجَدَ خَيْراً فَلْيَحْمَدِ اللهَ، وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذَلِكَ فَلاَ يَلُومَنَّ إِلاَّ نَفْسَهُ» .

(صحيح مسلم، رقم ٢٥٧٧).

ژباړه: ای زما بندګانو ما پخپل ځان ظلم حرام کړی دی او د تاسي په مینځ کي مي هم حرام ګرځولی دی، پس یو له بل سره ظلم مه کوئ.

ای زما بندګانو! ټول د تاسي لار ورکي او ګمراه یاست مګر هغه څوک چي ما ورته هدایت کړی وي، پس زما څخه هدایت وغواړئ چي زه تاسي ته هدایت وکړم.

ای زما بندګانو! ټول د تاسي وږي یاست مګر هغه کس چي ما هغه ته خوراک ورکړی وي، پس زما څخه خوراک وغواړئ چي زه خوراک درکړم.

ای زما بندګانو! ټول د تاسي لوڅ یاست مګر هغه چي ما پټ کړی وي نو زما څخه جامه وغواړئ چي زه لباس او جامه درکړم.

ای زما بندهګانو! په حقیقت کي تاسي ټول شپه او ورځ خطا کوئ او زه ګناهونه ښښم، نو زما څخه ښښنه وغواړئ چي زه تاسي ته ښښنه وکړم.

ای زما بندګانو! تاسي ددې هیڅ توان او وس نلرئ چي ماته زیان ورسوئ، او هیڅکله نه توانیږئ چي ما ته څه ګټه او فائده ورسوئ.

ای زما بندګانو! کچیري د تاسي داولین څخه تر آخرین او د تاسي اِنس څخه نیولې تر جن پوري ټول یو پرهیزګاره زړه داسي لکه یو زړه د تاسې شئ، یعني چي هر یو پرهیزګاره شئ (ستاسي دغه پرهیزګاري) زما په پاچاهۍ کي څه نه زیاتوي.

اى زما بنده ګانو ! کچيري ستاسي د اولين څخه تر آخرين او ستاسي انس او جن ټول يو بدتره او ناپاکه زړه داسي لکه يو زړه د تاسي شئ ، يعني چي هر يو بد کاره شئ (ستاسي دغه بدکاري) زما په پاچاهۍ کې څه نه کموي .

اى زما بنده ګانو ! کچيرې ستاسې د اولين څخه تر آخرين او ستاسي انس څخه نيولې تر جن پوري ټول زما په درکي ودرېږئ او زما څخه سوال وکړئ او زه هر يو ته جلا د خپلي غوښتني موافق ورکړم زما سره چي څه غوښتني دي په هغه کي کمى نه راځي داسي لکه په درياب کي چي د ستني په ننه ايستلو سره څه کمى نه راځي.

اى زما بنده ګانو ! يقيناً دا ستاسي اعمال دي چي هغه شمارم ،نو هر چا چي ښه په لاس راوړل بايد د الله تعالى شکر اداکړي او چا چي پرته له هغه تر سره کړل د خپل ځان څخه پرته دي بل څوک نه ملامتوي.

تشريح : قول د «إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي» ، د الله تعالى په حق کي ظلم شرک دى ، د الله تعالى په الوهيت ، ربوبيت کي شريک نيول او د هغه جل جلاله پرته د بل چا عبادت کول او بل څوک رب ګڼل د الله تعالى په حق کي ستر ظلم دى ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ ژباړه : بيشکه شرک ډير لوى ظلم دى.

قول د «كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلاَّ مَنْ هَدَيْتُهُ... كُلُّكُمْ جَائِعٌ .... كُلُّكُمْ عَارٍ...» پر بنده ګانو باندي د الله تعالى د سترو نعمتونو ياد دى چي هغو کسانو ته چي حق ته

غاړه ږدي او رجوع کوي هغوی ته یې د قرآن کریم او وحي په نزول سره هدایت کړی ، هغوی انسانانو ته یې رزق حواله کړی دی او هغوی ته یې جامه او د ژوند ټول اسباب په ځمکه کي چمتو کړي دي .

الله سبحانه وتعالی فرمایي : ﴿اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۝ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ (البقرة:٢١)۔

ژباړه: عبادت وکړئ د هغه رب چي تاسي او له تاسي څخه مخکي ټول خلک یې پیدا کړي دي ، تر څو تاسي پرهیزګاران شئ ، هغه ذات چي ستاسو لپاره یې ځمکه وغوړوله . آسمان یې چت جوړ کړ او له پاسه یې اوبه را ښکته کړې ، په اوبو سره یې ستاسي د خوراک لپاره ډول ډول مېوې را وښکلي ، نو باید تاسي هم له الله پاک سره نور شیزونه برخه من ونه ګرځوئ او یوازي د الله پاک عبادت وکړئ .

قول د «إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ» توبیخ دی بنده ګانو لره چي د بنده ګانو لپاره نه ښایي د الله تعالی څخه نافرماني وکړي ځکه شپه او ورځ ددې لپاره دي چي تاسي په هغه کي اطاعت وکړئ ، مګر که چا څخه خطاء او ګناه وشي هغه به د الله تعالی له مهربانی څخه دي نه ناهیلی کیږي ځکه چي الله تعالی خو د ګناهونو ښونکی دی ، په قول د «وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعاً» د

«الذُّنُوبَ» په کلمه باندې الف لام تعريف داخل شوی دی او بيا په قول د «جَمِيعاً» سره تأکيد دی ، لکه چې الله سبحانه وتعالی فرمايلي : ﴿يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لاَ تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾ (الزمر ٥٣).

ژباړه : ای زما بنده ګانو ! کومو کسانو چه پر خپلو ځانونو تېری کړی دی د الله تعالي له رحمت څخه مه نا هيلي کيږی يقينًا الله تعالي ټولی ګناوی ښښي هغه خو ښښونکی او مهربان دی .

قول د «لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ ، مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي شَيْئاً» مطلب دا چې د متقيانو تقوی خپله د هغوی لپاره رحمت دی ، د هغوی لپاره نجات دی د هغوی خپله کاميابي ده د الله تعالی په پاچاهۍ کې څه نه وربانديې زياتيږي .

د اذکارو ویل او د خیر خبره صدقه ده :

له ابو ذر رضي الله عنه نه روایت دی چې یو ډلي د صحابه کرام رضي الله عنهم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل : «يَا رَسُولَ اللهِ، ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالأُجُورِ، يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي، وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ، وَيَتَصَدَّقُونَ بِفُضُولِ أَمْوَالِهِمْ، قَالَ: أَوَلَيْسَ قَدْ جَعَلَ اللهُ لَكُمْ مَا تَصَدَّقُونَ؟ إِنَّ بِكُلِّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةً، وَكُلِّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةً، وَكُلِّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةً، وَكُلِّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةً، وَأَمْرٍ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةً، وَنَهْيٍ عَنْ مُنْكَرٍ صَدَقَةً، وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةً، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ أَيَأْتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ؟ قَالَ: أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِي حرَامٍ، أَكَانَ عَلَيْهِ وِزْرٌ، فَكَذٰلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرٌ».
(رواه مسلم رقم ۵۹۵).

ژباړه : ای د الله رسوله ! د مال او دارايي خاوندان د ثوابونو سره لاړل ټول ثوابونه يې له ځانه سره يوړل هغوی زمونږ په شان لمونځ اداکوي ، او روژه نيسي څنګه چې مونږ روژه نيسو او سربيره پر هغو صدقه ورکوي په سبب د زيادت د مالونو د دوی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : ايا الله جل جلاله تاسي ته داسي شی نه دي در کړی چې په هغه سره صدقه ورکړئ؟ يقيناً هر تسبيح (سبحان الله) ويل صدقه ده ، او هر تکبير (الله اکبر) ويل صدقه ده ، او هر تحميد (الحمدلله) ويل صدقه ده ، او هر تهليل (لااله الا الله) ويل صدقه ده ، په نيکو

کارونو امر کول صدقه ده او د بدو کارونو څخه منعه کول صدقه ده ، او ستاسي لپاره د ښځې سره یو ځای کیدل (کوروالي) صدقه ده ، ویې ویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ایا زمونږ نه چي څوک شهوت پوره کوي د هغه لپاره هم اجر او ثواب دی؟ ویې وفرمایل: مګر کله چي څوک خپل شهوت د حرامي لاري پوره کوي ګناهکاریږي ، پس په همدې ترتیب که هغه له حلالي لاري پوره کړي د اجر او ثواب مستحق ګرځي.

تشریح: «الدُّثُورِ» نه مطلب ډیر مال مراد دی ، او په دغه حدیث شریف کې د اذکارو (الحمدلله ، سبحان الله ، الله اکبر ، لا اله الا الله) ویلو فضیلت ذکر شوی او په آخر کې قول د «وَأَمْرٍ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ، وَنَهْيٍ عَنْ مُنْكَرٍ صَدَقَةٌ» ذکر شوی ځکه چي اذکار ویل نفل دي او امر بالمعروف او نهی عن المنکر محکمه فریضه ده ، دا چې د فرضو اجر تر نفلو زیات دی نو ځکه د اذکارو وروسته یې بیان ذکر شو .

«وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ» د ښځو سره په کورواله کولو کي هم ستاسي لپاره صدقه ده ، مطلب دا چي که د مباح عمل لپاره صالح نیت وي هغه هم اجر او ثواب لري لکه : ښه مباشرت ، په اسلامي طریقه ، د صالح اولاد په نیت نو د ښه او صالح نیت په صورت کي مباح کار هم عبادت دی اجر او ثواب لري .

مسنونه اذکار صدقه د بدن شکرانه ده:

له ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول اکرم صلي الله عليه وسلم فرمايلي: «كُلُّ سُلاَمَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ: تَعْدِلُ بَيْنَ اثْنَيْنِ صَدَقَةٌ، وَتُعِينُ الرَّجُلَ فِي دَابَّتِهِ فَتَحْمِلُهُ عَلَيْهَا أَوْ تَرْفَعُ لَهُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ، وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ، وَبِكُلِّ خَطْوَةٍ تَمْشِيهَا إِلَى الصَّلاَةِ صَدَقَةٌ، وَتُمِيطُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ».

(صحيح البخاري رقم ۲۹۳۹).

ژباړه: ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: هره ورځ چې لمر راخيږي د خلکو په هر يوه بند ه صدقه واجبه ده، که د دوو کسانو تر منځ په انصاف فيصله وکړې دا صدقه ده، که د ځا سره په سپرلۍ کي مرسته وکړې سپور يې کړې يا څه سامان ورسره پورته کړې دا صدقه ده، او خوږه او نرمه خبره صدقه ده، او هر قدم چي د لمانځه لپاره جوماتته اخلي دا صدقه ده، او د لاري څخه د تکليف شی لري کول صدقه ده.

تشريح: د «سُلاَمَى» نه مطلب د بدن بندونه او مفصلونه دي په سنتو کي راغلی چي دانسان په بدن کي (۳۶۰) بندونه وجود لري.

«تَعْدِلُ بَيْنَ اثْنَيْنِ صَدَقَةٌ» يعني: د دوو کسانو په مينځ کي په عدل او د اسلامي شريعت موافق فيصله او جوړجاړی صدقه ده او په احاديثو کي ددې ډير فضيلت راغلی دی مګر په شرط ددې چي حلال حرام او حرام حلال نه

کړي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ، إِلَّا صُلْحًا حَرَّمَ حَلَالًا ، أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا (ابن ماجه جـ٢ صـ٤٨٨)» یعني : د مسلمانانو په مینځ روغه جوړه جایز ده په شرط ددې چي حرام حلال او حلال حرام نه کړي .

د بدن د اندامونو د شکرانې او صدقې په باره کې په بل حدیث شریف داسې راغلي دي : د ابی ذر رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : « يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ ، فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ ، وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ ، وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ ، وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ ، وَنَهْيٌ عَنْ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ ، وَيُجْزِئُ مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنْ الضُّحَى »

(صحیح مسلم رقم ١١٨١) .

ژباړه : د انسان په هر بند باندي صدقه لازمه ده ، هر سبحان الله ویل صدقه ده ، هر الحمدلله صدقه ده ، هر لااله الا الله ویل صدقه ده ، هر الله اکبر صدقه ده ، په نیکی باندي امر کول صدقه ده ، د بدو او ناوړو کارونو څخه منع کول صدقه ده او ددې ټولو پر ځای دچاښت ددوو رکعتونو لمونځ کول کفایت کوي.

د نیکۍ او ګناه نښې:

له نواس بن سمعان رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ، وَالإِثْـمُ مَا حَاكَ فِي نَفْسِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ».
(صحيح مسلم، رقم-۲۵۵۳).

ژباړه: نیکي ښه اخلاق دي . او ګناه داسې ناآرامي او ناراحتي ده چې ستا په زړه کې مینځته راځي او دا نه خوښوي چې خلک له هغه څخه خبر شي .

او له وابصه بن معبد رضي الله عنه نه روایت دی چې وایي: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِوَابِصَةَ: «جِئْتَ تَسْأَلُ عَنِ الْبِرِّ وَالإِثْمِ؟» قَالَ: قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَجَمَعَ أَصَابِعَهُ فَضَرَبَ بِهَا صَدْرَهُ، وَقَالَ: «اسْتَفْتِ نَفْسَكَ، اسْتَفْتِ قَلْبَكَ يَا وَابِصَةُ ثَلَاثًا الْبِرُّ مَا اطْمَأَنَّتْ إِلَيْهِ النَّفْسُ، وَاطْمَأَنَّ إِلَيْهِ الْقَلْبُ، وَالإِثْمُ مَا حَاكَ فِي النَّفْسِ، وَتَرَدَّدَ فِي الصَّدْرِ، وَإِنْ أَفْتَاكَ النَّاسُ وَأَفْتَوْكَ» .
(سنن الدارمي رقم-۲۵۷۵).

د نبي علیه السلام خدمت ته راغلم نبي علیه السلام وفرمایل: راغلی یې چې د نیکي په اړه سوال وکړې ؟ ومې ویل : هو ، و یې فرمایل : د زړه څخه دي و پوښته ! نیکي داسې څه ده چې په هغه سره دي نفس او روح آرام او زړه دي آرام او مطمئن کیږي ،او ګناه داسې څیز دی چې ناآرامي او په سینه کې شک

او ترديد مينځته راولي، کچيري (جاهل) خلک ستا د زړه د احساس خلاف فتویٰ ورکړي ته په هغه فتویٰ اعتماد مه کوه.

تشريح: د «الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ» نيکي کول په خپل ذات کي ښه اخلاق دي او ښه اخلاق عبارت له: په معاملاتو کي انصاف او صداقت، د اهل عيال، خپلوانو، ګاونډيانو سره ښه سلوک، رحم او ښښنه او په مصيبتونو باندي صبر کول، په احکامو کي عدل، احسان او ټول هغه صفات چي په هغه باندي مؤمنان موصوف شوي دي حسن الخلق بلل کيږي. «وَالإِثْمُ مَا حَاكَ فِي نَفْسِكَ» مطلب دا چي هر هغه وينا او عمل چي زړه ورنه نفرت وکړي په زړه کي شک پيدا کړي ګناه ده او مرتکب يې دا نه خوښوي چي خلک ورباندي خبر شي.

والله اعلم.

شهرت طلبي او د هغې سزاء:

جندب رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللَّهُ بِهِ».

(صحيح البخاري رقم ٦٤٩٩).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هر څوک چي ځان په خلكو واوري الله پاک به يې دقيامت په ورځ په خلكو واوري، او څوک چي ځان خلكو ته ښكاره كړي الله پاک به يې دقيامت په ورځ خلكو ته ښكاره كړي.

تشريح: يعني څوک چي په خلكو كي د ځان مشهوره كول غواړي او خپل ږغ او نوم د شهرت لپاره په خلكو اوروي نو الله پاک به د قيامت په ورځ دى خلكو ته رسوا كړي او دده نوم به د قيامت په ورځ خلكو ته واوروي تر څو ټول خلك پدې باندي پوه سي چي دغه سړى په دنيا كي شهرت طلب وو، او څوک چي په دنيا كي خپل ځان او خپل اعمال په خلكو كي ښكاره كوي او د ريا لپاره كارونه كوي نو الله پاک به دى دقيامت په ورځ خلكو ته ښكاره كړي،

[الله تعالى دي مو د شهرت طلبى او رياكارى څخه وساتي].

د صبر کولو فضیلت:

یحیی بن یَعْمَر رضي الله عنه وايي چي عائشه رضي اللَّهُ عنها پوښتنه کړې وه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه «فَأَخبَرَهَا أَنَّهُ كَانَ عَذَاباً يَبْعَثُهُ اللَّه تعالى عَلَى مَنْ يَشَاء ، فَجَعَلَهُ اللَّهُ تعالَى رحْمةً لِلْمُؤْمِنِين، فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَقَعُ فِي الطَّاعُون فَيَمْكُثُ فِي بلَدِهِ صَابِراً مُحْتَسِباً يَعْلَمُ أَنَّهُ لاَ يُصِيبُهُ إِلاَّ مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ إِلاَّ كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ الشَّهِيدِ» .

(صحيح البخاري ، ص۵۴۰۲).

ژباړه : عایشه رضي الله عنها فرمايي چي : له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مي د طاعون په باره کي پوښتنه وکړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم بي بي عايشې رضي الله عنها ته خبر ورکړ چي طاعون يو عذاب دی چي الله جل جلاله به په چا وغوښتل نازلولو به يې، او الله جل جلاله دغه د مؤمنانو لپاره رحمت ګرځولي دی، پس هر بنده چې په يوه ځای کې اوسي طاعون ولګي دی په خپل ښار کې صبر وکړي او د الله جل جلاله څخه يې بدله وغواړي او په دې پوه شي چې يوازې هغه څه به ورته رسيږي چي الله جل جلاله ورته ليکلي دي، الله جل جلاله به ورته د شهيد اجر ورکړي.

تشريح : دا چي طاعون دنورو لپاره عذاب وو او د مؤمنانو لپاره رحمت دی او په يو ځاي کي چي طاعون ناروغي لګيږي هلته پاتي کيدل او صبر کول او دا چي

په تقدير ايمان لرل چي انسان ته به يوازي هغه څه رسيږي چي الله جل جلاله ورته په تقدير کې ليکلي وي د لوي اجر خبره ده.

د ګناه سره سره د دنيا نعمتونه او په عيش کي ژوند استدراج دی:

نن سبا د ډيرو کسان په ذهن کي دا پوښتنه ګرځي چي ولي يو کس نافرمانه وي لمونځ نه کوي د مال او دولت زکات نه ورکوي او نور په ډيرو ګناهونو لړلی وي او نور خلک د لويږي ، فخر له وجهي بې ځايه آزاروي ، سره له نافرمانی بيا هم الله تعالی د رزق لوی وسعت ورکړی وي او دا کس هم داسي ګمان کوي چي زه نو ډير ښه سړی يم او الله تعالی له ما څخه راضي دی ځکه يې دومره نعمتونه را کړي دي ، نو حقيقت کي دغسي نده داپوښتنه به په لاندي حديث شريف کي حل شي .

د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "إِذَا رَأَيْتَ اللَّهَ تَعَالَى يُعْطِي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْيَا مَا يُحِبُّ وَهُوَ مُقِيمٌ عَلَى مَعَاصِيهِ فَإِنَّمَا ذَلِكَ مِنْهُ اسْتِدْرَاجٌ". ثُمَّ تَلَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: {فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً فَإِذَا هُمْ مُبْلِسُونَ} .

(أخرجه أحمد رقم ١٧٣٤٩) .

ژباړه : د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي : هر کله تاسي ووینئ چي الله تعالی یوه بنده ته د ګناه او نافرماني سره ـ سره د دنیا نعمتونه مال ،دولت ، راحت او عزت ورکوي کوم چي هغه بنده یې غوښتونکی او طلبګار دی ، نو پوه شئ چئ هغه دده په حق کئ استدراج دی ، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت تلاوت کړ (فَلَمَّا نَسُوۡا مَاذُكِّرُوا بِه) آه الایه .

ژباړه : هر کله چي هغه خبري هیري کړي د کومو چي ورته نصیحت شوی وو نو مونږ په هغوی باندي د دنیا د ټولو نعمتونو دروازی خلاصوو تردې چي هغوی ددې نعمتونو په ورکړه باندي ښه مست شو او فخر یې وکړ نو مونږ یوځ دم هغوی پخپل عذاب کي سخت ونیول پس هغوی په حیراني او وارخطایي کي نا هیلي شول .

د سنتو د متابعت په باره کي د ټینګار وصیت:

له ابي نجیح العرباض بن ساریه رضي الله عنه نه روایت دی چي هغه وایي:
«وَعَظَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَوْعِظَةً وَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ، وَذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ كَأَنَّهَا مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ، فَأَوْصِنَا، قَالَ: أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ، وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ تَأَمَّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ فَسَيَرَى اخْتِلاَفاً كَثِيرًا، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ، عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الأُمُورِ، فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ، وَكُلَّ ضَلاَلَةٍ فِي النَّارِ»
(ابوداؤد، صـ۴۶۰۷).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته وعظ وکړ، داسي وعظ چي زړونه د هغه څخه وېرېدل، او سترګو د هغه څخه اوښکي وبهولې، نو ومو ویل: د الله رسوله! لکه چي دا دي د وداع وعظ دی نو مونږ ته وصیت وکړه، و یي فرمایل: تاسي ته د الله تعالی څخه وېره او د هغه امیر اطاعت چي پر تاسي مي مقرر کړی وي وصیت کوم، که څه هم یو غلام پر تاسي امیر شي، ځکه چي ستاسي څخه وروسته چي څوک پاتي کیږي نو وبه ویني ډیر اختلافات، پس تاسي ته زما په سنتو او د هدایت شویو خلفاء راشدینو په سنتو ټینګار کوم چي هغه په خپل عقلي غاښونو ټینګ ونیسئ او تاسي د نویو لارو څخه چي زما د سنتو او د خلفای راشدینو د سنتو خلاف وي منع کوم ځکه په دین

کې هر نوی شی (چي د قرآن وحديث او د خلفاء راشدينو د سنت خلاف وي) بدعت سيئه دی او هر بدعت سيئه ګمراهي ده او هره ګمراهي به په دوزخ کي وي.

تشريح: دا حديث شريف د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مهمو وصيتونو باندي شامل دی چي صحابه کرامو رضي الله عنهم او د هغو نه وروسته ټولو مسلمانانو لپاره دی او په دې کي د الله تعالى نه وېري کولو او د خپلو عادلو حاکمانو د اطاعت کولو او همدارنګه په سنتو باندي د منګولو نښلولو او د بدعاتو څخه پرهيز کولو وصيت شوی دی.

«مَوْعِظَةً وَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ، وَذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ» يعني داسي وعظ او بيان چي زړونه ورڅخه وېرېدل او ستر کو له ويري اوښکي وبهولې.

«وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ تَأَمَّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ» او د هغه امير اطاعت چه پر تاسه مه مقرر کړی وي وصيت کوم که څه هم يو غلام پر تاسي امير شي، او ځيني علماء وايي چي غلام امير کيدای نشي او دلته د مثال په توګه بيان شوی دی، په ديني مسائلو کي د فقهاء کرامو لارښونه او په شرعي امورو کي د اميرانو اطاعت پر مونږ الله تعالى واجب ګرځولی دی لقوله سبحانه وتعالى: {أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمْرِ مِنْكُمْ}.

[النساء: 59].

مګر که د امير امر د شريعت خلاف وي بيا يې اطاعت نشته.

«فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ »
سنت لاري او طريقې ته وايي ، يعني زما لاره او د خلفاء راشدينو چي هدايت كړ شوى ونيسئ او د خلفاء راشدينو څخه د امت اولني څلور خلفاء : ابوبكر صديق رضي الله عنه ، عمر فاروق رضي الله عنه ، عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه مراد دي .
«نوَاجِذِ»: د ژامي آخرني عقلي غاښونه ، چې د كلك نيولو كنايه ده .
« وَمُحْدَثَاتِ الأُمُورِ» : په دين كي داسي نوى پيدا شوي كارونه چي د شرعي خلاف وي .
«بِدْعَةٌ» : په لغت كي نوي پيدا شوي ته وايي چي پخوا يې مثل نه وي د اصول اربعه وو په خلاف وي او په اصطلاح كي د داسي شي پيدا كېدل چي په شريعت كي هيڅ حيثيت ونه لري.
«ضَلاَلَةٌ» : ګمراهي يعني د حق څخه لرېوالي ته وايي .

لمونځ د اسلام ستنه او جهاد يې لوړه څوکه ده :

له معاذ بن جبل رضي الله عنه نه روايت دی چي: و مي ويل ای د الله رسوله!، «أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ، وَيُبَاعِدُنِي عَنِ النَّارِ. قَالَ: لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ عَظِيمٍ، وَإِنَّهُ لَيَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ: تَعْبُدُ اللهَ لاَ تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ، وَتَحُجُّ الْبَيْتَ. ثُمَّ قَالَ: أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوَابِ الْخَيْرِ: الصَّوْمُ جُنَّةٌ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِىءُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِىءُ الْمَاءَ النَّارَ، وَصَلاَةُ الرَّجُلِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ. ثُمَّ تَلاَ: ﴿تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ﴾ [السجدة: 16]. حَتَّى بَلَغَ ﴿يَعْمَلُونَ﴾. ثُمَّ قَالَ: أَلاَ أُخْبِرُكَ بِرَأْسِ الأَمْرِ وَعَمُودُهُ وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ؟ قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ: رَأْسُ الأَمْرِ الإِسْلاَمُ، وَعَمُودُهُ الصَّلاَةُ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ. ثُمَّ قَالَ: أَلاَ أُخْبِرُكَ بِمَلاَكِ ذٰلِكَ كُلِّهِ؟. قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ. فَأَخَذَ بِلِسَانِهِ وَقَالَ: كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا. قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ، وَإِنَّا لَمُؤَاخَذُونَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهِ؟ فَقَالَ: ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ، وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَوْ قَالَ: عَلَى مَنَاخِرِهِمْ إِلاَّ حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ؟».

(سنن ترمذي، رقم ٢٦١٦).

ژباړه: له داسي عمل څخه مي خبر کړه چي ما جنت ته داخل کړي او له دوزخ څخه مي لري کړي، حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په حقيقت کي تا د ډير لوی شي پوښتنه وکړه او دا آسان دي د هغه کس لپاره چي هغه ته الله تعالی هغه کار آسان کړي (او دا عبارت دي له)، د الله تعالی بندګي

کوه او د هغه سره هیڅ شی مه شریکوه ، لمونځ ادا کوه ، زکات ورکوه ، د رمضان روژه نیسه ، د بیت الله حج وکړه . بیا یې وفرمایل : آیا تا د خیر له ټولو دروازو خبر نه کړم ؟ روژه سپر ده چې د روژه نیونکي حفاظت کوي ، او صدقه ګناهونه داسې محوه او له مینځه وړي لکه اوبه چې اور سړوي او د شپې په زړه کې د سړي د (تهجد) لمونځ ، او بیا یې دا آیت تلاوت کړ : ﴿تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ﴾ تر دې چې "یعملون" ته ورسید . بیا یې وفرمایل : آیا تا د ټولو کارونو د رأس ، ستني او لوړې څوکې څخه خبر نه کړم؟ و یې ویل : هو ، یا رسول الله ، ویې فرمایل : د ټولو کارونو سر اسلام دی ، او ستنه یې لمونځ دی او لوړه څوکه یې جهاد دی بیا یې وفرمایل : آیا تا د ټولو د آساس او بنسټ نه خبر نه کړم ؟ و مې ویل : هو ، یا رسول الله ! هغه خپله ژبه ونیوله او و وې فرمایل : دا وساته ! و مې ویل ای د الله پیغمبره ! ایا مونږ په هغه څه باندې پوښتل کیږو چې په دغه (ژبه) سره یې وایو ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : مور دې ستا په غم ازې کېني الله تعالی خلک په مخونو خپلو او یا دا چې ویې فرمایل : په پوزو خپلو سره د دوزخ په اور کې غورځوي ، مګر دا یوازې په بیهوده خبرو او د دوی د ژبو د کرلو په وجه .

تشریح: «لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ عَظِيمٍ ، وَإِنَّهُ لَيَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ» : د عظیم نه مطلب ستر عمل دی ځکه چې جنت ته داخلېدل او د دوزخ څخه

نجات ډیر ستر هدف دی او د همدې هدف لپاره الله تعالی کتابونه او رسولان نازل کړي دي.

مګر د ښو اعمالو تر سره کول هغو کسانو ته آسان دي چي الله تعالی توفيق ورکړي، کوم چي حق ته غاړه ږدي او د نفسي خواهيشاتو او د شيطان پيروي نه کوي او دغه اعمال عبارت دي: د اسلام له پنځه ارکان (توحيد، لمونځ سره له ټولو احکامو، زکات، د رمضان روژه او بيت الله شريف حج کول) څخه.

«أَبْوَابِ الْخَيْرِ»: نور نوافل لکه: روژه نيول چي صاحب يې په دنيا کي له ګناهونو نه ساتي او په آخرت کي د اور څخه ساتي، او صدقه چي ګناهونه داسي له مينځه وړي لکه او به چي اور له مينځه وړي، او د تهجد نفلي لمونځ چي په احاديثو کي يې زيات فضيلت ذکر شوی دی.

«وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ»: لوړه څوکه چي هغه جهاد دی او د جهاد د فضيلت په باره کي ابی هريرة رضي الله عنه روايت کوي چي: يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او وې ويل: ما ته داسي عمل را وښيه چي د جهاد سره برابر وي، و يې فرمايل: (لا أجده) ثم قال (هل تستطيع اذا خرج المجاهد أن تدخل مسجدک، فتقوم و لاتفتر و تصوم و لا تفطر ؟ فقال: و من يستطيع ذالک ؟ يعني: (داسي عمل نشته)، بيا يې وفرمايل: (آيا ته کولای شي چي کله مجاهد ووځي او ته دي خپل جومات ته لاړ شې او هلته د لمانځه لپاره ودريږې

او هيڅ دمه ونه کړي او روژه ونيسي او هيڅ يې ماتـه نـه کړي ؟) ويې ويـل : څوک به ددې توان ولري ؟ .

« مَلاَكِ ذَالِكَ كُلِّهِ » : معنى دا چي ددې ټولو مجموع ژبه ده ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د تأكيد لپاره خپله ژبه ونيوله چي دا وساته ، ځکه چي ډير ګناهونه د ژبي په وسيله تر سره کيږي .

په کومو شيانوکي چي شريعت سکوت کړی وي په هغه کي بحث مه کوئ:

له ابي ثعلبه الخشي جرثوم بن ناشر رضي الله عنه نـه روايت دی چي رسول اكرم صلى الله عليـه وسـلم فرمـايلي: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى فَرَضَ فَرَائِضَ فَلاَ تُضَيِّعُوهَا ، وَحَدَّ حُدُوداً فَلاَ تَعْتَدُوهَا ، وَحَرَّمَ أَشْيَاءَ فَلاَ تَنْتَهِكُوهَا ، وَسَكَتَ عَنْ أَشْيَاءَ رَحْمَةً لَكُمْ غَيْرَ نِسْيَانٍ فَلاَ تَبْحَثُوا عَنْهَا» .

(رواه دارقطنى ، رقم ـ ۴۳۵۰).

ژباړه : الله تعالى فرائض فرض کړي ، نو هغه مه ضايع کوئ ، او حدود او پولي يې ټاکلي په هغه پولو مه وراوړئ ، او ځيني شيزونه يې حرام کړي نو د هغو د حرمت احترام وکړئ ، او د ځيني نورو شيزونو په اړه يې سکوت کړی پر تاسي باندي د مهرباني له امله نه د هېرېدو له امله ، نو د هغو په باره کي پلټنه مه کوئ .

تشريح : دا حديث شريف هم د دين په سترو اصولو او احكامو شامل دی چي دا احكام څلور قسمه دي : فرائض ، حدود ، محارم او مسكوت . فرائض د فرض جمع ده . فرض په لغت كي په معنی د تعين كولو او اندازه كولو سره دی او په اصطلاح كي هغه كار او حكم دی چي قطعِ دليل سره ثابت شوی وي لكه پنځه وخته لمونځ كول او روژه د رمضان او نور . . .

د فرض حكم : په كولو يې ثواب او په نه كولو يې بې له عذره عذاب دی او د فرضو څخه انكار كفر دی او فرض په دوه قسمه دي :

فرض عين : هغه فرض دي چي په هر مكلف باندي لازم دي او ځينو كسانو په كولو سره د نورو له غاړي نه . نه ساقطيږي .

فرض كفايي : هغه فرض دي چي د ځينو كسانو په اداء كولو سره د نورو غاړه ور باندي خلاصيږي لكه: د جنازې لمونځ . . .

«الحدود» : حدود د حد جمع ده . حد په لغت كي منع ته وايي او په اصطلاح كي د الله تعالی هغه ټاكلي پولي دي د هغه ماتول حرام او په ماتولو يې شرعي سزا ټاكل شوې وي . الله سبحانه وتعالی فرمايي : ﴿تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا﴾ .

(البقره :۱۸۷) .

«وَحَرَّمَ أَشْيَاءَ» : حرام په لغت کي منع کړشوي او ناروا ته وايي او په اصطلاح کي حرام شيان هغه دي چي د شريعت په قاطع دليل سره يې حرمت ثابت شوی وي لکه : سود ، شراب ، زنا او داسي نور ...

«وَسَكَتَ عَنْ أَشْيَاءَ» : يعني شريعت چي په کومو شيانو کي سکوت کړی دی ، نو په هغه کي بحث کول پکار نه دي ، د المسکوت عنه ډولونه او پوره بيان لپاره د اصول فقه ته مراجعه وشي ځکه چي دا ډيره مهمه قاعده ده .

د دنيا د ډيرولو مينه د ټولو بدبختيو بنسټ دی:

له ابو عباس سهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دی چي: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: يَا رَسُولُ اللهِ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ أَحَبَّنِي اللهُ، وَأَحَبَّنِي النَّاسُ. فَقَالَ: ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللهُ، وَازْهَدْ فِيمَا عِنْدَ النَّاسِ يُحِبَّكَ النَّاسُ».

(سنن ابن ماجة رقم-٤١٠٢).

ژباړه : يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل : ای د الله رسوله ، ما ته د داسي کار لارښوونه وکړه چي په هغو باندي عمل وکړم تر څو ما الله تعالى خوښ کړي او خلک مي خوښ کړي . ويې فرمايل : زړه له دنيا سره مه تړه او له هغه څخه لرېوالی غوره کړه څو الله تعالى تا خوښ کړي ، او

هغه څه چي د خلکو سره دي بې رغبته شه او د هغو څخه لري اوسه تر څو خلک تا خوښ کړي .

تشريح: «الزهد» : زهد د هغه څه ترک کولو ته وايي چي په آخرت کي ګټه نه لري او يا زهد د حاجت څخه پرته د دنيا د طلب او د هغه رغبت ترک کولو ته وايي ، ځکه چي د دنيا سره مينه او محبت د ټولو ګناهونو بنسټ دی لکه په حديث شريف چې راغلي : «حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ(مرقاة رقم ٥٢١٣)» رسول الله صلى الله عليه وسلم د شرک نه وروسته د خپل امت په باره کي د دنيا سره د زيات محبت په وجه ويرېدلی دی او داسي يې فرمايلي دي : «إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ، أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ، وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا» .

(صحيح البخاري، رقم-١٣٤٤).

ژباړه: زه به د قيامت په ورځ ستاسو نه مخکي وم او پر تاسي به شاهد وم ، په الله تعالی قسم چي همدا اوس خپل حوض کوثر وينم ، او د ځمکي د ټولو خزانو کلياني ماته را کړ شوي دي ، زما وېره دا نه ده چي زما څخه به وروسته تاسي ټول مشرکان شئ بلکي ددې څخه وېرېږم چي تاسي به د مال په جمع کولو کي يو د بل سره سيالي کوئ .

همدارنګه په حديث شريف کي د آنحضرت صلی الله عليه وسلم څخه روايت دی : «مَنْ كَانَتْ الدُّنْيَا هَمَّهُ فَرَّقَ اللَّهُ عَلَيْهِ أَمْرَهُ، وَجَعَلَ فَقْرَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ، وَلَمْ يَأْتِهِ مِنْ الدُّنْيَا إِلَّا مَا كُتِبَ لَهُ، وَمَنْ كَانَتْ الْآخِرَةُ نِيَّتَهُ جَمَعَ اللَّهُ لَهُ أَمْرَهُ، وَجَعَلَ غِنَاهُ فِي قَلْبِهِ، وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ».

(سنن ابن ماجه، رقمـ ۴۱۰۵).

ژباړه: څوک چي د دنيا په خيال او غم کي وي ، الله تعالی د ده کار ده ته تيت کړي او د ده په سترګو کي به فقر ځای کړي او دی به بل څه په لاس را نه وړي مګر څه چي ده ته ليکل شوی وي او د هر چا چي نيت آخرت وي ، الله تعالی به د ده کار جوړ کړي او د هغه زړه به غني وګرځوي او دنيا به د ده طرف ته راځي ، ښکاره ده چي نن خلک د دنيا په جمع کولو کي څومره چالاک او سرګردانه دي چي هيڅ بس نه لري په هر ډول چي کيږي بايد مالداره او شتمن شي ، چي د رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې قول مصداق ګرځي چي فرمايي : الله جل جلاله فرمايي : مونږ مال او دارايي د لمونځ او زکات د ادا او قيام د پاره نازل کړل ، که انسان د مال او ثروت څخه يو ډکه دره هم ولري ، هغه ددې آرزو هم لري چي دويمه هم ولري او که د دوو درو لرونکی وي ددې آرزو لري چي دريمه هم ولري ، د انسان خيټه بغير له خاورو په بل څه نه ډکيږي (د انسان حرص او آرزو د مرګ بغير نه خيږي) پس الله تعالی د هر توبه کوونکی توبه قبلوي .

ځان او بل ته ضرر رسول حرام دي:

له ابي سعيد سعد بن مالك بن سنان خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ».
(سنن ابن ماجه، رقم ۲۳۴۰).

ژباړه: په اسلام کې خپل ځان او بل ته ضرر رسول حرام دي، یعني: مه خپل ځان ته ضرر رسوه او مه بل چا ته.

تشریح: دا حدیث شریف په دین کې یو ستر اصل دی، ځینې کسان داسې وي چې ځان ته د ضرر رسولو په وسیله د بل څخه ضرر دفع کوي، یعني نورو ته ضرر نه رسوي خو خپل ځان ته ضرر رسوي، او ځینې بیا د ځان د ګټې لپاره له خپل ځان څخه ضرر دفع کوي خو نورو ته ضرر رسوي چې دا دواړه حرام دي، «لَا ضَرَرَ»: خپل ځان ته ضرر رسول حرام دي، «وَلَا ضِرَارَ»: او بل چا ته ضرر رسول حرام دي.

دوه مخی سیاست:

ابي هريره رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«تَجِدُ مِنْ شَرِّ النَّاسِ يَوْمَ القِيَامَةِ عِنْدَ اللَّهِ ذَا الوَجْهَيْنِ، الَّذِي يَأْتِي هَؤُلاَءِ بِوَجْهٍ، وَهَؤُلاَءِ بِوَجْهٍ».

(صحيح البخاري، جـ٨ صـ١٨ رقمـ٦٠٥٨).

ژباړه: دا بو هريره رضي الله عنه روايت دی چي رسول اکرم ﷺ وفرمايل: بدترينه د خلکو د الله تعالى په نزد دقيامت په ورځ دوه مخی إنسان دی هغه چي دغه خلکو ته په يو مخ باندي راځي او هغه نورو ته په بل مخ.

تشريح: يعني چي دوه مخيزه سياست لوبوي، ځينو ته ځان په يوه بڼه ښکاره کوي او ځينو نورو ته بيا ځان په بله بڼه ښکاره کوي او دا خبره عامه ده که په اجتماعي سياست کي وي او که په انفرادي، ملګريتوب او يا د دژوند په نورو برخو کي.

په اسلام کې د قضاء بنسټ:

له ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «لَوْ يُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ، لادَّعَى رِجَالٌ أَمْوَالَ قَوْمٍ وَدِمَاءَهُمْ، لكِنِ الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي، وَالْيَمِينُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ».
(رواه البيهقي، جـ١٠ صـ٢٥٢).

ژباړه: که چیرې خلکو ته د دوی د إدعٰی کولو سره سم (پرته له تحقیق او حق ثابتولو) ورکول کېدای نو ځینو خلکو به د ځینو نورو د مالونو او وینو ادعا کړې وای، مګر دعوه کوونکی باید دلیل او ثبوت وړاندې کړي او انکار کوونکی باید قسم وخوري.

تشریح: دا حدیث د شرعي د احکامو د قواعدو څخه یو ستره قاعده ده چې: د هیڅ انسان وینا او ادعا د دلیل او تحقیق پرته نه قبلیږي، بلکې د مدعي د تصدیق لپاره به تحقیق او دلیل وړاندې کیږي، نو که څوک پر چا باندې ادعا وکړي د هغه مجرد ادعا کول د قبول وړ نه ده هغه به د خپلې ادعا د تصدیق لپاره دلیل وړاندې کوي چې عبارت له: شهادت، اقرار او قرائنو څخه دي او د انکار په صورت کې یمین دی.

د مؤمن سره د مرستي او پردې لويه بدله:

له ابي هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا، نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسَّرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَاللهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ، وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقاً يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْماً، سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهِ طَرِيقاً إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ، يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلاَّ نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ، وَحَفَّتْهُمُ الْمَلاَئِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ، وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ»

(رواه مسلم ٢٦٩٩).

ژباړه: څوک چي په دنيا کي د يو مسلمان نه غم او سختي لري کړي، الله تعالی به د قيامت په ورځ د هغه نه پريشاني او تکليف لري کړي، څوک چي د بې وسه او تنګ لاسي سره آساني او کومک وکړي الله تعالی به په دنيا او آخرت دواړو کي دده سره آساني وکړي، اوڅوک چه د مسلمان عيب پټ کړي الله تعالی به په دنيا اوآخرت دواړو کي د ده په عيبونو پرده واچوي، الله تعالی د خپل بنده سره تر هغه وخته مرسته کوي تر څو چه بنده د مسلمان ورور سره مرسته کوي، څوک چي هڅه کوي او د علم لاره لټوي، الله پاک به جنت ته د داخليدو اسباب ورته برابر کړي او هر ټولګی چي د قرآن کريم لوستلو او د

هغه زده کړي لپاره د الله تعالی د کورنو څخه په یو کور (جومات) کې را غونډ شي په هغوی باندې روحي او باطني ډاډګیرنه نازلیږي او د الله پاک مهرباني ور په برخه کیږي او د رحمت پر ښتې یې په شا او خوا کې دریږي او الله تعالی هغوی د هغو (په مجلس کې) چې له ده سره دي یادوي ، او څوک چې ښه عمل نه لري او له دې کبله وروسته پاتې وي نو د قبیلې او نسب په وسیله مخکې نشي تلای .

تشریح: دا حدیث د علومو ، قواعدو او آدابو او اسلامي اخلاقو یو جامع حدیث دی چې په دې کې د مسلمانانو د حوایجو او ضروریاتو پوره کولو ، مصلحت او نصیحت او نور فضیلت بیان شوی دی .

«كُرْبَةً» : سختي او غم هغه که د مال یا بدن او د ټولنیزو چارو وي .

« وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا » : او د ستر څخه د هغه څه پټول مراد دي چې په هغه کې خیر وي د شر او فساد سبب نه ګرځي ، مګر که څوک پخپل مسلمان ورور کې څه ګناه ووینې نو د هغه څخه به انکار کوي او هغه به ور څخه منع کوي کچیرې عاجز وو نو ولی الامر به ورباندې خبروي ، ځکه چې ګناه د فساد او هلاکت سبب کیږي .

او همدارنګه امام د هغو مسئولینو څخه خبرول چې د کار او مسئولیت اهلیت نلري ځکه دا په غیبت کې نه راځي بلکي دا یو واجب نصیحت دی ، مثلاً : یو سړی مو ولید چې په هغه کې څه عیب وو ، خو هغه په خپل عیب پیښمانه وي

او د اصلاح وړ وي نو د هغه دغه عيب پټول پکار دي ، مګر که يو سړي وي چې په ګناه اخته وي او يا پر چا باندې ظلم کوي نو د هغه پټول نه دي پکار بلکې ښکاره کول او بيانول يې هغو چا ته واجب دي څوک چې د اصلاح توان او صلاحيت لري ، مګر که داسي حالت وي چې سړی د پټولو او نه پټولو په خير او شر نه پوهيږي نو په دې صورت پټول غوره دي .

قول د «وَاللهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ» : يعني څو پوري چې بنده ايماناً د خپل ورور سره مرسته کوي ، الله تعالی له هغه سره مرسته کوي ، مګر دا مرسته کول مقيد دي په کار د خير نه په کار شر او ګناه ، لقوله سبحانه وتعالی : وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ) (المائدة: ٢) .

قول د: «وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقاً يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْماً ، سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهِ طَرِيقاً إِلَى الْجَنَّةِ» . اشاره ده خالص نيت ته يعني که څوک د الله تعالی د رضا لپاره او د دين د قيام لپاره د علم لاره غوره کړي ، الله تعالی به هغه ته د جنت لاره برابره کړي ، مګر که د دُنيوي مقصد لپاره وي نو هغه ددې مطلب نه لري وي .

قول د «وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ» : دليل دی په فضيلت د جمع کېدو په جوماتونو کې د قرآن کريم د تلاوت او تعليم د پاره ، د «وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ» څخه عام او خاص ټول مراد دي ، يعني : نبی صلی الله عليه وسلم عالمان او قاريان خاص نه کړل بلکې په عام ډول هر څوک چې جمع شي هغوی به دا مقام تر لاسه کوي او د «السَّكِينَةُ» :

څخه مراد رحمت دی او ځیني وایي «السَّكِينَةُ» څخه مراد اطمنان او وقار دی، د «وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ» او دوی به د الله تعالی رحمت او مهرباني داسې وپوښي لکه غشاء (پرده) او د «حَفَّتهم الملائكة» معنی دا ده چې د دوی څخه به ملائکي چاپیره شي او د شیطان د ورتللو لاره به بنده شي، قول د «وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ» : الله تعالی به هغوی د ملائکو په مجلس کي یادوي.

د ژوند د روابطو اصول :

له ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایل: «لَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ، وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا» وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ «بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ».

(صحیح مسلم جـ4 صـ1986).

ژباړه: تاسو یو بل سره حسد او کینه مه کوئ (ځکه چه حسد نیکي له منځه وړي) او یو بل ته په زیان اړولو کي سازش مه کوئ، او یو د بل سره بغض مه ساتئ او یو د بل نه مخ مه اړوئ او د یو بل په سودا کي مداخله مه کوئ (چه کله څه څیز اخلي او په تاسي کي څوک د هغه څیز د اخستلو خبري له تجار

سره شروع کړي وي، نو تر ټو پوري چې هغه خبره نه وي خلاصه کړې نو د هغه په سودا کي مداخله کول د اخلاقو خلاف کار دی).

د الله تعالی خالص بندګان پخپلو کي سره ورونه جوړ شئ، یا شئ ای ! د الله بنده ګانو ورورنه ، یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی ، نه به پرې ظلم کوي ، او نه به ورته په سپک نظر ګوري ، او نه به د دروا غو خبره پسي تړي ، او نه به يې رسوا کوي، تقوا دلته په زړه کي ده ، راوي وایي نبی کریم صلی الله علیه وسلم خپلي سینې ته درې ځله اشاره وکړه .

د مسلمان لپاره دا ډیره بده خبره ده چې دی خپل مسلمان ورور سپک وګڼي یو مسلمان ته د بل مسلمان وینه تویول ، د هغه مال خوړل او دهغه عزت له منځه وړل حرام دي .

تشریح: «لاَ تَحَاسَدُوا» : الحسد : د بل کس شخه د نعمت د زوال تمنی کولو ته وایي چې حرام دی په بل حدیث شریف راغلي : «ایاکم و الحسد فان الحسد یأکل الحسنات کما تأکل النار الحطب و الخشب» .

ژباړه : د حسد شخه ځانونه وساتئ ، ځکه چې حسد نیکۍ داسې له مینځه وړي لکه اور چې خس او خاشاک له مینځه وړي ، مګر غبطه باک نلري ، غبطه داسې چې د بل کس د نعمت تمنی ولري پرته له دې چې هغه شخه نوموړی نعمت واخیستل شي ، یا پرته دهغه شخه د نعمت له زوال شخه او حسد دا دی چې مسلمان ورور ته دې الله تعالی کوم نعمت ورکړی وي هغه بد

ګڼي هغه که د دنیا او یا آخرت نعمت وي ، برابره خبره ده که د زوال تمنی ولري یا نه ، حسد لره ډیر اضرار دي لکه : د الله تعالی د قضاء او قدر بد ګڼل ، او د خپل ورور سره دښمني رامینځته کېدل ، او حسد د حاسد په زړه کي مایوسي پیدا کوي چي بلاخره د الله تعالی د نعمتونو نا شکري کوي .

«وَلاَ تَنَاجَشُوا» : بل ته د زیان رسولو لاري جوړول هغه که هر قسم وي ، ځیني علماء وایي : چي مناجشه په نرخ کي زیادت او بي انصافی ته وایي ، داسي چي په هغه کي خرڅونکي ته ګټه وي خو اخیستونکی ته تاوان وي .

«وَلاَ تَبَاغَضُوا» : یو د بل څخه نفرت کول چي د میني او محبت ضد دی او داسي کول حرام دي ځکه چي الله تعالی مونږ ته فرمایي : (لایکره بعضکم بعضا)

«وَلاَ تَدَابَرُوا» : یو له بل څخه مخ مه اړوئ او یو د بل مخالفت مه کوئ .

«وَلاَ يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ» : یعني تاسي د خپل ورور په بیع کي مداخله مه کوئ تر هغه پوري چي معامله فیصله شي چي اخلي یا نه ، مثلاً یو کس یو جنس اخلي په ۱۰ افغانی بل کس په هغه کي مداخله کوي او وایي زه یې په ۱۱ افغانی او تر هغه زیات اخلم چي په دي سره بغض او عداوت را مینځته کیږي .

« وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَاناً» : شئ ای د الله تعالی بنده ګانو ! ورورنه ، یعني : د یو له بل سره الفت او محبت کوئ کینه او بغض مه کوئ یو بل ته ضرر مه رسوئ ، او بیا په تأکید سره وایي : «المسلم أخو المسلم» مسلمان د مسلمان ورور

دی یعني په اسلام کي د مسلمانانو تر مینځ د اسلامي ورورولی ټینګه ریشته ده . «لاَ يَظْلِمُهُ» . : یو پر بل تیری مه کوئ ، که په مال باندې وي ، بدن او یا عزت او آبرو بلندې وي . «وَلاَ يَخْذُلُهُ» : د خپل ورور سپکه به نه کوي «وَلاَ يَكْذِبُهُ» : په هغه باندې درواغ مه تړي ، داسې خبره به نه پرې تړې چې حقیقت نه لري ، «وَلاَ يَحْقِرُهُ» : هغه به نه سپکوي ، په هغه باندې به ټوکي او مسخرې نه کوي «التَّقْوَى ههُنَا» : یعنې د الله تعالی څخه د وېرې محل زړه دی کله چې په زړه کې ویره راشي د بدن په نورو جوارحو کې هم راځي ، او دری ځله یې خپلې مبارکې سینې طرف ته اشاره وکړه ، «بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ» یعنې : د مسلمان د پاره تر دې ستر شر نشته چې هغه حقیر شي او سپک وګڼل شي او وروسته زیاتوي : «كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ : دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ» : د هر مسلمان وینه ، مال او عزت او آبرو د بل مسلمان لپاره حرام دي یعنې : یو د بل په وینه ، مال او عزت به تیری نه کوي .

د الله تعالی محبت د خپل دوست سره :

ابوهريره رضي الله عنه له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه روايت کوي چي فرمايي: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ، وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُهُ عَلَيْهِ، وَلاَ يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ، فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا، وَلَئِنْ سَأَلَنِي لأُعْطِيَنَّهُ، وَلَئِنْ اسْتَعَاذَنِي لأُعِيذَنَّهُ».

(رواه البخاري رقم 6502).

ژباړه: الله سبحانه وتعالی په حديث قدسي کي فرمايي: څوک چي زما د دوست سره دُښمني کوي د هغه سره د جنګ اعلان کوم ، او زما بنده پر بل هيڅ شي ځيز باندي دومره ما ته نه نږدې کيږي لکه : په فرضو سره چي ما ته نږدې کيږي ، او هغه د نوافلو په ادا کولو سره ما ته نږدې کيږي تر څو ځه هغه خوښ کړم خپل دوست يې وګرځم ، کله يې چي زه خپل دوست وګرځوم نو زه د هغه سترګې شم چي ليدل ورباندي کوي ، غږونه يې شم چې اورېدل ورباندې کوي ، لاسونه يې شم چې نيول ورباندې کوي ، پښې يې شم چي تلل ورباندې کوي دا ټول اندامونه د خير په کار کي مشغول وي ، د ګناه او نافرمانۍ کار نه کوي او کله چې زما څخه څه وغواړي زه يې هغه ته ورکوم ، که له ما څخه پنا وغواړي پناه ورکوم .

تشريح: «إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ» : دا قدسي حديث دی څکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی جل جلاله څخه روایت کړی دی ، اَلْوَلِي (دوست) ضد د العدو (دښمن) دی او د الله تعالی دوستان مؤمنان ، متقیان او حقیقي صوفیه کرام دي لقوله سبحانه وتعالی : {أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ★ الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ } [يونس 62-63].

ژباړه :واورئ يقيناً د الله تعالی دوستانو لره نشته هیڅ قسم وېره او نه به دوی غمجن شي ، دغه دوستان هغه کسان دي چي دوی ایمان راوړی او دي متقیان . «آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ» : چا چې آزار او ازیت ورسولو د الله تعالی دوست ته نو الله تعالی د هغه پر وړاندې د جنګ اعلان کړی دی ، «وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُهُ عَلَيْهِ» : الله تعالی د نږدې والی غوره وسیله فرائض دي ، يعنې دوه رکعته فرض لمونځ تر دوه رکعته نفلو غوره دی ، فرضي حج تر نفلي حج غوره دی او فرضي روژه تر نفلي روژې غوره ده .

«عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ»: يعنې : د فرضو د ادا کولو وروسته د نوافلو په هميشوالی باندې بنده د الله تعالی محبوب جوړيږي ، «فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا، وَلَئِنْ سَأَلَنِي لأُعْطِيَنَّهُ، وَلَئِنْ اسْتَعَاذَنِي لأُعِيذَنَّهُ».

ددې تړلـو معـنی دا ده چـې کلـه يـو بنـده د الله تعـالی مجبـوب شـي بيـا د هغـه اندامونه لکه : غږونه ، سترګې ، لاسونه ، پښې تړل د خير پـه کارونـه کارول کيږي او الله تعالی پخپل فضل هغه له شر څخه ساتي ، او د هغه دعاء قبلوي او د هغه مدد کوي .

رښتيا ويل او صداقت :

حضرت ابن مسعود رضي الله عنه لـه رسـول اکـرم صلى الله عليـه وسلم نـه روايت کوي چي فرمايي:«إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ ، وَإِنَّ الرَّجُلَ ليصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ صِدِّيقا ، وإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الفجُورِ وَإِنَّ الفجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّار ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّاباً» .

(صحيح البخاري رقم 6094).

ژباړه : له عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دي چي : نـبي صلي الله عليـه وسـلم وفرمايـل: پـه تحقيـق سـره رښـتيا ويـل انسان نيکـي تـه رهنمايي کوي او نيکي کول انسان جنت تـه رهنمايي کـوي، پـه تحقيـق سـره انسان رښتيا وايـي تـر دې چـي د الله جل جلالـه پـه نـزد رښتيا ويـونکي او صديق وليکل شي، او دروغ ويل انسان ګناهونو او معاصيو ته رهنمايي کوي

او ګناهونه انسان دوزخ ته رهنمايي کوي، او په تحقيق سره انسان دروغ وايي تر دې چې د الله جل جلاله په نزد دروغ ويونکی او کذاب وليکل شي.

تشريح: رښتيا ويل ځومره لوي او قيمتي صفت دی، چې نبي عليه السلام جنت ته د تلو ذريعه بللې ده، او څوک چې رښتيا ويل خپل عادت وګرځوي بيا د اکثره ګناهونو نه ورته د نجات سبب جوړ شي او نيکيو په لور ورته لاري خلاصي شي چې همدا نيکي جنت ته د رسيدو ذريعه ده او په مقابل کې يې بد صفت چې اور ته رهنمايي کوي دروغ ويل دي چې انسان لومړي ګناهونو او بيا اور ته د رسيدو ذريعه جوړه شي.

غوره اسلام او کامل مسلمان:

جناب نبي کريم صلى الله عليه وسلم مونږ ته د غوره اسلام والا، يا کامل مسلمان داسې را پيژني: «عَنْ أَبِي مُوسَى رضي الله عنه قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الإِسْلامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ»».

(صحيح البخاري رقم 11).

ژباړه: له ابو موسى رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه وايي: صحابه کرامو وپوښتل: ای د الله رسوله! د چا اسلام د الله تعالى په نزد غوره دی؟ ويې فرمايل: د هغه چا اسلام غوره دی چې نور مسلمانان د ده د لاس او ژبې له ضرر څخه په امن وي.

بل حديث شريف کي فرمايي : عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ» .

(صحيح البخاري صـ10).

ژباړه: له عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي : مسلمان هغه دی چي د ده د لاس او ژبي له شر څخه نور مسلمان په امن وي ، او رښتنی مهاجر هغه دی چي هغه څه چي الله تعالی منع کړی وي هجرت وکړي يعني هغه شيان ترک کړي .

تشریح: دغه دواړو احاديثو کې جناب نبی کريم صلی الله علیه وسلم په ډير مختصر ډول د کامل مسلمان صفات ښودلي دي چي په دغو احاديثو باندي علماء کرامو رسالې او اوږده اوږده مطالب او وضاحتونه ليکلي دي ، د ژبي په خپل واک کي ساتل ډير مهم دي ځکه ډيري سختي او لويي لويي ګناوي د ژبي په وسيله تر سره کيږي لکه : غيبت ،بهتان ، دروغ ، د بل مسلمان تحقيرول ، بدګوي او فحشي خبري کول او داسي نور چي په دې ټولو اعمالو سره بل کس ته سخت ضرر رسيږي. د لاس ضرر : د بل کس وهل ، د بل کس مال په ناحقه خوړل لکه : غلا ، رشوت ، چل او فريب او داسي نور ، کله چي خلک ديو چا د لاس او ژبي له ضرر څخه په امن سو نو هغه کس د کامل اسلام څښتن شو ، ځکه ده د الله تعالی او د مخلوق د حقوقو درناوی وکړ او که څوک لمونځ کوي ،

روژه نيسي او نور عبادات تر سره کوي خو په لاس او ژبه نورو ته ضرر رسوي اسلام يې نيمګړی دی يا ناقص مسلمان دی .

د لا اله الا الله، وحده لا شريک له، له الملک وله الحمد ذکر:

ابي هريره رضي الله عنه له رسول اکرم صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چي فرمايي: «مَنْ قَالَ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ، كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ، وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ، وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذَلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ، وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ، إِلَّا أَحَدٌ عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ».

(صحيح البخاري رقم 3119).

ژباړه: ابي هريره رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : څوک چي د ورځي سل ځله (لا إِلَـهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) ووايي هغه ته به د لسو غلامانو د آزادولو ثواب رسي ، او د هغه لپاره به سل نيکۍ وليکل شي او د هغه نه به سل بدۍ يا کوچني ګناهونه پاک شي ، او په هغه ورځ به د شيطان څخه ساتل شوی وي او هيڅوک به د قيامت په ورځ د ده څخه غوره عمل پيش نه کړي مګر هغه کس چي د ده څخه يې زيات عمل کړی وي .

يادونه: كه په يو ځل ويل يې ګران وي د هر لمانځه وروسته لس ځله ويل هم صحي دي ځکه په يوه بل حديث كي د هر لمانځه وروسته لس ځله ذكر هم شوى دى.

په اسلام كي سختي او حرج نشته:

له عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول اكرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ لِي عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ، وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ».

(رواه ابن ماجه رقم 2045).

ژباړه: يقيناً الله تعالى تير شوى ماته زما د امت له خطاء، هيري او هغه څه چي په دوى باندي اجباري شوي وي (په غلطۍ، هېري او اجبار ګناه نشته).

تشريح: د الله سبحانه وتعالى پراخه رحمت دى چي بندګانو ته يې دري عذرونه معاف كړي دي لكه: خطاء داسي چي سړى قصداً د كوم كار مرتكب شوى نه وي بلكي په غلطۍ سره وي، په نسيان او هيري سره او په يو كس په زور د كوم حرام كار كول كوم چي هغه يې د دفع كولو توان ونه لري، نو دا دري واړه عذرونه بلل كيږي او په دې باندي ګناه نشته، په قرآنكريم كي دا دري واړه ذكر شوي دي: ﴿رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا﴾.

(البقرة آيت ۲۸۶).

لقوله سبحانه وتعالى : {وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُمْ بِهِ } (الاحزاب:٥)

لقوله سبحانه وتعالى : {إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ } (النحل:١٠٦) .

په دنيا کي د مسافر په شان ژوند تېرول:

عبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت کوي چي :«أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِمَنْكِبِي فَقَالَ: كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ ، وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ: إِذَا أَمْسَيْتَ فَلاَ تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ، وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلاَ تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ، وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ» .

(صحيح البخاري رقم 6416).

ژباړه : عبدالله ابن عمر رضي الله عنه وايي چي : رسول الله صلى الله عليه وسلم زه تر اوږه ونيولم او ويې فرمايل : په دنيا کي د مسافر او لاري تيريدونکي په شان ګزاره او ژوند کوه.

او عبدالله بن عمر رضي الله عنه به هميشه ويل: کله چي شپه شوه د سبا انتظار مه کوه او کله چي در باندي سبا شو د بيګا تمه مه کوه ، د صحت او جوړتيا په وخت کي دي د مرض د ورځو توښه واخله او په ژوند کي دي د مرګ لپاره توښه برابره کړه .

تشريح: د «غَرِيبٌ» نه مراد داسي کس دی چې د قرار او اوسيدو لپاره جوړ کړی ځای نلري د «عَابِرُ سَبِيل» نه مراد تلونکی دی چې هميشني استقرار او سکون نلري او عابر السبيل له غريب څخه کامل زهد بلل کيږي ځکه عابر السبيل ناست نه وي مګر غريب ناست وي خو غريب وي ،او ددې مثال څخه د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم مطلب د دنيا زهد دی يعني دا چې په دنيا به زړه نه بايلوئ ځکه چې په دنيا کې ژوند هميشنی نه دی بلکې د څو ورځو ژوند دی چې بقا نلري ، خوشحالي يې د غم سره يو ځای او آرام يې له مشقت سره يو ځای دی .

په خپل کور سلام کوه :

حضرت انس رضي الله عنه له رسول اکرم صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايي: «يَا بُنَيَّ ! إِذَا دَخَلْتَ عَلَي أَهْلِكَ , فَسَلِّمْ يَكُنْ بَرَكَةً عَلَيْكَ , وَعَلَي أَهْلِ بَيْتِكَ» .

(سنن الترمذي رقم 2698) .

ژباړه : انس رضي الله عنه وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل :ای زويه ! کله چې کورته ننوځې نو په کوروالو دې سلام اچوه ، چې په دې سره به الله تعالی تا ته هم برکت درکړي او په کور والو به دې هم برکت وکړي .

فوائد : خپلو ماشومانو ته نبوي سنت لاري او طريقې ښودل او د هغو ګټې په ساده توګه هغوی ته بيانول چي دهغوی د پوهي وړ وګرځي ، يعني که دا لاره خپله کړي ثواب به يې وي يا به الله تعالی برکت درکړي يا به جنت ته ځي او داسي نوري ، کور ته د ننوتلو په مهال په کور والو سلام اچول هغه که واړه وي او که غټ که نر وي که ښځي په ټولو سلام اچول ، سلام اچول ډير برکتي کار دی د سلام اچوونکي لپاره هم او پر هغه چا باندي هم چي سلام پر ي ولويږي ځکه په سلام اچولو کي دسلامتيا، رحمت او برکت دعاوي د دواړو لوريو لخوا نه پرته له کوم مادي موخې نه يوه بل ته وکړل شي.

خپل ماشومان د اوه کلنۍ بعد په لمانځه امر کړئ:

عبد الله بن عَمرو بن العاص رضي الله عنه له رسول اکرم صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چي فرمايي: «مُرُوا أَولاَدَكُمْ بِالصَّلَوةِوَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعٍ , وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ , وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ».
(سنن أبي داود رقم ـ ٤٩٥).

ژباړه : عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي :کله مو چي اولاد اووه کلن شي د لمانځه امر ورته کوئ ! اوکله چي لس کلن شي نو که لمونځ نه کوي وهئ يې ! او د شملاستلو ځايونه يې سره بيل کړئ !

تشریح : کله چي ماشومان او وه کلنۍ ته ورسیږي مور او پلار ته لازمه ده چي هغوی ته د لمانځه امر وکړي او کله چي لس کلني ته ورسیږي نو که بیا یې هم لمونځ نه کاوه باید تأدیبا ووهل شي او د اووه کلني و لس کلني تر منځ درې کاله راځي په یوه کال کي درې سوه شپیته ۳۶۰ شپې او ورځي دي او په ورځ او شپه کي پنځه لمنځونه دي نو په کال کي اتلس سوه ۱۸۰۰ لمونځونه شول او په دریو کلونو کي پنځه زره او څلورسوه ۵۴۰۰ لمونځونه راځي . کله چي یو ماشوم ته د دریو کلونو په دوران کي پنځه زره او څلورسوه ځله وویل شي چي لمونځ وکړه ! لمونځ وکړه ! او دی بیا هم لمونځ نه کوي او لس کلني ته یې عمر هم رسیدلی وي نو بیا د لمانځه په نه کولو هغه ته د ادب ور ښوولو په موخه دهغه وهل په کار دي ، سړیتوب ته په لاره کي په ماشوم باندي درې مرحلې راځي اووه کلنی ، لس کلنی ، پنځلس کلنی ، په لومړی مرحله کي په ماشوم کي دعقل نښي نښانې څرګندي شي او په دویمه کي په ښه او بد پوه شي او له دریمي وروسته سړی شي او شرعاً مکلف شي نو په دویمه مرحله کي په خپل خیر اوشر پوهه شی او په داسی حالت کی چی بیا هم دی دلمانځه په څیر په لوی خیر کي سستي کوي نو تأدیبا یې وهل په کار دي او د لس کلنی مرحله د ماشوم د پوره پوهي مرحله وي او د ژوند په ډیرو چارو پوه شي نو دا مهال باید دهغه هر حرکت او هرکار ته مور او پلار ځیر او متوجه وي او دهغوی د ښې روزني

لپاره باید د هغوی پر مخ د ټولو فسادونو لاري وتړي نو په دې لاره کي مهمه خبره دا هم ده چي د هغوی د خوب ځایونه سره بیل کړي .

د ظلم څخه ځان وساتئ:

حضرت جابر رضي الله عنه له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چي فرمایي: «اتَّقُوا الظُّلْمَ، فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَاتَّقُوا الشُّحَّ، فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ» .

(صحیح مسلم جـ4صـ1996).

ژباړه : حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :د ظلم نه ډډه وکړئ ! ځکه چه ظلم د قیامت په ورځ د تیارو باعث وي ، أو د بخل نه ځان وساتئ ځکه چي بخل هغه خلګ تباه کړل کوم چي ستاسو نه مخکي وو ، دغه بخل دوي په دې باعث کړل چي د خپلو هم جنسو وینه یې توی کړه او حرام چیزونه یې حلال وګڼړل .

تشریح : شُح د مال سخت محبت ته وایې ، کله چي د انسان په زړه کي د دنیا او د دنیا د مال او اسبابو محبت د حد نه تجاوز وکړي نو بیا انسان د حلال او حرامو تر منځ تمیز نه کوي او د نورو انسانانو د وینې تویولو نه هم ډډه نه

کوي لکه نن زمونږ د معاشرې همدا حال دی او دا حالت ددې خبرې علامه وي چه د دې معاشرې د بقاء ضمانت نشته.

د غمځپلي انسان لپاره دعاء!

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د غمځپلي انسان لپاره دعاء داده (چې غمونو کړولی وي نو په دغه دعاء یې الله جل جلاله غمونه لیرې کوي):

«اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو، فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ، وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ».

(سنن أبي داود جـ4صـ324)

ژباړه: یا الله (جل جلاله) ځه بس همدا ستا د رحمت امید لرم نو ما د سترګو د رپ په اندازه هم و خپل ځان (نفس) ته مه پرېږده (بلکه همېشه زما سره مرسته کوه) او زما ټوله کارونه او حالات را اصلاح کړې، بېله تا څخه بل معبود نشته.

د سخاوت تر ټولو ستر معيار:

ابي هريره رضي الله عنه وايي: چي نبي اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَبًا، لَسَرَّنِي أَنْ لاَ تَمُرَّ عَلَيَّ ثَلاَثُ لَيَالٍ وَعِنْدِي مِنْهُ شَيْءٌ، إِلَّا شَيْئًا أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ».

(صحيح البخاري جـ8صـ95).

ژباړه: که زما سره د احد د غره په اندازه سره زر وي نو دا به مي خوښه نه وي چي پر دې زرو درې شپې تيري سي او زما سره ددې زرو څخه يو شی پاته وي، بلکي ټول به مي صدقه کړی وای مګر صرف دومره چي په هغه سره قرض ادا کړم.

مسکين تش لاس نه ليږل:

حضرت بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي: چي رسول الله صلی الله عليه وسلم را ته وويل: يا عائشه! مسکين د يو شي ورکولو پرته مه ځوابوه، که څه هم يوه ټوټه خرما وي وريې کړه. بيايې وفرمايل: يا عائشې! د مسکينانو سره محبت کوه يعني د مسکينانو سره د زړه محبت ساته او هغه خپل ځان ته نږدې کوه، ولي چي د قيامت په ورځ به الله جل جلاله تا خپل ځان ته نږدې کړي.

(مشکوة المصابيح ۴۴۷).

تشریح: بي بي عائشه رضي الله عنها ته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چي اې عائشې رضي الله عنها! ګوره چي یو مسکین له خپلې دروازې څخه ناامیده و نه لیږې، بلکي د هغه سره په هر حالت کي احسان او حسن سلوک کوه، که څه هم هغه ته یوه ټوټه خرما ورکړه او په خپل زړه کي د مسکینانو محبت ساته او هغه خپلو محفلونو او مجلسونو ته داخلوه او نږدې کوه، یعني هغه د حقیر او کمتر ګڼلو په سبب له خپلې دروازې څخه مه منع کوه، نو که ته داسي کوې نو الله جل جلاله به دي د قیامت په ورځ په خپل قربت سره ونازوي، ځکه د فقیرانو او مسکینانو سره محبت او همدردي الله جل جلاله ته د نږدېوالي تر لاسه کولو ذریعه ده.

د پنده څخه ډکې خبرې:

أبي ذر رضي الله عنه وایي: چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: «لَا عَقْلَ كَالتَّدْبِيرِ، وَلَا وَرَعَ كَالْكَفِّ، وَلَا حَسَبَ كَحُسْنِ الْخُلُقِ».

(سنن ابن ماجه جـ2 صـ1410).

ژباړه: ابو ذر رضي الله عنه فرمایي چي: رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هیڅ عقل داسي ندی لکه د پلان جوړولو او تدبیر جوړولو عقل او هیڅه تقوی داسي نده لکه د ګناهونو څخه د ځان ساتل او هیڅ شرف او مرتبه داسي نده لکه ښه او نیک اخلاق.

تشريح: يعني د پلان جوړول ډېر معقول او مؤثر کار دی په ځينو احاديثو کې د رضي الله لفظ هم ورسره راغلی دی يعني د الله تعالی د خوشالولو په لاره کې پلان جوړول، خو هدف ور څخه يوشی دی هغه دا چې د هر ښه کار په کولو کې چې د الله پاک د رضايت سبب ګرځي پلان جوړول ډېر مهم دي بې پلانه چې هر څومره د قوي عقل په مټ جوړ سي دومره نتيجه نه ورکوي لکه په پلان باندې چې جوړ سي، او بله خبره دا ده چې تر ټولو مهمه تقوی او پرهيزګاري داده چې انسان ځان د ګناهونو څخه وساتي (د الله پاک اوامر پر ځای کړي او د منهياتو څخه يې ځان وساتي) په نفلو باندې د انسان څخه متقي او پرهيزګار نه جوړېږي تر څو چې فرائض پر ځای نکړي او منهياتو څخه ځان ونه ساتي او بله خبره لا دا چې تر ټولو لوړه او ښه مرتبه او عظيم عزت او شرافت دادی چې انسان ښه او نيک اسلامي اخلاق ولري، نيک اخلاق د انسان لپاره عزت او د عزت سبب دی.

صدقه د مسلمان لپاره د قيامت په ورځ سايه ده:

عقبة بن عامر الجُهني رضي الله عنه وايي: چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم و فرمايل: «ظِلُّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهُ».

(شرح مشکل الآثار للامام الطحاوي رقم 3836).

ژباړه: عقبه بن عامر جهني رضي الله عنه وايي چي: رسول اکرم ﷺ وفرمایل : د مسلمان لپاره سایه د قیامت په ورځ کي دده صدقه ده.

تشریح : یعني څوک چي په دنیا کي صدقه ورکړي او د خلکو سره احسان وکړي نو د قیامت په ورځ کي به دغه دده صدقه دده لپاره سایه شي په داسي حال کي چي پدې ورځ کي إنسان سایې ته ډیره اړتیا لري ځکه پدې ورځ کي ډیره سخته ګرمي وي، داچي صدقه به یې څنګه سایه وي؟ پدې هکله ملاعلي قاري رحمه الله په خپل کتاب "مرقات صـ۱۹۲۵" کي : لیکلي : الله پاک به یې د صدقې ثواب ورته سایه کړي او یابه یې صدقه خپله سایه کړي او کله کله ور څخه مراد هغه صدقه کیږي چي په دنیا کي حقیقي سایه ولري لکه خیمه او داسي نور...

دنسب تبديلول حرام دي:

ابي ذر رضي الله عنه وايي چي له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه مې واوریدل چي فرمایل یې: «لَيْسَ مِنْ رَجُلٍ ادَّعَى لِغَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُهُ إِلَّا كَفَرَ، وَمَنِ ادَّعَى قَوْمًا لَيْسَ لَهُ فِيهِمْ، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ»

(صحيح البخاري جـ4 صـ180 رقمـ3508).

ژباړه: دا ابوذر رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی: چي ده درسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل: چي ویې فرمایل: نه دی هغه څوک چي د خپل پلار نه بغیر د بل چا دعوه وکړي په داسي حال کي چي ی هم پوهیږي ،(چي پلار یې څوک دی) مګر دا چي دی پدې باندي د اسلامه وځي او هر څوک چي دیوې قومی دعوه وکړي په داسي حال کي چي دی د هغې قومی څخه نوي ، مګر دا چي ځانته دي ځای په اور کي وټاکي.

تشریح: یعني دخپل نسب بدلول او هغه ته تغیر ورکول حرام دي، کوم څوک چي خپل نسب ته تغیر ورکوي او بیا هغه ځانته روا هم بولي نو دی په دې سره کافر کیږي او که یې روا نه بولي بیاېي هم کوي، نو بیا کافر کیږي نه خو ډیر سخت ګناهکار دی ، ځکه چي دیوې خوایې کفران د الله تعالی دنعمت کړی دی، او بل یې داسي کار کړی دی ، چي هغه د کفر کار دی نه د اسلام ، همدا راز چي څوک ځان په یوې قومی پوري تړي پداسي حال کي چي دی د هغې قومی څخه نه وي نو دغه سړی دې ځانته په جهنم کي ځای وټاکي.

دعلماؤ توهين او سپکاوی کفر دی:

عبادة بن الصامت رضي الله عنه وايي چي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : «لَيْسَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ لَمْ يُجِلَّ كَبِيرَنَا ، وَيَرْحَمْ صَغِيرَنَا ، وَيَعْرِفْ لِعَالِمِنَا حَقَّهُ» {رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ ، وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ} .

(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد جـ1 صـ127/ المستدرک على الصحيحين رقمـ421).

ژباړه: دعبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زما د امت څخه ندی هغه څوک چي زموږ دمشر احترام ونکړي، او زموږ پر کشرانو باندی شفقت ونکړي او زموږ د عالم حق ونه پيژني.

دعلماؤ دحق پيژندل دادي چي بايد دعلماؤ احترام وکړي هر هغه مرتبه اوحق چي الله پاک ورته ورکړی وي هغه ورته ورکړي او په ديني امورو کي يې اطاعت وکړي، پدې شرط چي پر معصيت باندي يې امر نکړي.

مسائل:

1. د علماؤ اهانت د دوی د علم په خاطر کفر دی.

«اِلاسْتِهْزَاءُ بِالْعِلْمِ وَالْعُلَمَاءِ كُفْرٌ».

(الأشباه والنظائر لابن نجيم (صـ160).

ژباړه: په علم او علماؤ باندي ملنډي وهل کفر دی.

.2 که چا عالم ته " عویلم " وویل او یا یې علوي (سید) تـه علیـوي وویـل او قصد دده سپکاوی وو نو دی پدې سره کافر سو .

«وَمَنْ قَالَ لِلْعَالِمِ عُوَيْلِمٌ أَوْ لِعَلَوِيٍّ عُلَيْوِيٌّ قَاصِدًا بِهِ الِاسْتِخْفَافَ كَفَرَ».

(مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر "باب استخفاف العلم" جـ1صـ695).

.3 که چیري یې د عالم او سید خولې تـه ښکنځل وکـړه نـو کافر کیـږي او پـه اجماع ښځه په ثلاثاً پر طلاقه ده .

«وَلَوْ شَتَمَ فَمَ عَالِمٍ فَقِيهٍ أَوْ عَلَوِيٍّ يُكَفَّرُ وَتَطْلُقُ امْرَأَتُهُ ثَلَاثًا إِجْمَاعًا».

(مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر جـ1صـ695).

.4 او داغه رقم چي څوک دیو ښوونکي عالـم چـم کـوي نـولرګی پـه لاس کـي را واخلي هلکان په وهي هم کافر کیږي.

«وَكَذَا مَنْ تَشَبَّهَ بِالْمُعَلِّمِ عَلَى وَجْهِ السُّخْرِيَةِ وَأَخَذَ الْخَشَبَةَ وَيَضْرِبُ الصِّبْيَانَ كَفَرَ».

(مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر جـ1صـ695).

.5 دا شان که چا یو فقیه عالم ته په داسي حال کـي چـي هغـه یـوه علمـي خبره کول، او یا یې یو صحیح حدیث راویت کوی، وویل : داخو هیڅ شی نـدی ، یـا یـې وویل: داخبره د هیڅ شي لپاره پـه درد نـه خـوري ، مناسبه داده چي ده پیسـو خبره دي وسي ځکه اوس خو عزت او احترم د پیسو لپـاره وي نـه دعلـم لپـاره، نو دغه سړی پدې خبره باندي کافر سو .

«مَنْ قَالَ لِفَقِيهٍ يَذْكُرُ شَيْئًا مِنَ الْعِلْمِ أَوْ يَرْوِي حَدِيثًا صَحِيحًا هَذَا لَيْسَ بِشَيْءٍ أَوْ قَالَ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْلُحُ هَذَا الْكَلَامُ يَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ الدِّرْهَمُ لِأَنَّ الْعِزَّةَ وَالْحُرْمَةَ الْيَوْمَ لِلدِّرْهَمِ لَا لِلْعِلْمِ كَفَرَ»

(مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر جـ1صـ695).

.6 دغه رقم كه يو سړي وويل: پېسي ښه دي علم څه پكار دى، ياپې وويل علم په كاسه مات سو نودا سړى په دې باندې كافر شو.

«وَلَوْ قَالَ رَجُلٌ " دِرْهَمٌ بايد عِلْم بجيه كَارِ آير "أَوْ قَالَ" عِلْمٌ بكاسه اندر شكست "كَفَرَ».

(مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر جـ1صـ695).

.7 دغه شان كه دوو نفرو جنجال سره وكى، نو يوه هغه بل ته وويل: راځه ځو وعالم ته او وشريعت ته. نو هغه بل وويل: زه په علم څه كوم؟ نو دا سړى پدې باندې كافر كيږي.

«إِذَا تَخَاصَمَ رَجُلَانِ فَقَالَ أَحَدُهُمَا تَعَالَى حَتَّى نَذْهَبَ إِلَى الْعَالِمِ أَوْ إِلَى الشَّرْعِ فَقَالَ الْآخَرُ " مِنْ عِلْم جه دانم " يَكْفُرُ».

(مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر جـ1صـ696).

.8كه څوک د علم د مجلس څخه راغی نو بل چا وویل: دا سړی د معبد څخه دیهودو راغی، نو دی په دې خبره کافر سو .

«وَمَنْ رَجَعَ مِنْ مَجْلِسِ الْعِلْمِ فَقَالَ الْآخَرُ رَجَعَ هَذَا مِنْ الْكَنِيسَةِ كَفَرَ».
(مخکنی مرجع).

.9او هم داسې په دې خبره کافر کیږي چي دی ووايي: تر علم خو یوه کاسه ريزه ډوډی لا ښه ده.

«وَيَكْفُرُ بِقَوْلِهِ قَصْعَةُ ثَرِيدٍ خَيْرٌ مِنْ الْعِلْمِ». (مخکنی مرجع).

.10 او په دې هم کافر کیږي چي دی ووايي: ناپوهي تر علم ښه ده ، یا ووايي: ناپوه سړی تر عالم ښه دی، یا ووايي: متقي ناپوه تر فاسق عالم ښه دی.

«وَبِقَوْلِهِ الْجَهْلُ خَيْرٌ مِنْ الْعِلْمِ وَبِقَوْلِهِ الْجَاهِلُ خَيْرٌ مِنْ الْعَالِمِ وَبِقَوْلِهِ زَاهِدٌ جَاهِلٌ خَيْرٌ مِنْ عَالِمٍ فَاسِقٍ».
(مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر جـ1صـ696).

تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ﴿١٩٦﴾

له جهنم نه د ځان ساتني خويونه:

رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: درونډ، نرم ، اساني خوښوونکی ، له خلکو سره مرسته کوونکی سړی، او هغه چي خلکو ته ورنږدې وي؛ په اور"جهنم" باندي حرام دی یعنی جهنم ته به داخل نسي .

«حُرِّمَ عَلَى النَّارِ كُلُّ هَيِّنٍ لَيِّنٍ سَهْلٍ قَرِيبٍ مِنَ النَّاسِ».

(مسند أحمد جـ7صـ52 / والترمذي رقمـ2488).

تشريح: امام عبدالرؤف مناوي رحمه الله د دې حدیث په شرحه کې وای :

هيّن: یعني درونډ او وقار لرونکی انسان.

ليّن: دسختي ضد یعني نرم انسان.

سَهْل: یعني د خلکو اړتیاوې پوره کوي د الله تعالی امرونه مني او له حرامو کارونو لري وي.

قريب إلى الناس: یعني بې تکلفه وي، په خلکو تکبر نه کوي له هر چا سره ناسته ولاړه لري که غریب وي که بډا وي...

وأسأل الله أن ينفعني بذلك، وينفع به جميع المسلمين؛ فإنه على كل شيء قدير، وبالإجابة جدير وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين.

تقاريض او تصديقات:

«تقريض»

الماهر الذهين والمفتي النبيل بدر العلماء شيخ القرآن والحديث مفتي ضياء الرحمٰن ابو شمس حفظه الله تعالى.

بسم الله الرحمٰن الرحيم الحمد لاهله والصلاة على اهلها وبعد!

د محترم قاري مولوي حكيم الله صاحب رساله مي اکثره حصه تر نظر تيره سوه الحمدلله زياته ګټوره او مفيده رساله ده، او پر ډير لعل او جواهر مشتمله رساله ده. الله جل جلاله دې قبوله او منظوره او د مسلمانانو لپاره نفع منده وګرځوي. اومحترم مصنف صاحب ته دي خدای تعالی د زيات خدمت توفيق ورنصيب کړي.

لاشئ ضياء الرحمٰن ابو شمس عفى عنه ووالديه واساتذه.


بسم الله الرحمن الرحيم
الحمد لاهله والصلوة على أهلها وبعد
د محترم قاري مولوي حكيم الله صاحب رساله مي اكثره حصه تر نظر
تيره سوه الحمد لله زياته ګټوره او مفيده رساله ده
او پر ډير لعل او جواهر مشتمل رساله ده - الله ج دي قبوله او منظوره
او د مسلمانانو لپاره نفع منده وګرزوي
او محترم مصنف صاحب ته دي خداي ج د زياة خدمت توفيق ورنصيب
كړي —
— لاشئ ضياء الرحمن ابو الشمس عفي عنه ووالديه واساتذه —
تاريخ ٩ ربيع الاول - ١٤٣٨ —

«تقریض»

مجمع البحرین الشریعت والطریقت صاحب النور والسرور سید عبدالصمد اغا عرف اغا جان صاحب(دامت برکاتهم العالیه).

بسم الله الرحمٰن الرحیم حامداً ومصلیاً.

د محترم المقام مولوي حکیم الله صاحب مبارک رساله محمدي ملغلري طبق داهل طریقت لپاره نهایت مفید او خیر باقي رساله ده الله جل جلاله دې سبب د خیر وګرځوي.

سید عبدالصمد اغا عرف اغاجان صاحب.


بسم الله الرحمٰن الرحیم حامداً و مصلیاً حکیم الله
د محترم المقام مولوی عبد الحکیم صاحب
مبارک رساله محمدی ملغلری د طبق
طریقت نهایت مفید او خیر باقی رساله ده
الله جل جلاله دی سبب د خیر وګرزوی الباقی عند اللقاء
السلام او دعا او خیر سید عبد الصمد اغا عرف اغاجان صاحب

«تقريض»

بحر الفنون الاصلية والفرعية صاحب النور والسرور الشيخ معين الدين (عرف مافان اخندزاده صاحب) حفظه الله تعالى.

هذا كتاب ما رئيتُ له الى الآن نظيرا يجعل الطلبأ في مهمات المسائل مغنين عن تصفح المطولات وينجيهم عن الجهل بذكر المسائل والمعلومات.

{والفقير المسكين معين الدين يقول ما قال}.


هذا كتاب ما رئيت له الى الآن نظيرا
يجعل الطلبا فى مهمات المسائل مغنين عن تصفح
المطولات و ينجيهم عن الجهل بذكر المسائل والمعلومات
والفقير المسكين معين الدين
يقول ما قال

«تقريض»

مجمع البحرين الشريعت والطريقت بحر العلوم الاصليه والفرعيه استاذي وسندي خليفه مطلق شيخ القرآن والحديث الحاج قاري غلام رسول {البرهاني} دامت بركاتهم العاليه.

الحمد لمن له البقاء والقدم ولما عداه الفناء والعدم والصلاة والسلام على سيد العرب والعجم اما بعد فهذه رسالة وجيزة فرائدها غالية وكافية لمن يطلب الاقتصار في المطلوب ويعتقد التقليد الاسرار في العلوم والمعارف.

نسئل الله ان يتقبل الله سعي مصنفه وسعي جميع خدام الشريعة والطريقة. (**غلام رسول عفى عنه ولوالديه**).


الحمد لمن له البقا و القدم و لما عداه
الفنا و العدم و الصلوة و السلام على
سيد العرب و العجم اما بعد فهذه
رسالة وجيزة فرائدها غالية وكافية
لمن يطلب الاقتصار في المطلوب ويعتقد
و يعتقد التقليد و الاسرار في العلوم
و المعارف نسئل الله ان يتقبل الله
سعيه و سعي جميع خدام الشريعت
و الطريقت غلام رسول عفى عنه ولوالديه

د قدر وړ خوږو لوستونکو ته د صدقه جاریه خبرداري!

ستاسي هرډول همکاري زموږ دنورو اثارو دخپرولو او چاپولو په موخه دامت مسلمه لپاره چوپړ زموږ لپاره نه هیریدونکی ویاړ اوستاسولپاره داخرت توشه ده.

ستاسي د اسلام ورور

ستاسي د دعاء محتاج :

أبوالزین حکیم الله صابر الحنفي

پای